شپږم کال پنځمه ګڼه، پرلپسې ۳۷ ګڼه، صفر - ربیع الاول ۱۴۳۴هق، جنوري ۲۰۱۳م

شهامت

دامریکایي عسکروراتلونکی به افغانستان کې دیوېرووونکو یادونو شاهد وي

پر " مالي " یرغل د څه لپاره ؟

نور څه ډول مصونیت !!!؟

جنګي ګټبنتونوامریکا ځملوله ! !

په عربو کې (محمد) لومړی نوم ! !

مناقشهٔ شبهاتی درمورد مشارکت در دیموکراسی و پاسخ به آن

دمذاکراتو دبهیر چټکتیا د څه لپاره ؟

حملات علیه ارگان جاسوسی دشمن انتقام از وحشی گری است

ځو شیبې دکندهار له مجاهدینو سره ..

غزل

عبدالعلي " تسل "

داچې ننګونه کاندونګ پیژنو
اوریکي نه یود حق جنګ پیژنو

دخدای په لاره کې یې نه سپموو
کاڼې اولور، تبر، کولنګ پیژنو

بوی دباړودو کې ثواب لټوو
هیره دې نه وي چې لونګ پیژنو

مونږه دمینې باب ترپایه لوستی
دبنګړو کړس دراکټ کړنګ پیژنو

لاسپوځي نه یومجبوري ده ګرانه
ګنې له ټولې دنیاځنګ پیژنو

چې مودمینې له ګودره لاړل
هاچنارونه رنګ اوبنګ پیژنو

دانقلاب څپو ته څیر خلک یو
خودبه سپین زړی اوبدرنګ پیژنو

ورسره لوظ دوفامو کړی
مورد سپیڅلووینورنګ پیژنو

چې دزمریومشبه یادیږو
څکه منزغری اوکړنګ پیژنو

داتې ځای مودسنګرغولی ده
دډاله ډنګ دتورې شرنګ پیژنو

چاشین ډالراوچاسنګرغوره کړ
ډالرخورپیژنوملنګ پیژنو

دلته چازړه اوچااورمیږ وبایلل
تاتارهالبروک ټهاراورنګ پیژنو

(تسله) موږیودنړۍ ماهران
هرسړی نه وهوخشنګ پیژنو

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

شپږم کال پنځمه ګڼه، پرلپسې 37 ګڼه،صفر – ربیع الاول 1434هق، جنوري 2013 م

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :
ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني" لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی" عابد مجاهد

بیــه :

یوه ګڼه 20 **افغانۍ او** 30
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :
زرملوال او حقمل

یــادونــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت
په غاړه نه اخلي

لـړلیـک

ګڼه	عـــنـــوان	مـــخ
1	سرلیکنه	1
2	په عربو کې (محمد) لومړی نوم	3
3	دمذاکراتو دبهیر چټکتیا دڅه لپاره	5
4	پرمالي دلویدیځ پرغل دڅه لپاره ؟	8
5	نور څه ډول مصؤنیت	12
6	حملات علیه ارګان جاسوسي دشمن ، انتقام از	15
7	دحدیث شریف دتدوین تاریخ	17
8	دجدی ۲۸ مه دروحانیت پر خلانده ډیوو دکمونستي	22
9	څو شېبې دکندهار له مجاهدینو سره	27
10	په تېر ۲۰۱۲ کال کې دملکي تلفاتو مستند ارقام	33
11	که یو عسکر هم پاته و	39
12	ګلورینې پاڼې	42
13	دتخار جهادي بهیر ته لنډه کتنه	44
14	جنګي لګښتونو امریکا ځملوله	47
15	وروستۍ پېښې په هند کې دمېرمنو ناوړه حالت	49
16	په مصر کې نوی بحران ، داسلامي ګوندونو بریاوې	53
17	مناقشه، شبهاتي در مورد مشارکت در دیمکراسي و	57
18	الاکابر ، حضرت عبدالله ابن مسعود ●	63
19	درواني پېړۍ لوی شکست	65
20	اسلامي هیوادو کې داسلامیت او مغربیت ترمنځ	69
21	سفر کرزی برای پیمان استراتیژیک یا تجدید پیمان	72
22	عملیات اخیر کابل هوشدار نوین ومژده پیروزی	74
23	جنګهای صلیبي	76
24	دالقاعدې په نامه جګړه	79
25	دشهامت دارالافتاء	81

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان برېښنالیک: Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

دامریکایي عسکرو راتلونکی به افغانستان کي

اوباما په منسوخ او تحریف شوي انجیل دخپل واک ددوهمې دورې له لوړې وروسته ددې لپاره چې دخپلې لفاظۍ پرجادو دامریکا خلکو ته مصنوعې او خیالي شنه بڼونه وښيي وویلې: دجنګونو لسیزه پای ته رسیدلې ! او د یوې پیاوړې او خوشاله امریکا د جوړولو وخت راغلی !

خو په هم هغو شیبو او ساعتونو کې چې اوباما دلکونو امریکایانو په وړاندې خپله دادجعل اوفریب څخه ډکه وینا اوروله ، دمیړانې اوقربانۍ دهیواد پلازمېنې(کابل) په زړه کې دامریکا په مشرۍ دنامقدس صلیبي ائتلاف په پوځي مرکزونو دڅوتنو قهرمانو اوزړورو مجاهدینو ملکوتي تکبیرونو او تندریزو بریدونو له امریکا یي اوائتلافي عسکرو کو کارې پورته کولې !اوڅرګنده شوه چې داوباما دا دعوه چې "دجنګونو لسیزه پای ته رسیدلې ! دامریکا دخوشالۍ اوترقۍ لسېزه پیل شوي " څومره حقیقت لري....؟

البته داوباما پورته ادعا ددې حقیقت پخلی کوي چې ازاد اوپه خپلواکۍ مین ولسونه دزورواکۍ په متو نه څملول کېږي ،چې دتېرو یوولس کلو په اوږده موده کې دغریب افغان ولس په ماتولو اوغلامولو کې په عصري جنګي ټېکنالوجۍ دمجهزو امریکایي اوصلیبي ځواکونو شکست اوخجالت ددې رڼه بېلګه ده.

دسیاسي کتونکو په اند:که داوباما وینا تشه لفاظي نه وي او پکې له جنګونو څخه دنورستومانه شوي امریکایي ولس دسترو ارواوود انځورولو ترڅنګ دامعقوله ستراتېژي هم ځای ولري: چې له دې وروسته امریکا دازادو ولسونو اوخپلواکو هیوادو په کورنیو معاملاتو کې لاسوهلو ته دپای ټکی ږدي، اوپه نړۍ دجبري راج چلولو استعماري ذهنیت له خپلو مغزو باسي ،نو دا به نه یوازې دامریکا لپاره ګټورې پایلې ولري بلکې په نوره نړۍ کې به هم دثبات او امنیت له راتلو سره مرسته وکړي.

ولې ښکاره ده په تېرو څلور پنځو لسیزو کې ټوله زمکنۍ کره د امریکا شیطانۍ پالیسیو سور انګار ګرځولې ، په ملیونو انسانان دامریکا دظالمانه کړو وړو له امله د ډېرو ترینګلو اورترخو شرایطو لاندې ژوندته اړدي ، په خاصه توګه دیوولسم ستمبر وروسته خو دامریکا په مشرۍ کرغېړن صلیبي ائتلاف د لکونه افغاني اوعراقي مسلمانانو په بې رحمانه وژلو لکونه مسلماني کورنۍ دویر په ټغر کینولې.

لنډه داچې دصلیبي اشرباتو کړي ظلمونه او وحشتونه په ټول بشري تاریخ کې ساری نلري ، او دانساني تاریخ یوداسې نوی تورباب دی ،چې په لیدویې هرسپېڅلی بشري وجدان او سالم ضمیر شرم احساسوي.

له نیکمرغه چې امریکا ددغه نارواجنګ له امله خپله دومره شدید اقتصادي ټکانونه خوړلي ،چې په ویر کې یې له ادنی امریکایي نیولې ترولسمشره ټول دغم مرثیې وایي !

دیته په کتوباید دامریکااستعماري پالیسي جوړوونکې ماغزه اومنې چې پر افغانستان تیری اشتباه وه... دیوه موهوم او غیر واقعي بري پوري هیلې تړل.. او په افغانانو د یوه ګوډاګي رژیم غیرحقیقي بهیر جبراً تپل تیروتنه اوناپوهي وه !

اړتیاده چې امریکایان په راتلونکې کې خپلو دغه ډول هیلوته واګې واچوي ، افغانستان کې دخپلو ناکامیو او روسوایو له انجام په عبرت اخستو یوه واقعبینانه تګلاره او دریځ غوره کړي او پخپلو ناکامیوباندې دپردې اچولو لپاره نورد وینو تویولو ستراتېژي لغوه او له افغانستانه ژرترژره خپل ټول ځواکونه وباسي.

ښکاره ده چې دلته دامریکاپه میشت عسکرو هغسې دډار اوبزدلۍ روحیه ختلې، کومه چې په ۱۹۷۰ز کې ویت نام کې وه ،چې له ویت نام اوپه خاصه توګه له جنوبي ویت نام نه دوتوپرمهال یې داسې بوږنوونکې یادابښتونه او انځورونه پرېښودل چې له امله یې ترننه دامریکا دغرور سرښکته دی.

که بیا هم امریکا دلته ژر یوولس کلنې غمیزې ته دپای ټکی کینښود اوروان جارحیت یې پای ته ونه ورساو ،دشته ځوکونو راتلونکی به یې له ویت نام څخه هم دزیاتو بوږنوونکو انځورونو اویادابښتونو شاهد وي !

اشتیاق

په عربو کې (محمد) لومړی نوم !!

په رسول الله (ﷺ) "محمد" نوم عبد المطلب کېښود... ابن عباس (رضي الله عنه) روایت کوي: کله چې رسول الله (ﷺ) پیداشو، په اوومه ورځ نیکه (عبدالمطلب) ورباندې عقیقه وکړه او محمد نوم یې پرې کېښود...

له دې څخه وړاندې په عربو کې بل چا "محمد" نوم نه وایښی... قریشو ته نا اشنا ښکاره شو... دهغوئ څخه راغلل عبدالمطلب ته یې وویل: ابو الحارثه! تا پخپل لمسي یو داسې نوی نوم ایښی چې نه په دې نوم ستا په پلرو اونیکونو کې څوک تېر شوی او نه تراوسه ستا په قوم کې دانوم (محمد) چا ایښی.. ولې دې پرې دخپل پلار یا نیکه نوم کېښنبود...؟

عبدالمطلب هغوئ ته وویل: زه دادې نوم په ایښودو ارزو اوهیله لرم چې په اسمانونو کې الله (ﷻ) ددې ماشوم تعریف وکړي... اوپه زمکه کې یې خلک تعریف وکړي...

په دې اړه اصلي خبره داده چې دانوم(محمد) الله (ﷻ) دعبدالمطلب په زړه کې اچولی و کله چې د رسول الله (ﷺ) انیکمرغه زوکړه وشوه، نوپه دې نوم یې ونوماوه.

په "خصایص صغری" کې د رسول الله (ﷺ) دا خصوصیت شته چې د (محمد) نوم دالله (ﷻ) له سپېڅلي نوم اخستل شوی دی، دغه راز دا څانګړتیا یې هم راغلې چې په رسول الله (ﷺ) باندې اول احمد نوم ایښودل شوی، په احمد نامه هم له رسول الله (ﷺ) څخه وړاندې څوک نه و نومول شوی... د رسول الله (ﷺ) په محمد نامه کې کثرت دی یعنې محمد هغه چاته ویل کېږي چې دهغه بیا، بیا تعریف کېږي...

دیوه روایت له مخې: په رسول الله (ﷺ) باندې دعقیقې په ورځ محمد نوم ایښودل شوی، اوښکاره ده چې عقیقه یې په اوومه ورځ شوې ...خوله دې څخه نه جوتېږي چې نوم پرې په اوومه ایښودل شوی... بلکې مطلب دادی چې دزېږدو په ورځ ورته دانوم (محمد) غوره شوی ،دعقیقې په ورځ خلکو ته څرګند شوی...

په دې اړه یو بل روایت هم شته چې عبد المطلب په رسول الله (ﷺ) دمحمد نوم ایښودو باره کې داسې خوب لیدلی و... چې له ملا څخه یې د زنا یوه داسې وړانګه وځي، چې دهغې یو سر په زمکه او بل یې په اسمان دی

... د ربا دوړانګې يو سر په مشرق بل يې په مغرب دی ... بيا ترې يوه ونه جوړه شوه ، چې په هره پاڼه يې نور ځلېدل ، دمشرق او مغرب خلک ورپورې نښتي وه...

عبدالمطلب دا خوب خلکو ته ووايه ، خلکو يې ورته دا تعبير وکړ : چې ستا له نسله به داسې څوک پيدا شي چې دهغه به په مشرق او مغرب کې خلک پيروي کوي ... په ځمکه او اسمانو کې به يې تعريفونه کېږي ... هغه و کله چې رسول الله (ﷺ) پيدا شو عبد المطلب ورباندې محمد نوم کېښود...

يوځل يوه ميرمن رسول الله (ﷺ) ته

راغله وې ويلې : دالله رسوله ! زما هيڅ ماشوم ژوندی نه پاتې کېږي...

رسول الله (ﷺ) ور ته وفرمايل : ته په نوم دالله (ﷻ) پرېکړه وکړه که دا ځل در ته الله (ﷻ) ماشوم درکړ ، په هغه به نوم محمد کېږدې ... هغې هم داسې پرېکړه وکړه ، په نتيجه کې يې ماشوم ژوندی پاتې شو...

داپه عربو کې دود وه چې هر کله به يې کوم سړي ته احترام ورکاو ، هغه به يې د کنيت په نوم بللو ، کنيت به زياتره دهغه سړي په اولاد کې دهغه چا په نوم و ، چې هغه به ترنورو لايق اوهوښيار و... له حضرت علي (رضي الله عنه) څخه روايت دی په جنت کې به هر سړی په کنيت بلل کېږي ، ادم (عليه السلام) به دابو محمد په کنيت بلل کېږي ... دا دادم (عليه السلام) داحترام ترڅنګ درسول الله (ﷺ) احترام او توقير هم څرګندوي...

دېته ورته په يوبل روايت کې دي چې له جنتيانو څخه هيڅ يو تن به داسې نه وي چې هغه به دې د کنيت نوم ولري ، پرته له ادم (عليه السلام) چې هغه به دابومحمد په کنيت بلل کېږي...

يوبل روايت دی : کله چې د قيامت ورځ شي ... نا څاپه به يو اواز کوونکی اواز وکړي ... محمده پورته شه ! له حساب او کتاب پرته جنت ته ننوزه ...

په دې اواز به هرهغه تن چې محمد نوميږي ... هم پورته شي ... درسول الله (ﷺ) په احترام به هغوئ ټول جنت ته له ننوتو څخه ونه ګرځول شي...

دمذاکراتو دبهیر چتکتیا دڅه لپاره ؟

شکورشفق

داسې ښکارې چې امریکایي بلواګر نورپه تیښته اوکډې یې په بارید و دي ،اونورهغه وخت هم راورسید چې دوخت ددې استکبار دغرورمانۍ راونړیږي اودطالبانواومجاهد ولس په لاس دماتې زهروڅښي ،الله الحمد نن دامریکااو لوید یځې تلوالې د(52B)ډوله الوتکو دهیبتناک ماشین شوراوځوږ نشته او نه ترې نن سبا څوک ویرېږي ،ښه راته یاد دي چې د(تورې بورې) ددنګوغرونو په سمڅو کې په میشتو مجاهدینو او دهغوئ په کورنیو چې ښځې او ماشومان هم پکې وو دې بدنامو الوتکوداسې درانده درانده بمونه ورول چې په لیرو ولسوالیوکې یې هم دولسي وګړوغوږونه کڼول اوهرې بمې چاودنې یې دهر مسلمان له زړه دوینو فوارې بهولې او د(تورې بورې) دجګوغرونوپه غارونوکې ددیره ماشومانواوښځوکوکاروفریا دونوبه دیوې داسې تراژیدۍ عکاسي وړاندې کوله چې انساني عواطفو نشوه برداشت کولای ، بیا مخصوصا هغه وخت چې ددې(52B)الوتکې لخواد(تور ې بورې) پرسر هواکې په سپین لیک د(8) عدد ولیکل شو ،دانوهغه وعده وه چې یرغلګرو عسکروته دځینو متوسطوخلکو لخوا ویل شوي وو چې سبا (٨)بجې به ددې محاذ مجاهدین تاسوته تسلیمیږي او........ خو له بده مرغه چې ددې خارجي یرغلګروسره اوږه په اوږه دسیمې سفاک ټوپک سالاران هم روان وو اودمجاهدینو پر مورچلونو یې داسلام ددښمنانو تنګه کوله ....

او نه هم دادی د(شاهي کوټ) دجهادي قهرمان سنګر دنیولوهغه بلواګر ځواک شته چې ددوئ په اصطلاح دمجاهدینو ددې وروستي مرکز !! شاهیکوټ پسې دبدنامو بادارانو په لمسونه په اصطلاح دشمال ! !د تلوالې جنګ سالار (بسم الله)غوندې پلورل شوي عناصرد خپلو امریکایي بادارنو سره یوځای متې رابډوهي او دیهودو او نصاراوو سینې پرې یخې کړي ....

داهرڅه به دتاریخ قضاوت اوهم دالله ج حساب اوکتاب ته وسپارل شي ، چې چا دڅوکۍ او هوس لپاره دنورو په نغوته داسلامي نظام په نسکور یدوکې کوشش وکړ اوڅوک نن هم دسمت ،قومیت اوملیت پالنې په نوم داسلام سره خیانت کوي اوداسلامي نظام دنفاذ

مخکې خنډ ونه ایجاداو هم دخپلو غربي بادارنومخکې دنانځکوغوندې نخيږي.

دادی دلوی څښتن په مرسته دنصرت او بري شيبې رالنډې شوي او ليرې به نوې چې لږوخت پس دفتحې زيری ټول هيوادال واورې ، خو فتنه ګرې کړې او متعصب باندونه به بيا دبې پرې ولسی وګرواو بې وزلو ولسونوپه سرتېرې ارې ږدې ،څوک به د(رقص مرده) اوڅوک به د(خراسان کلان) په زړو ربابونو نوې مزې غځوي ،داسې بې ضميره عناصرچې دخپل وطن او ايمان په بيه سوداکوي ،که څه هم دوخت عبور اومرو ربه بې رسوااو غړی له تنې جدا کړي

اودخپلوهغوخلکولخوابه دسرپه کاسه کې اوبه وڅښي چې دټول هيواد په ارضي تماميت ،افغانی ت اواسلاميت بشپړباورلرې اوددې اج ازه به ورنکړي چې دهيواد دتجزيې لپاره دداسې پر ديپالوپلانونه هيواد کې عملي کړي ، خو دداسې پلو رل شويو عناصرودايمان اوافغانيت ارزونه به لا هم ډيروخت ته اړتيا ولرې اوبه کتل شي چې پايله کې څه پيښږي.

لکه مخکې موچې وويل نورد امپرياليستانو زور اوبه شوی اوددې وس نلرې چې دتل لپاره دکرزي د(وطن پلورنې قباله) دخپل دايمي اشغال لپاره بهانه کړي ،نه ورسره نورې بې خرته پيسې شته ،نه يې پوځيان دافغا نانو سره دتلپاتې جګړې توان لرې او نه ورته افغان ولس او دسيمې حکومتونه ددې اجازه ورکوي چې تړوله سليزه يا پوره قرن ددې ولس سره جګړه وکړي ،بلکې دهرچا په خوله نن داجمله اورې را اوړې چې تر (۲۰۱۴)ز کال پورې به ټول امريکايان وځی او نور دلته نشی پاتې کيدای.

دامريکاولسمشرتورپوستې اوباما دتېر په څېر دتاکنې دې دوره کې هم دخپل ولس نه پدې شعار دکاميابی رأيه واخسته چې پوځ به له افغانستانه راوباسي ،همدا وجه وه چې امريکاته دکرزي دوروستي سفر پروخت چې له اوباما سره يې لاکتنه نه وه شوي

دسپينې مانی دامنيتي سلاکار مرستيال دکرزي او ورغلي پلاوي داتمه پرې کړه چې امريکايان به يې تل ساتي او دوئ ته به تياري غوښې اوډودی ورکوي ،نړيوالو رسنيودسپينې مانې دمرستيال سلاکار خبرې داسې خپرې کړي:

بنايي ټول امريکايي سرتېري له افغانستانه ووځي"

دکابل داداري مشر غواړي امريکايي ځواکونه يې د هېواد له ښارونو او کليو ووځي.

سپينې مانۍ د لومړي ځل لپاره ويلي شونې ده چې له ۲۰۱۴ کال وروسته هېڅ امريکايي سرتېري افغانستان کې پاتې نه شي .

دغه څرګندونې په داسې وخت کې شوې چې حامد کرزی له خپل امريکايي سيال باراک اوباما سره خبرو لپاره واشنګټن ته رسېدلی دی.

د امريکا جګپوړي امنيتي سلاکار بن روډېس خبريالانو ته وويل د امريکا اداره پر يو لړ غوراويو غور کوي.

واشنګټن ته د کرزي دری ورځني سفر کې به له اوباما او نورو چارواکيو سره مهمې خبرې هم شاملې وي، خو وروستۍ پرېکړه به نه کېږي.

دکابل داداري مشر غواړي امريکايي ځواکونه يې د هېواد له ښارونو او کليو ووځي.

خبريالان وايي دغه ليدنې کتنې په داسې وخت کې کېږي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکيو کې د عادي حالت په پرتله ډېر درزونه دي.

کله چې په دې اړه له روډېس نه پوښتنه وشوه، چې امريکا په ۲۰۱۴ کال کې د خپل جګړه ييز ماموريت له پای سره د پاتې کېدونکي ځواک سره په تړاو پر "صفر غوراوي "هم فکر کوي، که څنګه؟ د ملي امنيت دغه مرستيال سلاکار خبريالانو ته وويل : "دا به يو غوراوی وي چې موږ به پرې غور کوو".

د امریکایانو په ګډون د ېری بهرني ځواکونه به د ۲۰۱۴ کال په پای کې له افغانستان نه ووځي.

دامریکایانو ددومره چټکې وتنې عوامل ډېر ډاګیزاو ځرګند دي او هر څوک پوهیږي چې نورد امریکااو لویېځ دپوځ روحیات او نفسیات مات شوي او نشي کولای چې په مرورو حیاتو جګړه وکړي او نه ورته دومره لښکټ له ځانه سره لرې چې خپل ولس پرې قانع کړي. خوددې سربېره به امریکایان زیات کوښښ وکړي چې یوه دوړوپوزه ځانته کېږدي اوپه ابرومندانه توګه ځانته دوتلو ګودرې ولټوي چې کم تر کمه دخپل ولس له محاکمې نه پرې وژغول شي .

دمذاکراتوګرمې نغارې او دپخلاینې شعارونه نن سبا هغه څه دي چې دوئ ورته داولویت حق ورکړي اودخپلو رسنیوله لارې هر وخت دک وم چا سره دمذاکراتونغارې وه ي خومقابل لورې (اسلامي امارت)چې نه چورلټ مذاکرات ردوي اونه ورسره بلاقید اوشرطه سرخوزوي ،په خپلو غبرګونوکي پرله پسې ویلې چې دامریکایانواو نوروخارجیانو په موجودیت کې له هیڅ لورې سره مذاکرات نه کوي او نه یې له چاسره کړي ،اسلامي امارت دخپل اصولي موقف له مخې دامریکایانو اوکابل ادارې ټولې هغه هڅې سبوتاژکړې چې ورته ډېر هیله مند وو اوپدې لاروبې ډېر لګښتونه هم کړي وو.

بنایې لویدیځوال داسې کوشش وکړ ي چې دکابل دلاسپوڅې ادارې او اسلامي امارت تر منځ دجوړجارې په پلمه له هیواده ووځي او خلکوته ووایې چې مقاومت له موجوده ادارې سره پخلا شوی ، خو هغه چې تر اوسه داسلامي امارت له محوریزې یاتصمیم ګیرې ارګانونو څخه میډیاته راوتې هغه ددې ټولو چورلټ تکذیب کوي اوهغوئ غوارې چې دجهاد اقدار واوولسي قربانیوته په درناوي کومه داسې پریکړه وکړي چې داسلام بیرغ پکې هسک اودشهداووینوته پکې عقیدت نذرانه شوي.

نړیوالو رسنیودامریکایانو تروړتیا او چټکې منډې داسې انځور کړې دي:

په افغانستان کې د امریکا د متحدو ایالتونو سفیر وایي، امریکا له وسله والو طالبانو سره د سولې د جدي خبرو غوښتونکې ده خو تراوسه پورې دا کار نه دی شوی.

جیمزکنینګهم په کابل کې خبریالانو ته وویل: «د افغانستان د حکومت لپاره مهمه ده چې خبرې پیل کړي او تر ممکنه حده ښې نتیجې ترې ترلاسه کړي»

د تېر کال په مارچ میاشت کې د امریکا او طالبانو ترمنځ په قطر کې غیررسمي خبرې پیل شوې خو ژر په ټپه ودرېدې

له طالبانو سره د پوهاي د زیاتولو او د دریځونو د نژدې کولو لپاره په وروستیو کې د فرانسې پلازمېنې پاریس ته نژدې یو کنفرانس جوړ شو.

په کابل کې د امریکا سفیر وایي، که د افغانستان د دولت او وسله والو طالبانو ترمنځ سوله او پخلاینه ممکنه نه شوه له ۲۰۱۴ وروسته د طالبانو پرضد د جګړې مسوولیت به یوازې د افغان ځواکونو په غاړه وي او امریکایي پوځیان به نور په جنګ کې برخه نه اخلي....... دامریکادسفیرله پورتنیواظهاراتونه په ډاګه دامریکایانوتروړتیا او ویرې ځرګندیږي اولوستونکی پوهیږي چې دوئ امریکایان دکابل له ادارې نه ډېر کوشش کوی چې له مجاهدینو سره کومه لاره خپله کړي اودتیښتې کومه ابرومندانه لاره پیدا کړي.

لکه چې مو په سرکې پرې بحث وکړچې دمذاکراتودبهیرځپانده کیدل اوچټکتیا تر شا دنور اهدافوغوندې دامریکادماتې پیغام پروت دی اوهغه وخت لیری ندی چې داسلامي امارت مجاهدین دخپل دښمن نه دخپلو شهیدانواواشغال کسات واخلې او خپل هیوادکې شرعي نظام نافذ کړي

پرمالي د لويديځ يرغل د څه لپاره

حسن مومند

د نړۍ پرمخ د مالي په نوم د مسلمانانو يو بل ازاد او خپلواک خو غريب او کمزوری هېواد هم د صليبي يرغلگرو د يرغل ښکار او د اشغالولو په موخه يې ور ته فوځونه راښکته شول.

په افغانستان کې د شوروي اتحاد د ماتې او د نړۍ د يو قطبي کېدو نه پس د امريکا په شمول د ټولو صليبي زبر ځواکو نو نظرونه دوه سيمو ته وو او د اشغال لپاره يې په پلانونو بوخت وو. دا دوه سيمې يوه منځنۍ آسيا وه او بله د افريقا لويه وچه وه چې لامل يې په يادو دواړو سيمو کې د سترو زېرمو شتون او په ډېر سرعت سره د اسلام جرړو مضبوطوالی، دځانگوې خپرېدل او تر ټولو ستر لامل چې يې په يادو دواړو سيمو کې په عسکري ډگر کې د مسلمانانو ضعف و.

يانې په خليجي هېوادونو کې چې د تېلو په زېرمو کې د کمېدو نښې راښکاره شوې او لويديځ ته روښانه شوه چې څو کلونه پس به يې ظرفيت دومره نه وي چې ورنه يې د تېلو اړ تيا پوره شي نو ستر گې يې منځنۍ آسيا او افريقا ته واوړيدې ځکه چې په دې دواړو سيمو کې د نورو قيمتي معدنياتو په شمول د تېلو او غازو ډېرې سترې زېرمې وې چې لا خوندي پاتې وې او پرې د قبضې په صورت کې د لويديځ شر کتونو ته د پانگونې ستر مواقع هم په لاس ور تلل او د تېلو او د سون د نورو مواد ټوله اړ تيا يې هم پوره کېدله. تر ټولو لويه يې د افغانستان د جهاد له بر کته ددې دواړو سيمو په خلکو کې او خصوصاً په ځوانانو کې په تېزۍ سره دخپرېدونکې اسلامي بيدارۍ اوجهادي نظريې (چې اسلام دښمنه لويديځ دا په اسلامي بنسټپالنې او اسلامي تروريزم تعبيروي. د ټولې نړۍ امن ته يې گواښ بولي او مخنيوی يې ډېر اړين گڼي) مخنيوی هم هغه ستر مقصد و چې لويديځ يې دې سيمو ته راتللو او قبضې ته هڅولو او دا په داسې حال کې وه چې د اسلامي نړۍ هيوادونه د لويديځ په پر تله د ضعف په هغه حالت کې وو چې د ډېر کوچني عکس العمل د ښکاره کولو تمه ترې هم نشوه کېدای نودغرب لپاره ددې دواړو سيمو داشغال اوقبضې هڅه ډېره ښه موکه وه.

منځنۍ آسيا نسبتاً لرې وه او د روسانو د اشغال نه په نوې او خورا کمزورې سيمه کې د روسې، چين پاکستان او هند په څېر اتومي هېوادونو ته د امريکا او نور لويديځ فوځي حضور او ددې سيمې اشغال د منلو وړ نه و نو ځکه امريکا دلته يواځې د نظامي اډو جوړولو په فکر کې شوه او چې افريقا نسبتاً نېږدې او مشکلات يکې کم وو د اشغال او قبضې نوبت يې رامخکې او په هماغه ۱۰ يمې لسيزې کې چې د روسانو د ماتې شپې وې امريکا پر صوماليه حمله وکړه او عسکر يې ور ته راکوز شول.

خو د امريکايي فوځيانو له بده مرغه چې دغو شپو ور ځو کې د شيخ اسامه يوشمېر مجاهدينو ملگرو په صوماليه کې حضور درلود نو د صوماليې د مجاهدينو په مقابل کې په ځمکنۍ جنگ امريکايي فوځيان د سختې ماتې سره مخامخ شول او چې بيا کله د صوماليې مجاهيدينو د امريکايي وژل شويو فوځيانو په غاړو کې پړي واچول، په سر کونو يې راښکل او جوړه شوې ويډيو يې خپره شوه نو د دولت پر ضد د امريکايي ولس د سترو لاريونونو او په نړۍ کې د سترې رسوايی سره د امريکا د مخامخ کېدو له وېرې امريکايي فوځيانو د صوماليه نه پښې سپکې کړې.

خو بیا هم دصومالیې د زیات کمزوري کولو او په راتلونکي کې یکې د بیا مداخلې په هیله دې هېواد کې داخلي جنګ دوام ته ټول کوښښونه روان وو.

لا پر بل افریقایي اسلامي هېواد حمله نه وه شوې چې د ۱۱ ستمبر پېښه رامنځته او د امریکا په شمول دټول لویدیځ لپاره منځنۍ آسیا ته درانېږدې کېدو پلمه شوه نو افریقا شاته او ټوله توجو ددې سیمې ژر اشغال او قبضې ته راواوښته اوپه افغانستان یرغل وشو . خو چې یدې جنګ کې دښودېرو لګښتونو او ځاني تلفاتو سره سره هم دا زبرځواکونه د بریالیتوب نه ناهیلي او ماتې یې یقیني شوه نو د افریقا د اسلامي هېوادونو پر ضدیې شیطاني پلانونه بیا تېز شول ، سودان یې تجزیه ، جنوبي سودان کې یې یوه لاسپوځې اداره رامنځته کړه او امریکا یکې خپله فوځې اډه جوړه کړه چې شپه او ورځ ترې یې پیلوټه الوتکې د شمالي سودان ، یوګندا ، ایتوپیا ، جبوتي ، کینیا او صومالیا په خاورو د جاسوسۍ لپاره پروازونه کوي.

ورپسې بیا تېر کال ناټو دلیبیا په نوم دمسلمانانود تېلو په یو غني هېواد یرغل وکړ چې په نتیجه کې یې ددې هېواد ولسمشر قذافي ووژل شو ، اداره یې ړنګه ، کورنۍ جنګ پیل او د لیبیا د اشغال شوم پلان مخ په تطبیقېدو شو .

او اوس دادی د مالي په نوم د افریقا په یو بل هیواد ک ې د اسلام پالو وجود او فعالیت پلمه شو او دناټو له لورې د جوړ شوي پلان له مخې پر ې ددې صلیبي اتحاد یو مهم غ ړي فرانسي فو ځې یرغل وکړ.

مالي د لویدیځې افریقا په وچه کې یو راګېر د افریقا اووم او د ټولې نړۍ ۲۴م ستر هېواد دی چې د موریتانیا، سنیګال، ګنی اور، بر کینافاسو او رایوری کوسټ ، نایجر او الجزایر نومي هیوادونو سره ګډې پولې لري، بمباکو یې پلازمېنه ده ، کابو ۱۵ میلیونه نفوس لري او دسواد کچه یکې ٪۶۰ ده ، ځمکه یې اواره ده ، موسم یې ګرم او خشک وي، کابو ٪۶۵ ځمکه یې شګلنې وچې دښتې دي یواځې د هیواد په سهیلي برخه کې د نایجر سیند ته نېږدې فصلونه کېږي او همدا سیمه یو څه زرغونه ده ، خو چې یکې زراعت وروسته پاتې دی او د پر مختللو طریقو نه یکې کار نه اخستل کېږي نو حاصلات یې دومره نه وي چې د هېواد دغلو دانو اړتیا پوره کړي ، د کب نیونې سره د هیواد والو علاقه زیاته ده خو سمندر سره د پولې دنه درلودلو له امله په کب نیونې کې ډېر مشکلات لري خو بیا هم د هېواد ٪۸۰ وګړي د کب نیونې او فارمي حاصلاتو له لارې خپل ژوند مخ په وړاندې بوځي، دمېرمنو کورنۍ صنعت یې لاسي لوښي دي چې په سیمه کې ډېر شهرت او ښه مارکیټ لري، په نړیوال مارکېټ کې یې پومبه ډېر ښه نوم لري .

مالي په تېرو زمانو کې مرکزي افریقاته دتلونکو سیلانیانو لپاره دامن نه ډکه لاروه ، یو وتلی صنعتي هېواد و، دفیل دغاښونو نه دجوړوشوو مصنوعاتوډېر ستر مرکز و ، دډول ډول قیمتي ډبرو کانونه یکې وو خودسرو زرو کانونو یې ډېر شهرت درلود چې دهمدې امله داهېواد دخپل وخت دبډایو هېوادونو نه ګڼل کېدلو ، مشهور مسلمان سیاح ابن بطوطه اونامتو مورخ ابن خلدون او المعری هم لیکلي دي چې مالي یو بډای هېواد و چې دبډایتوب له امله دسیاحانو دتوجو مرکز ګرځېدلی و ، دتاریخ کتابونو داهم لیکلي دي چې ددې هېواد مشر سلطان منسي محمدموسی چې په کوم کال حج کولو نو ددې هېواد ۶۰ زره تنان ورسره ملګري وو اودومره زیات سره زر اوقیمتي ډبرې ورسره وې چې ۱۲ زره تنان یې دبنکته اوپورته کولولپاره تعین شوي وو ، خلکو ته دړالۍ کولولپاره چې کوم سره زر ځانګړي شوي وو داوسني حساب له مخې یې وزن ۸زره کیلو جوړېږي ، دځنې څېړنیزو ادارولـه لورې په څېړوشویو راپوروټو کې راغلي دي چې په اوس حساب دمالي بودیجه ۴سوه ملیار دوډالروته رسېدله .

خوهمدا دنړۍ په بډایو هېوادونو کې شمېر هېواداوس دنړۍ په تر ټولو غریبو هېوادونو کې شمېرل کېږي حال دا چې دې هیواد کې اوس هم ډېرې سترې زېرمې شتون لري خو له بده مرغه چې دا هېواد یې لا هم په استخراج او ورنه په کار اخستلو نه دی توانېدلی ، دسرو پکانونه دامعلومه شوې چې دمالي په کانونو کې ۲ زره ټنه یورانیم ، ۲سوه زره ټنه وسپنه تر ۱۲سوه ملیونو ټنو پورې ددفاسفیټ ، کاونسین جیسم اومرمرو ډبرې ۴ زره ټنه لیتیم او ۵۳ بیلیونه ټنه غریزه مالګه شتون لري ، مالي کې دتېلو او ګاز وهم څه کمی نشته اود سروزرو کانونه خو یکې بیخي له شمېره وتلي دي ، دمالي جغرافیایي ارزښت دادی چې دافریقانه دلویدیځ مارکېټو نوته ټول تېل اونور مواد له همدې لارې ځي نوهمدې ته په پام سره دا ویل بیخي پرځای دي چې په مالي دلویدیځ یرغل یواځې دزېرمو دغصب لپاره دی اوبس .

کومې فرانسې چې اوس پر مالي يرغل کړی له دې وړاندې يې هم پرې يرغل کړی اوداوږدې مودې لپاره يې تر استعمارلاندې وه، په ۱۸۸۰ کې د فرانسې پوځونه مالي ته راننوتل او دا هېواد يې تر خپل استعمار لاندې راوست چې تر ۱۹۶۰ يې دوام وکړ. داد استعمار ډېره اوږده زمانه وه چې پکې د مالي په څېر د غريب ولس ژبه، کلتور او مذهب هر څه بايدبدل شوي وای خو آفرين د مالي دمسلمانانو په کلک ايمان چې د عيسوي دعوتګرو د سختو کوښښونو او د جابر فرانسوي دولتونو د سختو فشارونو سره سره هم ددوئ ذا هيڅ بدل نه شول، په دې هيواد کې اوس هم ۹۰٪ سوچه مسلمانان دي يواځې يو ۱٪ يې عيسويان دي او ۹٪ يې د افريقا د زړو مذهبونو پيروي کوي. نو داويلی شوچې د استعمار په نېږدې ۸ لسيزو کې مسلمانانو بيخي خپل دين نه دی پرېښی که عيسويان شويدي نو يټول د افريقا د زړو مذهبونو پيروان عيسويان شوي.

يواځې په پلازمېنې او نورو ښاري سيمو کې ډېر کم وګړي په فرانسوي ژبې خبرې اوزدکړې کوي، دوئ هغه وګړي دي چې دفرانسوي استعمار پرمهال يې غربي کلتور خپل کړی وو، دوئ په مالي کې د ،،ايلايت،، په نوم يادېږي. داستعمار پرمهال يواځې همدوئ دمدني حقوقونه برخمن وو او دوتلو پرمهال فرانسې دقدرت واګې همدوئ ته په لاس کې ورکړې، دوئ دفرانسې فکري غلامان دي، په کلتوري لحاظ مالي دفرانسې برخه ګڼي چې عام مسلمانان ددې سخت مخالف دي. همداعمل اوعکس العمل دډېرو ګډوډيو لامل دی. له ايلايت پرته نور ټول وګړي په خپلې ژبې عربېري اوپرې زدکړې کوي.

فرانسوي پوځي عرادې د مالي په سړکونو ګزمه کوي



په خپل دين باندې د کلک پاتې کېدلو عمده عامل دلته د ديني علومو سره د خلکو زياته مينه او په هېواد کې د دې علومو د درسګاهونو زياتوالی و. د نړۍ په ترټولو قديمو جامعاتو کې د مالي دتمبکتو سان کوري نومې جامعه هم ده چې د ۱۴مې ميلادي پېړۍ راهيسې قائمه ده. د مالي په عامو مسلمانانو کې د حج د سفر او په ځوانانو کې يې د ديني زدکړو لپاره دعربي هيوادونومدرسو ته د سفر د کولو سره مينه په ډېره تيزۍ مخ په زياتېدو ده.

په مالي کې همدا د اسلام خوښو ډېرېدل او دلته د ډېرو زياتو زېرمو شتون د لويديځ د اوسني يرغل اصل لامل شو. خو پلمه يې څه وه؟

ددې لنډ شاليد دادی چې د هيواد د شمال ،، ازواد،، نومې سيمې خلکو په تېرو وختونو کې داسيمه يو خپلواک ايالت ګڼلو، خپلواکي يې په رسميت نه وه منل شوې خو د ازادۍ غوښتنې بيخي له منځه تللې هم نه وچې د ازواد د ازادۍ همدې تحريک له لورې بيا د ازادۍ غوښتنې تحريک زور واخست او د ۲۰۱۲ د اپريل په ۶مې نيټې د آزادي غوښتونکو او پوځ ترمنځ د جګړې رامنځته کېدو نه پس ازادي غوښتونکو د ،، ازواد،، خپلواکي اعلان کړه د واک واګې يې په خپلو لاسونو کې واخستې. د همدې ۲۰۱۲ کال د اپريل په ۲۶مې نېټې د ازواد د ازادۍ تحريک د ،، جماعةالتوحيد والجهاد فی غرب افريقا،، نومې د اسلام پالو حرکت سره يو شول او اسلامي دولت يې اعلان کړ. خو هيڅا په رسميت ونه پېژندلو ځکه چې د اسلامي دولت وکه ازادي غوښتونکي عيسويان وای او عيسوي دولت يې غوښتلای نو نړۍ به ليدلی وای چې څومره ژر د نړيوالو له لورې په رسميت پېژندل کېدلو. کله چې په اندونيشيا کې عيسويانو بغاوت وکړ او د شرقي تيمور په نوم دولت اعلان کړ نو دملګرو ملتونو ادراې، امريکا اوټولې اروپايي نړۍ نه يواځې په رسميت پېژندل اعلان کړ بلکه قانوني تحفظ يې هم ور کړ ځکه چې دادولت عيسوي دولت و خو اوس چې په مالي کې ځايي خلکو اسلامي دولت اعلان کړ نو دملګرو ملتونواداری نه چې ددې هېواد ولسمشر داسلام خوښو په مقابل کې دمرستې غوښتنه وکړه نو سمدستي دملګرو ملتونو اداري دې هېواد ته دافريقايي اتحاد دپوځونو ور تلل منظور کړل. دافريقايي اتحاد دپوځونو دتياري خبرې لاروانې وې چې فرانسې خپل اخلاص ښکاره کړ او دامريکا په شمول يې دټول لويديځ د ګډ پلان له مخې دمالي شمالي ښارونو ته خپل پوځيان راښکته کړل تر څو دهوايي ځواک په مرسته داسلام پالو له منګلونه داښارونه ازاد کړي.

دجنګ تر ډګره فرانسوي فوځیانو ته دلوجستکي مرستو درسولو لپاره بر تانیې، بلجیم او ډنمارک فرانسي ته طیارې ور کړې او دبرقي مواصلاتو ټول انتظامات امریکا په خپلې غاړې اخستي.
فرانسوي فوځیان دپلازمېنې نه ۴۰۰ کیلو متره لرې په شمال کې دوبابالي ښار دېولو په هڅو کې دي دمجاهدینو دسخت مقاومت سره مخامخ شوي دي. دفرانسي دولت ویلې وچې دابه لنډ تصفیوي عملیات وي خو سره له دې چې کابو ۲ اوونۍ تېرې شوي خو فرانسوي فوځیان دیو ښار په نېولو هم لاندي توانېدلي. شاید دفرانسې فوځ دمجاهدینو ترولکې لاندې ښارونه ونیسي خو ساتنه به یې ډېره ستونزمنه مسئله وي ځکه چې دفرانسي فوځیان که دلته داوږدې مودې لپاره پاتې کېږي نو ځاني تلفات به یې حتمي وي ځکه چې که دوئ یې مني او که نه دلته به مجاهدین قوي کېږي او که په خپله نه پاتې کېږي نو دمالي دولتي فوځ به په هغه معیار روزي چې دمجاهدینو سره دمقابلې جوګه شي چې دا دواړه کارونه اوس دافغانستان د مجاهدینونه دتښتېدلې فرانسې لپاره ناشوني دي خو ددې هېواد نه اوس وتل هم دفرانسې لپاره آسان کار نه دی اوفرانسه یوځل دسترې رسوایۍ سره مخامخ کېدونکې ده.

په مالي کې دخورا زیاتوزېږمو دستونې نه دتېرولو او دلته دمسلمانانو دځپلو او دغربي کلتور دخپرولو په موخه اوس امریکااو ټول لویدیځ راتلل غواړي خو دخپلو شومو اهدافو اومادیاتو دالیونې باید په دې پوه شي چې دې یوهدف ته به هم ونه رسېږي تر کومه چې داسلام نه ددې خلکو داړولو او دغربي کلتور دخپرولو خبره ده نو چې دنه بیدارۍ او دخورا ډېرې کمزورۍ پرمهال پرې فرانسه نه وه توانېدلې نو اوس چې دمالي ولس دبیدارۍ اوخپل دین ته دنږدیکت ترهغه سرحده رسېدلی چې جهادیې پیل کړی ځرنګه به پرې وتوانېږي؟! چې ورسره به یې دزېږمو دقبضې ارمان هم پوره نه شي.

که څه هم دمالي ځمکه هواره اومجاهدین یې سمدستي دوسایلو په لحاظ کمزوري دي. لویدیځ به ددوئ دوسایلو په لحاظ همدې کمزورۍ ته نظروي اوفکر به کوي چې ډېر ژر به یې له منځه یوسي چې همدا ددوئ ستر حماقت دی. جهادچې هر ځای پیل شوی په پیل کې مجاهدین کمزوري وي خو بیا وروسته قوي شي،
مجاهدین به په دې هېواد کې هم مضبوط شي نه به ورنه یرغلګر په ارام ساواخلي اونه به ددې هېواد دزېږمو په لوټولو هغسې بریالې شي لکه څرنګه چې ګومان کوي. ان شاءالله.

د صـــداقـــت خبـــري

سید احسان الله الهام

چي دچـور لکـو آوازواورم شهیـدان رایا دشي
زړګی مي دردوکړي اوپاته یتیمان رایا دشي

رایا دوي مجـاهدین دصـــد اقـــت خـبري
چي دوحشت خبري واورم صلیبیان رایا دشي

چي دیوسف علیه السلام حقي قیصې ته غوږشم
په اسو ېلو کي دناټو وحشي زندان رایا دشي

څوک چي کوي خپلومنځوکي دخیـانت خبرې
ماته لـه ورایه قسم خوره لیډر ان رایـادشي

په وطن فـروشوچي څــه لیکـمه دشعـر په بڼـه
راتـه دلو جـرګي پلـورلي پارلـمـان رایـادشي

چیري چي وږینـم لوټ شـوي کنـډواله کوروته
هم جاسوسان هم اربکیان هم قـاتلان رایـادشي

کلـه چي ګورم په قرآن کي دغـضب حــقـداران
دحیرانتیاسیلاب مي یوسي ګوډاګیان رایادشي

دانټرنـیټ په فېسبوک پاڼه چي بمبارذکـرشي
اوښکي مي تویي شي الهامه مظلومان رایادشي

نور څه دول مصؤ نيت ؟!!!

لطيف عزم

دکابل اداري مشر کرزي ، امريکاته دخپلې درى ورځنى دورې له تکميل ورسته تيره اونى په کابل کې خبريالانوته وويل چې امريکايان په دې لته کې دي ترڅوپه افغانستان کې خپلو پوځيانوته قضايي ژغورنه اومصونيت لاسته راوړي ، خودکرزي په ويناد قضايي ژغورنې تصميم به لويه جرګه نيسي .

کرزي داونه ويل چې دده لويه جرګه به څه وخت دايريږي اودنوموړي جرګې په مټ به امريکايي وحشي لښکرې نورڅومره قضايي مصونيت ترلاسه اوپه افغان اواسلام ضدکړنوکې به يې لاس اوږدشي ؟

شک نشته کچيرې دکرزي له لورې کومه جرګه اوناسته دهمدې موضوع په باب جوړيږي نوارومروبه هغه څه پرې تصويبوي اوله برخوالوبه يې تائيداخلي ترکومه حده چې کرزی اوامريکايان ورته ضرورت اوارتياولري ، ځکه دتيرو 12 کلونوتجربوښوده ، چې دجرګې له تدويرمخکې اول ورته غړي دځوزروډالروپه بيه خريداري کيږي او پوهول کيږي چې دجرګې په ورځ به صرف هغه څه وايي اودتاييدلاس به اوچتوي کوم چې ورته دجرګې دتدويرموظف کميسون وايي !

له بلې خواداخبره هم ثابته ده چې دکرزي دلويې جرګې اکثريت غړي هغه څيرې تشکيلوي چې دکابل اداري په دولتي چوکاټ کې غوړې اوچربې دندې لري اويادامريکايي مرستندويه ټولنوغړي اوچلو ونکي وي ؛ نوددغسې امريکا ډوله اوافغان نماڅيروپريکړې اوتصويبونه خولکه لمرغوندې ښکاره اوروښانه دي چې امريکايي

ګټي اوغوښتني له افغاني مصالحو او ارزښتونو څوبرابره مقدمې اوورانديې شميري !

له امريکاسره دستراتيژيک تړون دسند د لاسليک لپاره هم په کابل کې لويه اجيره جرګه په نيته رابلل شوي وه چې ګډون والويې په خوراتيت اوپلورل شوي ضمير د تړون تاييداو تصويب لپاره غبرګ لاسونه اوچت کړل اوپه امريکايي وحشتونو او اسلام ضد قصدي برناموېې هيڅ اعتراض اونيوکه ونکړه اونه يې هم ددې خبري پوښتنه وکړه چې ولې امريکااوناټو ۲ لکه مظلوم افغانان دتيرو ۱۲ کلونوپه اوږدوکې مړه او يونيم ميلون يې شکنجه کړل

اوس چې کرزي ته امريکايانودقضايي مصونيت دنده سپارلې او شرط يې پرې ايښې چې که غواړي په افغانستان کې امريکايي اشغال اوږدشي اودکابل دکروبيدونکي اداري موده يوڅه وغزيږي نواول بايددامريکايي فوځيانود قضايي ژغورني اومصونيت تضمين اوهوکړه دوی ته ورکړل شي

قضايي مصونيت څه ته وايي ؟

دقضايي مصونيت موضوع چې داوبامااله ارخه مطرح شوي دکارپوهانوپه اندهغه د(کاپيتولاسيون) دقانون يوجزدي ، کاپيتو لاسيون په معنادشرط اينبودلواوپه لغوي مفهوم سازش اوتسليمی ته ويل کيږي اوپه هغو قراردادونويې اطلاق کيږي چې ديوه هيواداتباع يې د بل هيوادپه قلمرواوحدودوکې دخپلو قوانينو اومقرراتوپه رڼاکې پلي کول اوتطبيقول غواړي ، چې داډول شرايط له شک پرته ديوه هيوادپه کورنيوچاروکې څرګنده لاسوهنه اودهغه هيواددااساسي قوانينواواقداروسپکاوي دی ياپه بله ساده ماناديوه هيوادله هرډول شرط اوقيدپرته تسليمول دي

امريکايانودتيرو ۱۲ کلونوپه اوږدوکې خپلوپوځيانواوتکنالوجي ته داحق ورکړي ووچې دافغانانوپه حق کې له هرډول استبداداوشرارت نه استفاده وکړي ، هغوی ووژني ، هغوی شکنجه کړي دهغوي ملي اوديني ازادی ترپښولاندې کړي ، اوس امريکايان غواړي چې خپلو تيرواوراتلونکوتولوجنايتونوته دقضايي مصونيت ترنامه لاندې کرغيړن اوشيطاني حق اوجوازهم ترګو کړي اوکه داشغال په دروان کې يې دوه لکه مظلوم افغانان له تيغه تيرکړي اويونيم ميلون يې شکنجه کړي اوياپې نوري څومره فجايع اوخيانتونه سرته رسولي په هغوقانوني پرده واچوي اوضمناټوی اوافغانانوته ووايي چې که هرجرم اوکړنه په افغانستان کې امريکايانوترسره کړي دايې دافغانانوپه خوښه اواجازه ترسره کړي

اوس نه پوهيږوچې مکارکرزی امريکايانو ته نورڅه ډول مصونيت غواړي ، وحشي صفته امريکايانوخودافغانستان دخلکوپه ديني ارزښتونو، عفت اوعصمت دومره لوبي اوتيري وکړل چې که کرزی دخپلوتش په نامه هغوپلاوو دټاکلودوسيه راواخلي چې دامريکايانودوحشي اونه پټيدونکوکړنواوجنايتونودخيړنو اود افغانانو دتيرايستلو لپاره يې وخت په وخت ګمارلي اونتيجه يې تراوسه نده معلومه نوشميربه يې سوونوته ورسيږي !؟

ثابته خبره ده چې امریکایانو داشغال له روميې ورځې ځانته دقضايي مصونيت حق ورکړی وو، که داسې نه وي نود کرزي اداره دې ووايي چې ددوي کومې خيرني اوپلاوي ته امريکايانو مثبت ځواب ويلی اويا تيارشوي چې له تحقيقاتي پلاوو سره مرسته اوکومک وکړي ترڅودقضايي ګرفت لپاره دپيښو اصلي عاملين اوقاتلين معلوم کړل شي

کرزي ونه ليدل چې ۲ امريکايي وحشيانو دبګرام په هوايي اډې کې په کوم تکبرڅو زره قراني نسخې (العياذباالله) په داسې حال کې چې افغاني عسکرواوکارګرانوورته ناري وهلې چې دازمونږ مقدسات دي اومه يې سوځی خوبيايي هم وسوځلې اودبګرام جنرالانويې ننداري کولې اوکرزي هغه ويډيوګاني ونه ليدلې چې يوې ډلې امريکايي عسکرودهغوافغانانوله جسدنوسره څه برخوردوکړچې روميې وژلي وواوبيايي پرې متيازي هم کولې.

اوباماچې له کرزی نه قضايي مصونيت غواړي ، کرزی بايدروميې داپوښتنه له اوباماوکړي چې که فرضاافغانان تاسوته په خپلې خاورې کې قضايي مصونيت درکړي نوايا امريکايي عدالتونه ترکومه حده چمتودي ترڅوخپلوحراميانوته په خپل هيوادکې مناسبه سزااوجزاورکړي !؟

اوکرزی دامريکايي عسکروهغه ورستي جنايت ته څه پرتوګ کوي چې څوتنه امريکايي عسکرودترکيې د(اينجرليک) ولايت په ميشتې لويې امريکايي اډې کې دمسلمانانويوه جومات ته ننوتل دممبرپه شمول دجومات ټولوقراني نسخواوديني کتابونوته يې اوروړته کړ، په داسې حال کې چې امريکايانوله ترکيې سره دستراتيژيک تړون په شکل کې داخبره منلې چې عسکربه يې دترکيې اسلامي اوديني عقايدواومقدساتوته درناوي کوي ، نوچې د ترکي غوندې هيواد چې په اقتصادي ، پوځي اوسياسي ډګرونوکې خودکفااود اودامريکا يانوهيڅ ډول ملاترته ارتيانلري خوبيايي هم دمقدساتواوقوانينويې دارنګه سپکاوی اوبې حرمتي کيږي ؛ دکرزي دکاواکه اداري به څه برخليک وي اوامريکايان به يې کومې پريکړې اوتړون ته درناوی وکړي چې له ولسمشر نيولې ترچپراسي پوري يې معاش اوخوراک ټول دامريکايانوله جيب اوخورجين څخه تاديه کيږي

کرزی بائيدپوه شي چې امريکايان ديوې شپې لپاره هم په افغانستان کې هغه افغانان چې دامريکابيرغ يې دغرقيدو په مورګه دروليې نه منې اونه هم دقضايي مصونيت اوبلې کومې غلامۍ اوتي بوتي کوم اهميت اوارزښت ورته لري ،امريکايان دافغانانوقاتلين اوغليمان دي چې وس يې پرې برشي ديوې لحظې لپاره يې هم ساه اخستوته نه پريږدي

ښه داده چې کرزی دامريکايانوپه ځای دځان دژغورنې اومصونيت لپاره په کوم غربي هيوادکې دپناه اخستلولارې چاري ولټوي ، دافغانانوپه سرنوشت دې نورې لوبې نه کوي اونه دې هم مذيددافغاني جرګو اوعنعناتو سپکاوی اوبې حرمتي کوي !

ذبیح الله "مجاهد"

حملات علیه ارگان جاسوسی دشمن

انتقام از وحشی گری است

در این آواخر شبکه جاسوسی اداره مزدور کابل به بعضی از رسانها لاف زده است که گویا آنها بخاطر فعالیت بیشتر شان در برابر مجاهدین ، هدف حملات اخیر پی هم فدایی گردیده اند و همین دلیل است که رئیس این اداره هم در حالت بسا بدمهمان برک اوباماشد ، ولی واقعیت ها چنین نیست . اشخاص هوشمند اگرچنین ادعاها را بشوند خود میدانند که این جزلاف میان تهی چیزی بیشتری نیست ، زیرا در پیش دلائل زیادی وجود دارد که این دعوا را بطل می سازد وذیلا یک یک تحریر می گردد :

۱.اگر راست هم سازما ن جاسوسی اداره کابل توانای اجرأت وظیفوی را میداشت پس چرا رئیس وشخص اول این ارگان در بسترخو اب خود(مهمان خانه اش) زیرحملهء سنگین فدایی قرار گرفت؟ در حال ی که نسبت به تمام شاخصهای این اداره مقام ریاست آن باید مصئونتر و محفوظ تر می بود !!!؟

۲ـ اگر ادعای قوی شدن استخبارات دش من درست شود پس چرا تا به حلق این اداره ، دوموترمملو از مواد مفجر به قصد حمله رسانده شد ؟ درحالی که تا آن زمان اداره جاسوسی کابل از شناخت بارود به کاربورده شده نیز شناسای نداشت !!! و چندتن مجاهدین تا یک ساعت در سالون ، دهلیز ها و چاردیواری ریاست تحقیق این سازمان شیطانی اداره مزدور به جنگ ادامه دادند ؟

۳ـ چندروزقبل، حملات قویتربعدی و ۹نیم ساعته دیگر نیز در منطقه دهمزنگ زیر چشم همین اداره استخبارات به اجرا درامد و کارمندان این اداره نتوانستند از قبل بدانند که این افراد مجاهد وفدایی از بیرون کابل با اسلحه سنگین وخفیف چیطور توانستند یک سختمان را تصرف کنند و جنگ را ازصبح تا دیگر ادامه دهند .

۴ـ این که در ولایات هم شاخه های همین اداره فعالیت دارند ومعاشات بلند د الری میگیرند نه توانسته اند تا جلو یک فی صد عملیات ها ی مجاهدین را هم بگیرند ، که روزانه دها حوادث نظامی درنقاط مختلف کشور، شاهد چنین واقعیت است.

پس بر می گردیم به این که چرا ریاست ها وحتی مقام اول این اداره اخیراً مورد حملات بیشتر قرارگرفت ؟

پاسخ سهل است ، مجاهدین میخواهند بعد از کوبیدن دشمن دست اول(نیروهای اشغالگر) مزدور دست اول را نیز بکوبد ، ثانیا همین اداره

جنایت کار است که بسیار به نامردی جوانان مجاهد وحتی هموطنان مظنون و بی طرف را هم زیر مجازات غیر انسانی قرار میدهد ، توقیف شده های که اززندان ها وتحقیق گاه های همین اداره بدنام بیرون آمده اند طوری مجازات وشکنجه شده اند که مادام عمر دوچار معیوبیت و دشواری هستند ، اداره استخبارات کابل ، توقیف شده هارا توسط آتش ، شارتی برق ، پیچیدن آلات تناسلی ، وسائر گونه های شکنجه، طاقت فرسا مجازات نموده اند که زندانهای اسرائل در تلابیب وقبلا توقیف گاه های خلق وپرچم درزمان کمونستها برایش عاجز می ماند ، پس مجاهدین هم باید انتقام چنین وحشت هارا از فرد اول گرفته تا مأمور پایین رتبه این سازمان خیانت ملی بگیرند ، واین را نه میتوانیم عکس العمل فعالیت بیشتر ارگان اهرمنی نسبت به سائر ادارات دشمن تلقی نمود ، به صراحت باید تذکر داد که حملات اخیر علیه وابستگان این دستگاه مجازات و انتقام از وحشت ها است ، نه چشم سوزی از این ارگان .

مامیندانیم که در چهار چوب دستگاه شیطانی مذکور، همین اکنون دو جهت وحشی با هم آمیخته اند که علیه عقیده ، دین و مردانه گی افغانها سالها است ایستاده شده اند ونه میخواهند کشور اسلامی ما تحت چترقوانین شرعی دم آرامش کشد ، یک جهت اداره بدنام سازمان جاسوسی اداره کابل همان قسم خورده ها وکمونستهای سابق اند که در زجر و شکنجه انسان پرورش یافته اند و روی باورهای نامقدس قبلی خود علیه دین، عالم دین ، ریش ، لباس اسلامی ، لنگی ودستار حساسیت خاص دارند واز مجازات کسانی که موصوف به صفات فوق اند لذت می برند ، کتله دومی این معجون مفسد افراد شروفساد سابق و جنایت کاران حرفوی اند که روی جهالت خویش هر آن کس را مورد شکنجه ومجازات قرار میدهند که مخالفت به تمایلات حیوانانی این کتله مفسد نموده اند ویا مخالف وحشی گری ها ، فسق ، فجور ، شرافگنی ، مظلوم آزاری و اذیت آنها بوده اند و جلو این وحشی هارا می گیرند ، آن که این دو طبقه را یا به کوی انسانیت وسلامتی ویاهم درصورت عدم پذیرش به گودال نابودی می فرستند آن قانون واقعی اسلام عزیز است و افرادی که آمدن چنین قانون مقدس را به ملت خود به ارمغان می اورند دست اندر کاران دین و بنده های مخلص خداوند یکتا و توانای خود اند ، به همین دلیل این کتله فاسد هم اهرمن آسا ، افراد پاک سرش و روشن ضمیر جامعه خویش را هدف قرار میدهند وسعی دارند که در زمان اسارت ومظلومیت ،آنهارا به مجزات دلخواه ایشان شکنجه دهند ، لذا فدایان راه خداهم روی مکلفیت دینی خود وظیفه خود میدانند که انتقام تمام مظالم را از این وحشی های درنده صفت بگیرند ، درراپور اخیر ملل متحد که نسبت به بدرفتاری تمام ارگانهای ذي ربط اداره کابل پخش گردید ، اکثریت راپور گواهی به آن وحشتها می دهد که در سلولها و تحقیق گاه های دستگاه خیانت ملی اداره کابل به وقوع پیوسته است ، در این راستا به هزاران تن از هموطنان ما که دوباره از چنگال این دشمن زبون نجات یافته اند هم شاهد بالفعل تمام وحشتهای استخبارات کابل می باشند .

دحدیث شریف د تدوین تاریخ

دریمه برخه

داسلامي نړۍ ثقه دیني عالم اروابناددوکتور محمد حمید الله رح ژباړن :شهاب منصور

له سرشمېرنې علاوه یوبل شی هم په لاس را ځي ،هغه (غالباً) دهجرت په لوم ړي کال پوري ا ړه لري، داچې هغه مهال څوک یې تمه هم نکوي ،نو نااشنا او عجیب ښکاري ،هغه د حکومت لپاره دستورجو ړول دي، ورته اړتیا څنګه پیداشوه ؟دمکي قریشو د زیاتو ظلمونو اوتیریو په وجه لوم ړی صحابه وو اوبیا پخپله رسول الله (ﷺ) هجرت کولوته ا ړشوا و له مکې نه مدینې منورې ته لا ړ ،له د ې وروسته که قریشو مسلمانانوته د اذیت رسولو څخه لاس نیولی و ، ممکن چې مسلمانانو له خپلو زړو دوطن، کلي ، کور و ،مالونو او خپلوانو دمحرومیت غم ایستلی وای ،په نوي هیواد کې د ژوندانه ستونزو کمولو په لوري ې پام اړولی و ،خو قریش له هغوئ نه کرار نشول، کله یې دا ولیدل چ ې رسول الله (ﷺ)او مسلمانان نور ددوئ دظلم له مونګلو خوند ې شول ،زیات غوسه شول، ژر یې دمدینې خلکوته یو لیک واستاو : دهغه لیک لنډیز دادی : ستاسې وطن ته زمونږ دښمن پناه درو ړي ، هغه یا خپله ووژنئ، یا یې له وطن وشړئ او یا یې مونږ ته وسپارئ ! که یو هم نکوئ بیا مونږ پخپله یو مناسب ګام اخلو ! څرګند

څرګنده ده چې دمدینې خلکو یوه هم و نه منله ،وروستۍ ګواښنه چ ې مونږ به خپله کوم ګام واخلو ! ممکن چې ناپویه واکمن او حاکم له پام ه غورځولی و ،خو هغه پیغمبر لپاره چ ې هغه الله (ﷻ) نړۍ ته "اسوه حسنه" ګرځولی ،ضروري وه چ ې له ځان وروسته واکمنو ته دا ښوونه وکړي چ ې هغوئ د دغسې نازکو شیبو پر مهال څه وکړي؟ ،یعنې له دښمن په خاصه توګه له ملي دښمن خپلې ملې ګټې خوند ې ساتل ا ړین دي ،دې لړکې د کومو تدبیرو دغوره کولو اړتیا ده؟ دغه مهال رسول الله (ﷺ) دوه احتیاطي ګامونه پورته کړل ،په لوم ړي ګام کې هغه خلک چې مهاجر وه ، هغوئ بې کور اوبې وطن ، یو اجنبي وطن ته په داس ې حال کې لاړوه ،چ ې دتن دیوجوړ کالیو پرته ورسره نور څه نه و ، دهغوئ د ژوند چارې یې جوړې اوتنظیم کړي ، اګر که مهاجرین په شمار ډېر نه وه ، شاید څو سوه وه ،خو هغه مهال وسایل کم وه ، په یوه کوچن ې ښار کې دڅوسوه تنو لپاره دجلا ژوندانه ضروري اسانتیاوې برابرول هم یو قوي چیلنج و ، تقریباً دومره مشکل و ، لکه نن سبا چ ې یو هیواد ته مثلاً دزرتنو په ځای یو لک یا

لس لکه خلک ورشي !هغه مهال دیته ورته ستونزه وه ، خو رسول الله (ﷺ) پخپل سیاس ي فراست دا ستونزه په ښه ابرو مندانه توګه حل ک ړه ، دمدیني منوري هغه خلک چ ي نسبتاً خوشال او شتمن وه ، هغوئ یئ دمهاجرینو له استازو سره یوځای ځان ته وروغوښتل ، رسول الله (ﷺ) انصارو ته دمهاجرینو په باره کې وویل: دوئ ستاسې ورونه دي ، ستاسې په دین دي ، دهمد ي دین پخاطر له خپل هیواد ، او خپلو ټولو شتمنیو محروم شوي ، دلته راغلي ، په تاس ي فرض دي چ ي له دوئ سره مرستې وکړئ ، رسول الله (ﷺ) له هغوئ وغو ښتل چ ي د انصارو هره کورن ۍ دې دمکي یوه کورنۍ پخپله کورنۍ کې ګډه کړي!! د "مواخات" او ورول ۍ مفهوم داندی چ ي یو ځوک طفیلي او مفت خوروي ، یا د ي م ېلمه وي ، رسول الله (ﷺ) وفرم یل: په دي سره تاسې اوس دوړې کورنۍ په ځای یوه لویه کورن ۍ شوئ ددوه تنو په ځای دځلورو تنو کورنۍ شوئ، دواړه لوري به کار کوي! کله چې دکار کول د ېر وي نو عاید به هم د ېر وي ! چې عاید د ېر شي ددواړو کونیو ګذراه به اسانه وي ! هیڅ کورنۍ به په بله بار نه وي ، ټولو په خوښه درسول الله (ﷺ) غوښتنه او منله ، د "مواخات" نتیجه دا شوه ، چ ي دځوسوه کورنیو دژوند چاري په لن ډ وخت کې جوړې شوي ، وروسته دا سوال پاته نه و ، کومه کورنۍ خوشحاله ده او کومه نه ! کوم ي پناه ورکړي او کومه له بیرون مهاجره راغلي ؟ له دې مهم کاره چې رسول الله (ﷺ) وزګار شو ، یوه بل مهم کار ته یې پام وګرځاو ، دا چ ي تر دغه مهال یعن ي د رسول الله (ﷺ) دهجرت له زمان ي ځخه وړاندې په مدینه منوره کې هیڅ دولت یا حکومت نه و ، هلته قبیلو ي نظام حاکم و ، د ېرد ي پرځویشت او د ېرشو په منځ کې قبیلې وي ، هره قبیله له بل ي ازاده او خپلواک وه ، ځنګه چ ي نن سبا حکومتونه او سلطنتونه ازاد دي ، هر وخت به یې ترمنځ جګړې وه ، زمون ږ تاریخ پوه انو لیکلې ، دمدینې منور ي انصار د اوس او خزرج په دوه قبیلو ویشلې وه! ددواړو ترمنځ د یو سل شلو کلو دښمني او جن ګ و ، ښکاره ده کله چې ددوه قبیلو ترمنځ دښمني وي د هغو ترمنځ دګډ حکومت جوړلو سوال نه پیدا کیږي ، مدینه کې د عربو پرته نور خلک هم میشت وه ، مثلا : دیهودو قبایل اوسیدل ، هغوئ زرشاوخوا کورن ۍ وي ، تخمیناً نیم ي یهود ان وه او نیم ې عرب ، په دې علاوه عیسایان هم وه ، چې کره شم ېر یې ند ی معلوم ، په یو روایت ۱۵ او په بل ۵۰ کورنۍ وي چې د اوس قبیلې دننه میشت وي.

په هرصورت د ترمنځویې یو والی او اتحاد نه و ، داتصمیم نیول چ ي ټول په یوه ګډ حکومت کې یوځای شي ، په ځرګنده خوب لېدل و ، خو اړتیا یې احسا سوله ، له دې وج ې رسول الله (ﷺ) دمواخات له لارې دمهاجرینو دژوندانه اړتیاوو پوره کولو ځخه وروسته یې دا ګام پورته کړ ، چې د ټولو ډلو او قبیلو استازي یې ځان ته ور وغوښتل ، چې په هغوئ کې له مسلمانانو علاوه یهود هم وه ، په صحیح بخاري ک ي له انس (رضي الله عنه) ځخه روایت دی : دا غونډه ذما دپلار په کور کې وه ، دیهودو استازي هم وه او دعربانو هم ، په عربانو ک ي د اوس او خزرج قبیلې د دواړو ، هم له اوس او خزرج ځخه دمسلمانانو استازي وه رسول الله (ﷺ) هغوئ ټولو ته مخاطب شو (غالباً) (ول ي په صراحت سره ند ي راغلې چ ي دغونډې شروع له ځه وشوه) اوس تاسې په ځو قبیلو ویشل ي یاست ، له یو بل ازادیاست ! ددې په نتیجه کې که په کومه قبیله له بهر دښمن یرغل راوړي ، پاتې نور ي قبیلې او خلک ځانونه بیطرفه نیس ي ، هغه قبیله په یوازې اړده چې د دښمن د ټول ځواک نه خپله دفاع وکړي ،

عین ممکن چې هغه قبیله شکست وخوري ، څو ورځې وروسته بله قبیله هم له ورته انجام سره مخ شي داسې دریمه او څلورمه هم ، ددې په نتیجه کې به تاسې ټول ددښمن په لاس ویو ، یو هلاک شئ ، ایا مناسب نده ، چې ټول په ګډه یو حکومت جوړ کوئ ، دګډ حکومت په شتون کې به د ښمن له تاسو ډار ولري ، چې ذما دښمن یوه قبیله نه ، بلکې ګنې قبیلې دي ، او ټول په ګډه دفاع کوي ، تنها د ټولو قبیلو دښمنې ګرانه ده ، دا به یو ګډ تړون او عهد وي چې ددښمنانو د تیرې په وړاندې به د مالي او اجتماعي ارزښتونو ساتندویه او ضامنه وه ، دا چې رایه نهایتې معقوله وه ، ټولو په یوه غږ یې لږ ترلږه لوی شم پر قبوله کړه ، دلوی شم پر قید راول په دې صحیح دی چې په همدې واقعه کې راغلي چې داوس قبیلې څلور کورنۍ په پیل کې نه وې شریکې.

دمدینې دغونډې هدف یوا ځې دا نه و کوم چې مابیان کړ ، رسول الله (ﷺ) هغوئ ته وویل :ستاسې ګډ ځواک به ستاسې ددفاع ضامن وي ، بلکې یو بل ډېر اهم څېزهم و کوم چې مونږ ددې دستور دننه وینو او په کوم چې ګردو اتفاق هم کړی ، هغه دا چې هري قبیلې ته دپخوا په څېر پر ګنو چارو کې بشپړه ازادي ورکول شوه ، یوا ځې دڅو څېزونو په اړه صراحت وشو چې هغه ددې بېرخای چې یوا ځې ، یواځې پرمخ ویو ړل شي ، ښه دا ده چې ټول پکې ګډه ونډه ولري.

دمحاکمو او عدالت په ا ړه ټریوه ځایه پخوانی قبایلې نظام پخپل حال پرې ښودل شو ، خو که قضیه ددوه جلا قبیلو ترمنځ وه ، بیا به مرکزته رجوع کېږي ، یعنې دجګړو نو په اړه قضایا وو کې دروستی پرېکړې به لپاره ښاري واکمن ته رجوع کېږي ، په ورته تو ګه ددې خبر ې یادونه هم شوې چې دمذهب په ا ړه به ازادي وي ، یهودیان به په یهودیت ، مسلمانان به پخپل دین (اسلام) ، وي یوه ثیقه ولېکل شوه ، کومه چې لفظ په لفظ ترمونږ رسیدلې ، هغه ۵۲ مادې لري ، پکې ښه تفصیل راغلی ، چې د کومو چارو سرته رسول پکاردي ، زه ویلای شم دا دهغه مهال داسلامي حکومت لیکلی دستوردی

اوس ما اشارتاً وویل چې : چې پکې دتضمین یادونه راغلې ، تعجب په دې ؛ هغه ا رتیاوې چې نن شته ، پخوا نه وې او دتیرې زمانې ارتیاوې نن بې ارزښته دي ، مدینه منوره کې درسول الله (ﷺ) په ژوند کې دوه مسئلې دزیاتې د اهمیت وړ وې ، یو که کوم سړي به په خطا ښل سړی قتل کې ، قاتل به ا ړ و چې دمقتول وارثانو ته دیت ورکړي ، دا دوینې توېولو بدل د ځایې رسم ورواج له مخې دومره ډېر و ، چې دقبیلو له سر درانو اوشتمنوپرته نورو هغه نشوای ورکولی ، بل که هره دغسې قضیه به پېښه شوه ، په باب به یې اجتماعي تصمیم نیول کېده ، یعنې یوا ځې قاتل به ذمه وار نه و ، بلکې دهغه ټوله کورنۍ به یې ذمه واره ، چې دخپل تن له لوري دیت ورکړي ، دویم شی چې په هغه زمانه کې ورته ضرورت و ، او نن ورته نشته ، هغه دا چې کله یو چا به خپل د ښمن ونیو ، قید به یې کړ ، هغه به یې دفدې په بدل کې پرېښود ، دا فدیه هم ډېره زیاته وه ، یعنې سل او ښان به یې فدیه ورکول ، که غریب سړی به ونیول شو ، دهغه دخلاصون صورت به نه و ، هغه به دخپل د ښمن لخوا غلام و ګرځول شو ، په داسې وخت کې دهغه دخلاصون لپاره فدیه ورکول د ټولنې په ذمه وه ، رسول الله (ﷺ) په مدینه منوره کې داسې انتظام وکړ ، چې په هره ، هره قبیله کې به یوه ټولنه وي ، چې دهرې قبیلې سړی ونیول شو یا دقتل په لړ کې ددیت ورکولو ارتیاوه ، هغه به یې له ورکړې عاجزه و ، دهغه

دړېدې خپل خپلوانو ټولنې به ور سره مرسته کوله ، که د هغوئ توان نه رسید ، له بلې ټولنې به یې مرسته غوښته ، که په هغه به هم ونشوه له بلې به یې کومک غوښته ، که ټول به بې وس شول نو له مرکزي حکومت یې مرسته غوښتله ، دا یو ځانګړی عملي پلان و چې په مدینه منوره کې رسول الله (ﷺ) جوړ کې، او د مدینې په دستور کې ئې هم یادونه راغلې .

حاصل داچې په رسمي توګه د حدیث لیکلو یو مثال دغه د مدني دستور وثیقه هم ده ، د لومړنیو کارونو څخه یو بل شی هم شته چې کله د مواخات نظام پلې شو، د مهاجرینو د استوګنې چاري بشپړې شوي ، بیا ښاري حکومت تاسیس شو ، یعنې یو داسې هیواد چې د دغه زمکنی مسافت تر یوه ښار محدود و ، د هغه دننه د عدالت او انصاف په ګډون د ټولو اړینو چارو د بشپړولو وروسته رسول الله (ﷺ) په دې بسیا ونکړه ، بلکې د مکې د ګواښ په ځواب کې ئې یو بل دفاعي ګام هم واخیست ، هغه دا و : چې د مدینې منوري له شوخواه سیمو ئې لیدل پیل کړل ، مثلاً : د مدینې منوري شمال ته لاړ هلته یې ځایي قبایل قانع کړل : چې بیشکه تاسې یوه ازاده قبیله یاست او خپلواکې موښته ، البته که کله له دښمن سره مو مقابله را ځي ،نو یوازې به جنګیږئ ، ایا غوره نده چې زمونږ او ستاسې ترمنځ یو تعاهد وشي ، که پر تاسې هر دښمن یرغل وکړي ، مونږ به ستاسې کومک ته را ځو ، او که په مونږ څوک حمله وکړي ، او مونږ تاسې غواړو ، تاسې به زمونږ مرستې ته را درومئ ، دا خبره د هغوئ خوښه شوه او له رسول الله (ﷺ) سره ئې ګډ دفاعي تړون وکړ، دالوظنامه یا تړون لیکل شوی او په لیکلې ښه ترمونږ رسیدلی ، بیا رسول الله (ﷺ) د مدینې منوري مشرق ته دروم ې ، بیا د جنوب په لور ځې ، غرض داچې بېلابېلو جهتونه او سیمې یې ولېږلي ، له هجرت وروسته یې د ګڼو نامسلمانو قبایلو سره تړونونه وکړل ، چې دا تړونونه په لیکلې ښه شوي ، دا د لومړي وخت حالت و ، چې یو لورته د مدینې دننه دامن و امان او یووالی چاري یې ډادمنې کړي ، او هم یې د مدینې شاوخوا د ملګرو قبایلو جال خور کړ ، که دښمن ورباندې حمله کوله ، هغه به د مدینې منورې په څنډو او پولو کې له میشت قبایلو سره په جنګ کیوت او مسلمانان به تري خوندي و ، دا یو سیاسې تدبیر و چې رسول الله (ﷺ) غوره کې ، په لیکونو کې ئې بیا بیا یادونه شوي .

وروسته نور داسې ګڼ مواد په لاس راځې ، چې په لیکلې ښه دي ، له هغو څخه ځینې شخصي دي مثلاً : کله به رسول الله (ﷺ) ځانته کوم غلام واخیست ، په اړه ئې یو سند به ولیکه چې دا غلام ما له فلاني ... نه په دومره ... وپیره ، یا کله به رسول الله (ﷺ) یو غلام ازاد کړ ، هغه ته به یې دازادیدو سند ولیکه ... فلانی شخص ځما لخوا ازاد دی ... ټول دې خبروې دغه تن ازاد دی ... ، څوک یې نشي غلام ګرځولی ، داسې نور ... یو بل شی چې لږ وروستی دی ، غالباً د هجرت په ۸ م کال رسول الله (ﷺ) یوه تن ته خط ولیکه : څنګه تا ته داپیغام ورسي سملاسې که سهار او که ماښام د زمزم اوبه د دې سړي په لاس را ولېږه ! هم داسې چې کله د اسلامي حکومت حدود پراخ شول د بېلابېلو ولایتونو او سیمو د چارواکو په نوم پیغامونه لیږل ! چې ... داوکړه ! ... دا مه کوه ... کله به چارواکو پوښتل په دې اړه څه وکړو ؟ ځواب ئې له مدینې منوري څخه لېږل کېد ... غرض داچې رسمي لیکونه ګڼ دي ، اوس مهال د هغو شمیر چې مونږ سره شته لږ تر لږه څلور سوه نبوي

لیکونه مونږ په لاس کې لرو ، په هغو کې دعوتې لیکونه هم شته :لکهٔ :قیصر او کسرا ته د اسلام دعوت ورکول، ځنې حلفي تعاهدات هم دي او نور.....

اوس د حدیث دویم ا ړخ ته را ځو یعنې هغه حدیث چې رسمې لیکونه ندي ، بلکې صحابه وو په شخصي تو گه ترتیب او را ټول کړیدي، عام صحابه امیان وه ، په لیک لوست نه پو هیدل ، لیکن ریښتونې مسلمانان وه ،په مدینه منوره ک ې زیاتره وخت به درسول الله (ﷺ) په مجلس کې ناست وه ارشادات به یې اوریدل ، بیا به یې په هغو عمل کا و ، خو یوه واقعه پېښ ه شوه کومه چې غالباً د حدیث دتدوین د پیل زریعه شوه، یو صحابي راغی ، نوم یې ندی ښودل شوی ، په ترمذی کې حدیث شته ، هغه رسول الله (ﷺ) ته وویل :دا الله رسوله ! ته هره ورځ مونږ ته چې کوم ځ بیانوي هغه ډېر په زړ پوري او گټوردي ، خو ذما یاداښت کمزوری دی ، له ماژر هېږشي ؟رسول الله (ﷺ) هغه ته وفرمایل:استعن بیمینک (له خپل ښ ي لاس کومک واخله) یعنې لیکل کوه ، غالباً هغه د دي اجازت وروسته لیکل پیل کړ ل ، دا چې وروسته ځ ه وشول؟ په دې اړ ه تفصیل نشته ، وروسته یوه بله واقعه چې هغه هم غالباً د دي حکم او د "استعن بیمینک" د الفاظو نتیجه ښکار ي هغه د عبدالله بن عمرو بن العاص واقعه ده نوموړ ی ځ وان و ، غالباً شپاړ س یا او ولس کلن و ، نهایتي ذهین او دیندار ه و ،د علمي ذوق خښتن و ، د علمي ذوق اندازه یې له دې ځ خه کېږي چې سریانې ژبه یې هم یاد وه ، د عیسویانو انجیل به یې په سریانې ژبه لوست ، هغه ته رسول الله (ﷺ) اجازه ورکړ ي وه چې خپلو علمي هڅ و ته

دوام ورکړ ي ، یعنې د عظیم الشان قرآن ترڅ نگ بایبل هم ولولي ، نو کله چې عبد الله بن عمرو بن العاص خبر شو چې فلاني ته رسول الله (ﷺ) وفرمایل: استعن بیمینک ! هغه هم لیکل پیل کړ ل ، له رسول الله (ﷺ) ځخه به یې چې ځ ه اوریدل هغه یې ژر یاداښتول ، په دې کې دوه درې ورځې تیري وي ، ملگرو یې ورته وویل: عبدالله! ځ ه کړ ي ؟ رسول الله (ﷺ) خو بشر دی کله خوشال وي کله خفا ، ته د هغه هره خبره یا داښتوي ، دا مناسب نده ، که بل ځ وک وای نو د هغوئ په دې خبره شاید وروسته شوی و ای، خو دا چې نوموړ ی ښه ذهین و ، پخپله مخامخ یې له رسول الله (ﷺ) ځخه وپوښتل: په ځ واب کې رسول الله (ﷺ) ورته وفرمایل خامخا یې لیکه ، د دې وروسته هغه د پوره داډ لپاره و پوښتل کله چې ته خفه هم وي ؟ رسول الله (ﷺ) وفرمایل :سو گند په هغه ذات د چا په وس کې چې ځما ساه ده له دې چې کومه خبره وځ ي هغه به حق وي ، ځرگنده وشوه چې عبد الله بن عمرو بن العاص په بشپړ ډ اډ سره لیکل ، له ځ ینو روایتونو جوتیږ ي چې د نوموړ ي د حدیثو مجموعه کې ځ ه لس زره حدیث وه ، وروسته یې ځ وی بیا یې لمسي له هغې قلمي نسخې په مرسته نورو ته حدیث ښودل، ،عمرو بن شعیب بن عبد الله بن عمرو بن العاص مشهور محدث تیر شوی دی .

هم داسې یو بل مثال لرو : لکه ابو رافع یو ازاد غلام و ، یو ورځ له رسول الله (ﷺ) پوښتنه کوي :ایا زه ستا حدیث لیکلی شم ؟ رسول الله (ﷺ) ورته اجازه کوي ، هغه یوه مجموعه تیاره کړ ه ، بیا په ټولو کې د ډېرثقه انس بن مالک (ﷺ) دی ...نور بیا :

د جدی ۲۸ مه

د روحانیت پرځلانده څیوو دکمونیستي خفاشانو ناترسه برید

قاري حبیب.........................

۳۳ کاله وړاندې د ۱۳۵۷ هـ ل کال د جدي دمیاشتې په ۲۸ نیټه هغه وخت چې اسلامي افغانستان دساړه اقلیم اوکمونیستي سره سیاست له یوې سختې مرحلې تېرېده ، د هیواد په زړه کابل او ځینو نورو سیمو کې خورا دردوونکې ماجرا پیښه شوه.

نیمه شپه وه ، په افغانستان کې دحضرت مجدد الف ثاني شیخ احمد سرهندي رحمه الله اولاده دقلعه جواد دحضراتو دکورنۍ اعضاء او متعلقین په کابل او دهیواد په بیلابیلو برخو کې په خپلو کورونو کې په خپل ذکر ، تهجد او وظایفو بوخت وو اویا دخوب په عالم کې وو ، چې ناڅاپه دکمونیستي رژیم دشیطاني استخباراتي شبکې (اګسا) ټانګونه او تور کرغیړن جیپونه وغوریدل ، سره له دې چې دثور له کمونیستي کودتا وروسته دتورې شپې په ترورېمې کې دمتدینو افغانانو په خلاف ددې اداري عملیات یو معمول ګرځیدلی وو ، او هره شپه ډلې ډلې متدین افغانان ، ملاامامان ، محصلین ، استادان ، طالبان ، قومي مشران او دافغان اولس نور زبده اشخاص نیول کیدل ، او دنامعلوم راتلونکي په لور وړل کیدل ، خو په دې شپه ددې کرغیړنې اداري دبدبخته کارمندانو عزائم غیرمعمول ناولي او خطرناک وو.

هوکې په دې شپه دکمونیست لومړي وزیر حفیظ الله امین په قومنده داګسا مشر اسدالله سروري او مرستیال یې عزیزاحمد اکبري د یوه خورا ظالمانه پلان تطبیقولو ته ملاتړلې وه ، دوی امر ورکړی وو چې دافغانستان په ټولو ولایاتو کې دې دقلعه جواد دمجددي حضراتو دکورنیو غړي او متعلقین ونیول شي ، دهمدې لپاره خو دحضراتو کرامو دنیولو لپاره په کابل ، هرات ، کندهار ، جلال اباد ، لوګر ، نجراب ، پنجشیر او کوهستان کې په یوه وار عملیات پیل شول.

دکابل دعملیاتو مشري اسدالله سروري په خپله په غاړه درلوده ، دې ظالم کمونیست له لسګونو عسکري جیپونو او عسکرو سره دکابل دخوشال مینې په قلعه جواد سیمه کې د ضیاء المشائخ حضرت محمد ابراهیم مجددي رحمه الله په کور او خانقاه هجوم ورووړ ، په نیمه شپه دحضراتو کرامو دکورنۍ ، ماشومان ، تورسرې او نارینه دخوب له بستر څخه راپاڅول شول ، اود

کابل په سخته یخنۍ کې یې دکمونیستي زندان په خوا رهي کړل شول.

قضای مبرم

دغزني ولایت اوسیدونکي مولوي صاحب خان محمد له خولې نقل کوي ، چې دهمدې صحنې شاهد پاته شوی ، دی وایي زه له غزني څخه دحضرت صاحب متعلقینو کابل ته دحضراتو کرامو دحال اخیستلو لپاره واستولم ، او بلداچې په دې حالاتو کې دحضرت صاحب مشوره او لارښوونه ترلاسه کړم ، په همدې شپه چې کمونیستانو په قلعه جواد برید وکړ ، زه هم هلته وم ، نیمه شپه حضرات کرام دکمونیستانو لخوا عسکري جیپونو ته وخیژول شول ، په دوی کې جناب رئیس صاحب (حضرت اسمعیل مجددي) خورا مطمئن وو ، او یې له کوم تأمل څخه له کمونیستي عسکرو سره روان شو او موټر ته وخوت ، زه هم په همدې صحنه کې حاضر وم خو مشر حضرت صاحب ضیاء المشائخ مجددي ډیر خپه وو په همدې وخت کې ماته راښږدې شو او څو خبرې یې راته وکړې ، مجاهدینو ، علماء او خپلو مریدانو ته دپیغام په توګه یې راته وویل چې دوی ته ووایئ چې هیڅکله جهاد پرې نږدئ ، جهاد ته ادامه ورکړئ ، په همدې رابطه یې څو نورې خبرې هم وکړې ، په دې وخت کې چې رئیس صاحب دمشر حضرت صاحب څنډیدل ولیدل ، نو له موټره یې ورته راغږ کړل چې (بیا باباجان ! قضای مبرم است) یوازې همدا جمله یې وویله او حضرت صاحب په چټکو ګامونو دموټر په خوا ور روان شو.

د جناب رئیس صاحب له دې جملې او اطمینان څخه داسې ښکاري چې کیدای شي هغه ته له وړاندې دخوب لیدلو یا الهام په طریقه دخپل مظلومانه برخلیک او شهادت زیری ورکول شوي وي ، څرنګه چې دالله تعالی رښتیني بندګان دالله تعالی په لار کې شهادت ترټولو ستره کامیابي او سعادت بولي نو څکه ورته داسې خوشاله وو او په پوره اطمئنان ور روان وو.

په دې شپه څوک ونیول شول

په همدې شپه نه یوازې دکابل دحضرات کرامو دکورنۍ ټول غړي حتی دښځو او ماشومانو په ګډون ونیول شول چې ښځې او ماشومان وروسته بیرته خوشي شول بلکې دهیواد په نورو برخو کې هم دهمدې کورنۍ ډیر کسان ونیول شول ، هغه معلومات چې تراوسه نشر شوي دي دنیول شویو افرادو نومونه په لاندې ډول ښیي.

په کابل کې نیول شوي حضرات

1- حضرت مولانا ضیاءالمشایخ محمدابراهیم المجددی ابن نورالمشائخ فضل عمرمجددي رحمهماالله تعالی دطریقه عالیه نقشبندیه مرشد او دافغانستان په سطحه ترټولو لوی متبحرعالم.

2- حضرت محمداسماعیل مجددی بن حضرت ضیاءالمشایخ مجددي ، مشهور په رئیس صاحب دنورالمدارس فاروقیه مدرسې رئیس او دخدام الفرقان اسلامي نهضت مؤسس.

3- حضرت محمد اسحق مجددی بن حضرت ضیاءالمشایخ رحمهماالله (استاد)

4- دوکتور محمدیعقوب مجددی بن حضرت ضیاءالمشایخ

5- حضرت ضیاءاحمد مجددی بن حضرت ضیاءالمشایخ په صدارت کې مأمور.

6- حضرت فضل محمود مجددی دمشر حضرت صاحب زوم
7- حضرت احمد سعید مجددی دمشر حضرت صاحب خوریې
8- حضرت احمد مسعود مجددی دمشرحضرت صاحب خوریې
9- حضرت احمد مودود مجددی دمشر حضرت صاحب خوریې
10- حضرت احمد شعیب مجددی دمشرحضرت صاحب خوریې
11- داکتر محمد عزیز مجددی بن اشرف جان مجددی
12- حضرت هدایت الله مجددی پسر اشرف جان مجددی
13- حضرت علی احمد مجددی مشهور پهبزرگ جان آغا.
14- حضرت داکتر محمد عظیم مجددی، طبیبه
15- حضرت ذکر الله مجددی بن حضرت صاحب میاجان آغ ، انجنیر.
16- حضرت غلام داود مجددی مشهور په بابا جان آغا.
17- حضرت رفیع الله مجددی بن حضرت بابا جان آغا مأمور
18- حضرت ضیاءالله مجددی بن حضرت بابا جان آغا ، مامور
19- حضرت محمد یحیی مجددی بن کبیرجان آغا ، متعلم

په لوګر کې نیول شوي حضرات

20- محمد سلیم بن غلام نقشبند مجددی
21- عطامحمد بن غلام نقشبند مجددی

په هرات کې نیول شوي حضرات

22- حضرت عبدالب قی مجددی، سناتور.
23- حضرت عبدالصمد مجددی، ولسوال.
24- حضرت فضل حق مجددی.
25- حضرت علی محمد مجددی.
26- حضرت محمد انور مجددی.
27- حضرت عبدالقدیر مجددی.
28- حضرت نجیب الله مجددی، متعلم
29- حضرت حضرت الله مجددی، متعلم
30- حضرت ضیاءالله مجددی بن احمدسعید جان مجددی، متعلم

په کوهستان کې نیول شوي حضرات

31- حضرت مولانا شاه عبدالحمید مجددی مشهور پهحضرت صاحب کوهستان.
32- حضرت محمد موسی جان بن عبدالحمید مجددی.
33- حضرت صاحب نورالحق مجددی مشهور په آغا بابی.
34- حضرت عصمت الله مجددی.
35- حضرت غلام حسن مجددی.
36- حضرت عبدالستار مجددی.
37- حضرت حبیب الله مجددی.
38- حضرت فیض احمد مجددی.
39- حضرت فضل ربی مجددی.
40- حضرت عبدالستار بن غلام ربانی جان آغا مجددی.
41- حضرت عبدالکریم مجددی.
42- حضرت میان احمد آغا مجددی.
43- حضرت آغاګل بن ګل آغا جان مجددی.

په پنجشیر کې نیول شوي حضرات

44- حضرت نعیم بن غلام قدیر آغا مجددی
45- حضرت میا آغا مجددی

46- حضرت یوسف آغا مجددی
47- حضرت محمد قاسم مجددی
48- حضرت شمس الحق مجددی
49- حضرت سراج الحق مجددی
50- حضرت محمد ادریس مجددی
51- حضرت میان آغا بن میان خورشید مجددی
52- حضرت محمد نسیم فرزند میان عبد القادر مجددی
53- حضرت محمد یوسف بن امین الدین مجددی
54- حضرت حضرت جان آغا بن فرخ جان آغا مجددی
55- حضرت معصوم جان بن حضرت جان مجددی

په ننګرهار کې نیول شوي حضرات

56- حضرت عبد الجبار مجددی
57- حضرت غلام قیوم مجددی
58- حضرت مولوی شیرین آغا
59- حضرت قاری فضل ربی مجددی بن غلام ربانی مجددی
60- حضرت عبد الحق مجددی بن غلام ربانی مجددی

په جلال اباد کې نیول شوي حضرات

61- حضرت غلام احمد مجددی ستر عالم او د طریقت مرشد
62- حضرت حسن احمد مجددی
63- حضرت سید مسافر مجددی بن غلام نبی مجددی
64- حضرت خان پاچا بن غلام نبی مجددی

په کندهار کې نیول شوي

65- عبد السلام مجددی
66- امام الدین مجددی
67- ولی محمد مجددی.

په لوړ یادو شویو کسانو سربیره د حضراتو د کورنیو واړه ماشومان هم د کمونیستانو لخوا ونیول شول او زندان ته واچول شول، خو هغه چې عمرونه یې ډیر کم وو بیرته خوشي شول، مګر د لوړو یادو شویو حضراتو له نیول کیدو وروسته بیا هیڅ معلومات نه دي شوي، غالب ګومان دادی چې کیدای شي دغه ٧٧ تنه ټول به د کمونیستي جابرانو لخوا په شهادت رسول شوي وي.

د دې ستر جنایت عاملین څوک وو

سره له دې چې ټول کمونیستان او د هغه مهال کمونیستي رژیم له اسلام، دیني علم، تصوف او روحانیت سره خلاف وو او په ټول قوت سره یې هڅه کوله چې له افغانستان څخه اسلامي فکر محوه کړي، خو دا چې د حضراتو کرامو د کورنۍ په وړاندې په مباشر ډول چا او کومو کمونیستانو په دې جنایت او تجاوز کې لاس درلود، نو له وروستیو پلټنو او رابرسیره شویو معلوماتو څخه داسې ښکاري، چې د ډیرو نورو جنایاتو غوندې د دې کار امر د کمونیستانو لومړي وزیر حفیظ الله امین ورکړی وو، چې د استخباراتو د سازمان مشر اسدالله سروري او معاون یې عزیز احمد اکبري ترسره کړل.

د شوروی د استخباراتو د اداری کي جي بي یو وروستی لوڅ شوی سند ښیي، چې د غه کار د حفیظ الله امین په امر اسدالله سروري ترسره کړ، دا سند چې فارسي ته ترجمه شوی او د حفیظ الله امین له پټو معاملو او جنایاتو پرده پورته کوي په یوه برخه کې یې راغلي (. امین همچنان سروری را مجبور ساخته بود از پول به دست آمده از بابت فروش ملکیت های ضبط شده از کسانی که یک جا

با خانواده های شان توسط «اگسا» دستگیر وسر به نیست می شدند، به وی وبرادرش زاده اش اسدالله امین سهم بدهد. م رکز رهنمایی معاملات درکابل جهت فروش چنین ملکیت های ضبط شده ایجاد شده بود وعاید حاصله ازآن به کیسهٔ امین سرازیرمی شد. سروري مبلغ چهار میلیون افغانی، 800 سکه طلا يي و12 صندوق زیورات زنانه که ازاعضای خانواده مجددی روحانی مشهور به دست آمده بود نیز به امین انتقال کرد) دغه رنګه دهغه وخت دخلقیانو دحکومت دمخابراتو وزیر سید محمد ګلابزوی هم له ګوربت مجلې پرلپسې ۳۵ ګڼې سره په مرکه کې منلې ده چې دغه کار دحفیظ الله امین لخوا ترسره شوی دی.

۷ کاله وړاندې چې کله په کابل کې داګسا همدغه پخوانی مشر اسدالله سروري دمحاکمې میز ته ودرول شو، نو دکابل دحضراتو دکورنۍ اوسني مشر حضرت احمد امین جان مجددي په نوموړي باندې ګواهي وویله او سروري یې ددې جنایت اصلي عامل وباله، حضرت امین جان اغا چې هغه مهال ماشوم وو او خپله هم نیول شوی وو خو وروسته بیرته خوشې شو وویل چې په هماغه شپه چې د ۱۳۵۷ دجدي ۲۸ مه دجمعې شپه وه په خپلو سترګو یې اسدالله سروري ولید چې له نورو عسکرو سره یوځای یې ددوی په کورنۍ برید وکړ ، دخانقاه دروازه یې ماته کړه، او حضرات کرام یې ټول ونیول او زندان ته یې یووړل، نوموړي وویل چې اسدالله سروري له تیرو څو کلونو راهیسې بندي دی خو تراوسه رسما محکوم شوی نه دی، او ددې په خاطر چې دشهیدانو ورثه خوشاله شي باید اسدالله سروري ته داعدام سزا ورکړل شي.

دکرزي حکومت يوې ابتدایه محکمې په ۲۰۰۵ م کال کې اسدالله سروري ته داعدام سزا واوروله، خو کله چې په نیویارک کې دبشري حقوقو یوې ډلې دامحاکمه غیرعادلانه او دسروري په حق کې تیری وباله نو دکرزي حکومت هم له هغه راهیسې په دې مسئله خاشه اچولې او سروري ته تراوسه څه نه دي ویل شوي.



که هرڅه وه او هرڅوک وو، خو دکمونیستانو دې جنایات افغان بې څوکه اولس او بې کسه وطن ته خورا ستر او نه جبرانیدونکی زیان واړاوو، مجددي حضرات کرام دافغانستان په سطحه هغه خلک وو، چې ددین په اصلي منابعو قران او حدیث هم علما پوهیدل او هم یې عملا په ځان تطبیق کړي وو، دوی دارشاد، علم او عرفان سرشار منابع وو، چې نه یوازې یې دټولنې په اصلاح کې ستر رول درلود، بلکې دهیواد په سطحه یې په سیاسي کچه په چاروا کو هم سترنفوذ درلود، همدوی وو چې هیواد یې دامان الله خان له سیکولرستي فتنې نه وژغوره، دانګریزانو په خلاف یې دجهاد او ازادۍ توغ هسک کړ او په وروستیو لسیزو کې یې ظاهرخان او داود خان ته پرلپسې ګوشمالي ورکوله، او له راتلونکو خطراتو یې خبرول.

الله تعالی د ې په دوی خپل بې پایه رحمتونه نازل کړي، امین ۲۲/۱/۲۰۱۳ میلادي

عبدالرؤف "حکمت"

څو شیبې د کندهار له مجاهدینو سره

د روان ۲۰۱۳ م کال دجنوري په ۵ نیټه دکندهار دټولو ولسوالیو او دجهادي مسؤلینو او مجاهدینو یوه ستره ناسته رابلل شوي وه ، چې دالصمود مجلې همکار هم په کې شرکت درلود ، ددې مشورتي او تربیتي ناستې په ضمن کې دالصمود مجلې همکار دکندهار دځینو ولسوالیو له جهادي مسؤلینو سره دزړه خواله هم کړي دي ، چې ددې ولایت دبیلا بیلو سیمو په اړه دهغوی توضیحات دلندو څرګندونو په بڼه رانغاړو. اداره

ژړۍ ولسوالي

ژړۍ ولسوالي دکندهار ښار په لویدیځ کې دکندهار هرات دلویې لارې جنوبي اړخ ته پرته ده ، دا ولسوالۍ چې دسنګ حصار سیمه یې دطالبانو داسلامي تحریک دلومړني پاڅون سیمه بلل کیږي ، دنلغام ، پاشمول ، ماکوان ، سنګ حصار ، سنځري او نادي په نومونو څو پراخې او ګڼ میشته سیمې لري.

ژړۍ لکه څنګه چې دشوروي ضد جهاد په مهال دمجاهدینو یو مشهوره کمین ګاه وه ، دامریکا خلاف جهاد په مهال هم دمجاهدینو یوه مهمه عملیاتي سیمه وه ، ددې ولسوالۍ دپاشمول او سنګ حصار ساحې دامریکایي کتارونو او ځمکنیو قواوو لپاره خورا خطرناکې سیمې بلل کیږي ، چې په تیرو لسو کلونو کې په کې امریکایانو خورا درانه تلفات ګاللي دي.

امریکایان او کناډایان چې په دې سیمه کې له سختو تلفاتو سره مخامخ شول ، په پای کې اړ شول چې دولسوالۍ په ساره او اوږده کې دامنیتي کمربند یوه خورا نادره ، ظالمانه او پُر مصرفه نقشه پلې کړي ،امریکایانو څو کاله وړاندې په دې سیمه کې دعملیاتو په مهال په ژړۍ کې طولا او عرضا اوږده اوږده سرکونه ، زابوران ، پاخه دیوالونه او اغزن سیمونه وغځول ، او په لسګونو دخارجي او داخلي عسکرو پوستې یې په کې جوړې کړې.

ژړۍ چې امریکایانو په کې په خورا درنو قربانیو پوستې جوړې کړې ، دمجاهدینو دهڅو په برکت له څو کلن امریکایي ستم وروسته دامریکایانو دخورا عبرتناک شکست او شرمینده تیښتې شاهده ده.

دژړي مجاهدین وايي چې د تیر پسرلي راهیسې امریکایان دژړي په مربوطاتو کې له کابو ۲۱ قرارګاوو څخه تښتیدلي دي ، دا ټولې هغه قرارګاوې دي چې امریکایانو یې په اړه پخوا ویل چې بیا به کله هم ترې په شا نه شي ، او چې په څومره قربانیو یې نیولې په همدومره قیمت به یې وساتي.

دژړي هغه قرارګاوې چې امریکایان ترې تښتیدلي په لاندې ډول دي.

په نلغام کې دمکتب ، کاکړانو ، عبدالعلي کلا ، سرکلي ، کډرو او میرولیانو قرارګاوې.

په سنګ حصار او کولک کې د دارو خان غونډۍ ، کوټیزو ، شکار غونډۍ ، سرټک ، دکولک او سنګ حصار دمابین او دوزیرو دسیمې دوه قرارګاوې.

په پاشمول کې کې دملایانو ، ډګر ، شکورغونډۍ او پانیزو قرارګاوې.

په سنځري کې دشوغې ، کلاوک ، او عیدګاه دسیمې قرارګاوې ، دغه راز له نادي څخه یوه او له ماکوانو څخه دری قرارګاوې په تیښته مجبورې شوي دي ، دیادونې وړده چې په یادو قرارګاوو کې ځینې امریکایانو یو مخ خالي کړې او په ځینو کې یې داخلي سرتیري پرې ایښي دي.

په ژړي کې امریکایان اوس دسیاچوی ، نلغام ، غونډۍ ، حوض مدد ، مرکز او سنځري په سیمو کې مجموعا شپږ قرارګاوې لري ، او داسې معلومیږي چې ښايي له هغو څخه هم لاړ شي.

دژړي مجاهدین وايي چې په تیر کال کې یې په مختلفو عملیاتو کې دښمن ته خورا درانه زیانونه اړولي دي ، او اوس چې له سیمې دډښمن زیاتره قواوې وتلي دي ، نو په دې جهادي سیمه کې دیوه مهم جهادي تحول هیله کیږي ، که څه امریکایانو دژړي په ځینو ساحو کې اربکیان جوړ کړي خو داچې اربکیان ټول شریر او بدنام خلک دي ، نوکوم اولسي ملاتړ نلري بلکې دسختو ظالمانو کړنو ، غلاوو ، تجاوزاتو او عامه اذیت له امله یې سخت اولسي قهر راپارولی دی ، چې همدا ظالمانه چلند خپله ددوی دزوال اسباب برابروي.

ډنډ ولسوالي

ډنډ ولسوالي چې دکندهار ښار سره جوخته پرته ده ، په تیرو یو ولسو کلونو کې یوه له پیښنو ډکه سیمه او دمجاهدینو قوي سنګر پاته شوې دی ، دا ولسوالي چې دشورویانو دیرغل په مهال مجاهدینو په کندهار ښار دټوپ دتختې په توګه ترې استفاده کوله ، دامریکايي ضد جهاد په مهال له ستراتیژیک لیدلوري یو مهمه سیمه بلل کیږي ، له همدې امله امریکایانو ورته فوق العاده توجه کوي او په لسګونو قرارګاوې یې په کې ځای په ځای کړې دي.

د ډنډ ولسوالۍ مجاهدین وايي چې همدا اوس دناخوني ، خنجکک ، زله خان ، چلغور ، نوده میربازار او په نورو سترو سیمو کې مجاهدین قوي حضور لري ، په همدې سیمو کې امریکايي قرارګاوې هم شته ، خوا امریکایان په خپلو اډو کې دننه یو ازې خپل ځان ساتي.

د ۲۰۱۲ م کال په لړ کې په ډنډ کې دامریکايي پوځیانو شمیر دپخوا په پرتله کم شوی دی ، څو قرارګاوې یې خالي شوې دي ، داسې ویل کیږي چې دژړي ، او میوند له ولسوالیو څخه

دامریکایانو له وتلو وروسته دکندهار ښار له ګاونډیو ولسوالیو لکه ډنډ او ارغنداب څخه امریکایي ځواکونو په وتو دي.

په ډنډ ولسوالۍ کې امریکایانو له تګ وروسته دخپل ځایناستو په توګه داربکیانو داستخدام ډیره هڅه کړې ، او حتی خلک یې په زور مجبور کړي دي چې اربکیان شي ، خو څرنګه چې دډنډ خلک خورا مجاهدصفته خلک دي نو ځکه یې داربکي سازۍ پروژه رټلې ده ، په ډنډ کې یوازې دصلاوات په کلي کې کم شمیر محدود اربکیان شته او په نورو سیمو کې شتون نلري.

معروف ولسوالي

معروف ولسوالي چې دکندهار ولایت په ختیځ کې پرته ده ، یوه لویه ولسوالي ده ، ددې ولسوالۍ تقریبا ټولې سیمې ازادې او دمجاهدینو تر واک لاندې دي یوازې یې په مرکز او دسالسون په علاقه کې ددښمن یو څه کسان شتون لري . په دې ولسوالۍ کې امریکایانو پخوا یوازې دولسوالۍ په مرکز کې قرارګاه درلوده ، سږکال دوی له هماغې قرارګاه څخه هم وتښتیدل او یوازې دګوتو شمیر عسکر او مشاورین یې په ولسوالۍ کې پاته دي.

ددې لویې ولسوالۍ پراخې علاقې لکه دعلیزو ناوه ، سامي غر ، دساکزو علاقه ، اعلی جرګه ، پیتاوی او نورې پراخې سیمې ددښمن له شتون څخه پاکې شوي دي او په بشپړ ډول دمجاهدینو تر واک لاندې دي.

دمعروف ولسوالۍ دسالسون په سیمه کې یو څه شمیر اربکیان شتون لري ، چې هغه هم په خپلو پوستو کې ګوزاره کوي او دمجاهدینو په وړاندې د خنډ جوړولو جوګه نه دي.

دمعروف دمسؤلیینو په دې ولسوالۍ کې ۲۲ ډلګۍ مجاهدین فعالیت لري چې په پنځو محاذونو کې تشکیل شوي دي ، دتیر کال په ترڅ کې که له یوې ددښمن کمپله له دې ولسوالۍ څخه ټوله شوې له بلې خوا ورته دسر او مال درانه تلفات هم اوښتي ، له تیر پسرلي راهیسې په دې ولسوالۍ کې یوازې ۷ تنه مجاهدین په شهادت رسیدلي دي.

بولدک ولسوالي

بولدک ولسوالي چې دکندهار اجیر چارواکي یې دخپل ځواک او سلطې تر ټولو مثالي سیمه بولي ، حقائق په کې له هغه ډیر بدل دي چې دوی یې دعوه کوي ، ددې ولسوالۍ هیڅ داسې سیمه نشته چې هلته دې مجاهدین پټ یا ښکاره

شتون ونلري او عمليات دې په کې نه وي شوې.

دبولدک او ويش په ښار سربېره چې مجاهدين په کې چريکي بريدونه او په چاروا کو هدفي چاودنې کوي ، دبولدک په نورو ساحو لکه ونکه ، کنجسو ، چلګزي ، ناوه ، رباط او نورو ټولو سيمو کې مجاهدينو قوي حضور لري او دښمن يې يوازې دخپلو قرارګاوو او پوستو دننه ژوند کولو ته اړ کړی دی.

په بولدک کې امريکايان همدا اوس دکڅي زيارت ، لقمان او دبولدک په مرکز کې قرارګاوې لري ، د بولدک دناوې له سيمې څخه ددوی يو مهمه قرارګاه سر کال تښتيدلې ده ، او دنورو دتيښتې اوازې هم دي ، داسې معلومېږي چې امريکايان په بشپړ ډول له کندهار او نور افغانستان څخه خپله بستره ټولوي.

په بولدک ولسوالۍ کې دښار په شاوخوا کې دپوليسو او سرحدي عسکرو يو څه پوستې شته خو اربکيان په دې ولسوالۍ کې شتون نلري.

په تيرکال کې په نورو ګڼو کارونو سربيره يو دياد وړ کار دبولدک په ولسوالۍ کې د پوليسو ديوې مکملې پوستې ختمول وو چې ۱۳ تنه پوليس په کې له منځه لاړل.

مجاهدينو خپل ملګری په دې پوسته کې داخل کړی وو ، چې يوه شپه يې له فرصت په استفاده دپوستې ټول کسان لومړی بې هوښه کړي او بيا له منځه وړي وو.

په تيرکال کې په بولدک کې څو بريالي فدايي بريدونه هم وشول چې ددښمن دسر خلک په مړه او ټپيان شول.

خاکريز ولسوالي

د خاکريز ولسوالي چې دکندهار ښار شمال ته پرته ده ، دکندهار له ګڼ نفوسه سيمو څخه شميرل کيږي ، په وروستيو څو کلونو کې دا ولسوالي دامريکايانو دسختو عملياتو شاهده پاته شوې دي او امريکايانو پکې ګڼ شمير قرارګاوې جوړې کړې وې ، د تېر ۲۰۱۲ م کال په ترڅ کې دکندهار دنورو سيمو غوندې په خاکريز ولسوالۍ کې دجهاد په ګټه خورا مهم تحولات رامنځته شول ، دولسوالۍ زياتره جغرافيه دامريکايانو او داخلي ګوډاګيانو له سپيره وجود څخه پاکه شوه.

دخاکريز ولسوالۍ مسؤل مجاهدين وايي ، په تير کال کې امريکايان او داخلي عسکر دولسوالۍ له مطلق اکثريت سيمو څخه تښتيدلي دي ، دبيلګې په توګه په چينار سيمه کې ۱ دامريکايانو قرارګاه ۱۵ دداخلي عسکرو پوستې ، په لام سيمه کې ۱ دامريکايانو ۵ دداخلي عسکرو قرارګاوې ، دغه راز ۱ له ناصرو سيمې او ۱ له ښکته باغکې سيمې نه تښتيدلي دي ، چې په دې سره دخاکريز ولسوالۍ ۷۰ فيصده ساحه په مطلق ډول دمجاهدينو لاس ته لويدلې ده.

په خاکريز کې امريکايان او داخلي عسکر اوس يوازې دولسوالۍ په مرکز ، باغکه او ډب کاريز په نامه کليو کې پاته دي ، نور دخاکريز پراخې ولس ميشتې سيمې لکه چينارو تنبيل ، کاريزونه ، لام ، لخشکان او ناصر په بشپړ ډول دمجاهدينو ترسلطه لاندې دي.

دخاکريز دمجاهدينو په وينا له دې سيمې دامريکايانو سرښنې تيښته داسې عبرتناکه او

تاريخي وو چې د تيښتې په مهال يې ۱۸ ټانګونه او ۲ او د داخلي عسکرو رينجر موټر به ماينونو وختل او له منځه لاړل ، تردې چې وروسته دوی مجبور شول عمومي لاره پريږدي او په دښتو او شېلو کې يې يوازې د ځان ايستلو لپاره نوې لاره جوړه کړه ، دوی خپلې هغه قرارګاوې چې په ډېر تکليف يې جوړې کړې وې په بمونو والوزولې او په دې توګه د تل لپاره له سيمې وتښتېدل.



امريکايان چې د چينارو تنبيل او لام په سيمو کې يې په ځينو خلکو د داربکيانو په نوم وسلې ويشلې وې د امريکايانو له تيښتې وروسته دغه کسان چې شمير يې تر ۱۰۰ تنو ډېر وو ټول له وسلو او ټولو امکاناتو سره مجاهدينو ته تسليم شول ، په دې توګه د خاکريز په دې ټولو سيمو کې هر ډول مشکل له منځه لاړ ، او اوس يوازې د ولسوالۍ په شاوخوا کې څو تنه اربکيانو شتون لري.

د خاکريز مجاهدين وايي چې تير کال د دښمن لپاره له سختو تلفاتو ډک وو ، خو د مجاهدينو په خوا کې ۱۲ تنه په شهادت رسيدلي دي.

ميانشين ولسوالۍ

ميانشين ولسوالۍ هم د کندهار په شمالي برخه کې پرته ده ، دا ولسوالۍ له تيرو څو کلونو راهيسې بشپړه د مجاهدينو په لاس کې ده ، يوازې له تير کال راهيسې يو شمير خارجيان او داخليان د دې ولسوالۍ يو لرې پراته کلي سرناوې ته چې له شاوليکوټ سره سرحد لري راغلي دي ، او يوازې تر ۲۰ پورې شاوخوا کورونو يې تر حکومت لاندې ساتلي دي ، د ميانشين زړه ولسوالي د مجاهدينو په لاس کې ده ، دښمن همدې نوي مرکز ته هم اکمالات د هوا له لارې کوي خو يوازې د دې په خاطر يې دغه ځای ټينګ کړی ترڅو ثابته کړي چې په ميانشين ولسوالۍ کې حضور لرو.

د ميانشين ولسوالۍ لپاره د مجاهدينو مسؤلين وايي چې څرنګه په شاوليکوټ کې د دښمن حضور په نشت حساب دی نو ځکه د امارت لخوا د شاوليکوټ ولسوالۍ لوړې برخې هم د ميانشين د مجاهدينو مربوط شوي دي ترڅو په دې سيمه کې د کندهار ـ روزګان په سرک په پرتو پوستو باندې عمليات وکړي.

د شاوليکوټ په دې سيمه کې په سرک باندې د سفورا او باختو تنګي په سيمو کې د دښمن پوستې پرتې دي ، په همدې سيمو کې مجاهدينو په تير کال کې د دښمن ۵۰ ټانګونه په بمونو الوزولي دي چې د روند د سرزيان يې ورته اړولی دی.

ميوند ولسوالي

ميوند ولسوالي د کندهار ښار لويديځ ته د کندهار ـ هرات په لويه لاره پرته ده ، دا ولسوالۍ په دوو لويو ساحو ويشل شوې ده ، چې د لوی سرک شمال خوته د ګرماوک سيمه ده او جنوب اړخ

ته دقلعه شامیر او بند تیمور سیمې دي ، دمیوند ولسوالۍ دبند تیمور په استقامت یوازې په لوی سرک باندې څو پوستې شتون لري نو دغه علاقه له سرک څخه نیولې بیا مخ په جنوب ریګ پورې ټوله دد شمن له شتون څخه پاکه او دمجاهدینو تر ولکه لاندې ده ، دسرک په جنوبي اړخ کې یوازې قلعه شامیر سیمه هغه سیمه ده چې دشمن ددرست میوند په سطحه ډیر حضور لري او تر یوه حده یې تر تسلط لاندې ده .

په قلعه شامیر کې امریکیانو په ۲۰۱۰ م کال کې سخت عملیات وکړل او دلته یې تر ۴۰ پورې

دداخلي او خارجي عسکرو پوستې جوړې کړې ، په دې سیمه دوی دپوستو کمربند راګرځولی دی او په ډیره کمه سیمه کې یې خورا ډیر عسکر ځای په ځای کړي دي ، خو له دې سره سره مجاهدین په دې سیمه کې بیا هم فعالیت لري او په دښمن باندې چاودنې او چریکي بریدونه ترسره کوي.

دمیوند په شمالي برخه کې دښمن یوازې په هغه سرک باندې شتون لري ، چې له عمومي سرک څخه مخ په شمال دمیوند ترشهیدانو پورې تللی دی ، له دې سرک پرته نور دمیوند شمالي برخه چې په ګرماوک سره یادیږي په کامله توګه ازاده او دښمن په کې هیڅ شتون نلري.

په میوند ولسوالۍ کې په تیر کال کې دامریکایانو ۲ قرارګاوې دګرماوک له سیمې تښتیدلې او وطن ترې خلاص شوی ، یوه خورا ستره او مرکزي قرارګاه یې دملنګ کاریز له سیمې تللې ده ، دغه راز یې له فیض اباد نه هم یوه قرارګاه تښتیدلې ، په ټوله کې میوند ولسوالي هم هغه سیمه چې په تیر کال کې امریکایانو عملا ترې په تیښته پیل کړی دی ، چې دخارجیانو په تیښته سره سیمه دمجاهدینو تر سلطې لاندې راځي

په تېر ۲۰۱۲م کال کې د ملکي تلفاتو مستند ارقام

سید سعید

تېر (۲۰۱۲ز) کال هم دنوروکلونو په څېر په افغانستان کې دیرغلګرو ځواکونو او کابل لاسپوڅي رژیم په بمباریو، چاپواو دزوکې ګڼ شمېر ولسي هیوادوال بندیان ،ژوبل او شهیدان شول. په دې لیکنه کې دملکي ځاني تلفاتو او مالي زیانونو هغه ارقام درته وړاندې کوو، چې په بیلابیلو نړیوالو او کورنیو رسنیو کې خپاره شوي دي.

جنوري:

دجنوري پر ۷مه نیټه دامریکايي ځواکونو په بمباریو کې د هلمندولایت دموسی کلاولسوالۍ ددوآب دګوبرپه کلي کې «اته» کسه ملکي هیوادوال شهیدان شوي اویوشمېر نور ټپیان شوي دي.دسیمه ییزو خلګو دوینا په اساس په همدې بمباریو کې درانه مالي تاوانونه هم ورته سیدلي دي.دجنوري پر ۸مه نیټه یرغلګرو ځواکونو دلغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالۍ په سایګل دره کې دعاموخلکو پر کورونو یرغل اوبمبارکړی چې په ترڅ کې یې دسیمې خلګو ته زیات مالي زیان اوښتی دی او علاوه پر دې «دوه» تنه هیوادوال ژوبل شوي هم دي.دجنوري پر ۱۷مه نیټه امریکایانو دنیمروزولایت دخاشرود ولسوالۍ دآوبخش په سیمه کې دملکي خلګو پر کورونو چاپه وهلې اوبیايې «درې» کسه ولسي وګړي - چې درې واړه ورونه وو- شهیدان کړي او «څلور» تنه ملکي هیوادوال یې اسیران کړي دي .دجنوري پر ۱۸مه نیټه نیواکګرو دشپینو عملیاتو په لړکې دکونړولایت د خ وکۍ ولسوالۍ ددیوه ګل درې په اندرلچک کلي کې دملکي خلګو پر کورونو دچاپې پرمهال «اووه» تنه ولسي وګړي شهیدان کړي دي.په شهیدانو کې «دوه» ماشومان «یوه» ښځه او «یو» تن سپین ږیری هم شامل دي.دکونړاوکابل بلو اکو چارواکو هم په دغه پېښه کې دملکي خلګو دتلفاتو یادشوی شمېر تائید کړی او سیمې ته یې دتېرپه څېر دتحقیقاتو په موخه ! اپلټونکی ټیم لیږلی دی.دجنوري پر ۱۹مه نیټه وروسته له هغه چې دکندهار هوايي ډګرپه عمومي دروازه کې چې دکندهار- بولدک دلویې لارې پرسرواقع ده دحربي قواوودبهرنیو مشاورینو دکروزین موټروپر کاروان په فدايي برید کې

دري کورزين موټره ويجاړ او پکي سپرو ته يې مرګ ژوبله واښتله ،نو يرغلګرو عسکرودخپل معمول سره سم دکندهار- بولدک پرلويه لارد سپرليو پرموټرو ډزي کړي چي له امله يې «درې» تنه ولسي وګړي شهيدان شوي دي .دجنوري پر۲۴مه نيټه رسنيو خبرورکړچي :د کاپيسا ولايت داله ساى ولسوالۍ په هنګرانو کلي کي نيواکګرو بمبارکړى چي له امله يې «درې»تنه ماشومان شهيدان شوي او«يو»ژوبل شو ى دى.د سيمه ييزو خلګو په وينا په سيمه کي يې نه مجاهدين موجودوو او نه هم ديرغلګرو پرګزمه کوم بريد شوى چي هغوى يې په غبرګون کي بمبارکړى واى. دجنوري پر ۲۵مه نيټه يرغلګرو ځواکونو دکورونيو عسکرو په ملتياد کونړولايت دمرکز(اسعداباد)په اړونده سيمه (مکلي)کي دولسي خلګو پرکورونو چاپه وهلې ،دتلاشۍ پرمهال يې ملکي هيوا دوال وهلي او کړولي او«دوه»تنه بزګران (دهقانان)يې بې پلمې شهيدان کړي دي.

فبروري :

دفبروري پر۸مه نيټه نيواکګروعسکرود کاپيسا ولايت دنجراب ولسوالي په مرګي سيمه کي دمحمد يوسف نومي ولسي وګړي په کورى ىغل کړى اودنوموړي دکور«دوه»غړي يې شهيدان کړي دي.دفبروري پر ۱۳مه نيټه داخلي عسکرود کندزولايت دمرکزمربوط دګورتيپې دعربانو په کلي کي دحاجي نورمحمد پرکورچي دکلي مشردى يرغل کړى نوموړي حاجي صاحب او يو زوى يې ژوبل کړي او يو بل زوى يې ورشهيد کړ ى دى.دفبروري پر ۱۳مه نيټه رسنيو خبرورکړچي له کابل څخه کونړ او کاپيسا ته ليږل شوو پلاوو موندلې چي په همدې ولايتونو کي دناټو له خوادوروستيو بريدونو ټول قربانيان ملکي وګړي دي ،کاپيساته دپلاوي مشرطاهرصافي ويلي :چي په نجراب کي دفرانسوي عسکرو په بريد کي «اته»تنه ماشومان شهيدان شو يدي.کونړ ته داستول شوي هيئت مشرشهزاده شاهد بيا وايې چي :دلته بيا«نهه»تنه ولسي وګړي شهيدان شو ي دي.يادشوي پلاوي دوژل شوو کسانو عکسونه ښوولي چي زياتره يې د ۱۲کلونو څخه دکم عمرماشومان دي پلاوي داهم تائيدکړې چي دبريد پرمهال په بمبارشوو سيمو کي حتى يو طالب هم موجودنه ؤ.دفبروري پر ۱۵مه نيټه يرغلګروځواکونو دکندزولايت دخان ابادولسوالۍ په آقتاش سيمه کي پريو کورچاپه وهلې د کورمشريې بندي کړى اودنوموړي «دوه »زامن يې شهيدان کړي دي.دفبروري پر ۱۲مه نيټه يرغلګرو پوځونودکونړولايت دمروري ولسوالۍ په دريدم کلي چاپه وهلي ،کورونه يې تلاشي کړي ،ډيرملکي خلګ يې وهلي او په اخرکي يې «دوه »تنه ولسي وګړي شهيدان کړي دي.دفبروري پر ۲۲مه نيټه امريکايانو دننګرهار ولايت د خيوې په ولسوالي کې پريوښوونځي بمبارکړى چي په ترڅ کي يې اته تنه ماشومان او يو ملازم ژوبل شوي دي.په بمبارکي دښوونځي ودانۍ ډيره زيانمنه شوې ده.دفبروري پر ۲۲مه نيټه امريکايانود هلمندولايت دکجکي ولسوالۍ دآزان ناوې په سيمه کي داستوګني پرسيمه توغندۍ اورولي چي په ترڅ کي يې دهاوان يوه ګولۍ دحاجي محمدخان پرکورلګيدلې ده ،په دغه پيښه کي دنوموړي «يو»ماشوم شهيدشوى اودکورنۍ «درې» غړي يې ديوې ښځي په ګډون ژوبل شو يدي.دفبروي پر۲۱مه نيټه دپروان ولايت دبګرام دهوايې اډې ومخته په زرهاوو ولسي وګړود امريکايانو له لوري دقرآن کريم دسوځولو پرضد پراخ لاريون پيل کړي چي په ترڅ کي يرغلګرواودهغوى مزدورانو زيات شمېرمظاهره کونکوته مرګ ژوبله اړولې ده. دفبروري پر ۲۲مه نيټه د پروان ولايت دشينوارو ولسوالۍ کي هم کرايې پوليسو«اته» کسه لاريون کونکي شهيدان کړي او«پنځه لس »تنه يې ټپيان کړي دي.
دفبروي پر ۲۲مه نيټه دجلال اباد په ښارکي محصلينو او عامو خلګو پراخ لاريون ترسره کړ،مظاهره کونکو ديرغلګروضد شعارونه ورکول او دقرآن شريف دسوځونکو محاکمه يې غوښته ،خوپه همدې مهال دملي پوليسو تربريد لاندي راغلل چي په پايله کي «يو»تن شهيد او «شپږ» کسه ژوبل شو ي دي.دغه راز په همدغه نيټه دلوګرولايت دبرکي برک ولسوالۍ په برک راجان سيمه

کي هم دليسې زدکړيالانوا وولسي
خلکو دیرغلګرو ديادشوی ناروا عمل پرضد مظاهره وکړه
،دلته هم مظاهره کونکي دپولیسو تر ډزولاندي راغلل چي
له امله يې «يو»تن دليسې زده کونکی شهيدا و«اووه»تنه
ټپيان شو يدي ،دغه رنګه «دوولس» تنه مظاهره کونکي
دلاريون په جرم ! ! يرغلګروبنديان کړ ي هم دي.دفبروري
پر ۲۳مه نيتهء د پروان ولايت په بګرام ولسوالۍ کي
يووار بياپوليسوپرلاريون کونکوبريدکړی چي له امله يې
«څلور»تنه مظاهره چيان شهيدان او«پنځه»زخميان شوي
دي.دفبروري پر ۲۳مه نيتهء د اروزګان ولايت
ددهراودولسوالۍ په بازارکي په
زرګونو مسلمانانو ديرغلګروله خوادقرانکريم
دسوځولو پرضد پراخ لاريون ترسره کړ،مظ هره
چيانو غوښتل چي داشغالګروسيمه پيږي قرارګاه ورشي
اوترې وغواړي چي داسلام مقدساتوته دي نورپه
بدسترګه نه ګوري اوهغه عسکرچي همدا عمل يې کړي
مجازات کړي ،خوپه لاره کي ملي
! !پوليسو بريدپرو کړچي له امله يې «پنځه» تنه مظاهره
کونکي شهيدان او «پنځه لس» تنه ټپيان شوي دي ،ددې
دولسوالۍ چارواکي هم دملکي خلکويادهء شوې مړګ
ژوبله تائيدوي.دفبروي پر ۲۴مه نيته دهرات ولايت
دادرسکن ولسوالۍ په بازارکي په زرهاووخلکو دجمعې
ترلمانځه وروسته ديرغلګروله خوادقرآن عظيم الشان
دسپکوي پرضدلويه مظاهره پيل کړه ،لاريون
کونکودامريکااوکابل اداري پرضد شعارونه ورکول
،مظاهره کونکوپه ساعتونوساعتونو دکندهار -هرات
لويه لاره دترافيکوپرمخ تړلې وه اوداشغالګرودیادي
شوي کرغيړني کړني دعاملينو محاکمه يې غوښته .خوپه
همد ې مهال پوليسوپرلايون کونکوډزي وکړي چي په ترڅ
کي يې «پنځه لس » تنه لاريون کونکي شهيدان اوژوبل شو
ي دي.دفبروري پر ۲۵مه نيتهء د کندزولايت په مرکزکي
ملي ! !پوليسو «دري؛» تنه لاريون کونکي شهيدان کړي
دي.دغه راز په همد ې نيته داخلي عسکرود ميدان وردګ
ولايت دکابل –کندهاردلويې لاري پرسردسره پله په سيمه
کي پرلاريون کونکوډزي کړي چي له امله يې «يو»تن
مظاهره کونکي شهيدشوی او«يو»بل تن بياټپي شوی دی
.دفبروری پر۲۲مه نيتهء د کندزولايت په خان ابادولسوالۍ
کي خلکودقرآن کريم دسوځويدوپه غبرګون کي لاريون
وکړ،خلکوداشغالګرواودهغوی دمزدورانو پرضد
شعارونه ورکول اوژرترژره يې له افغانستانه
دخارجيانودوتلو غوښتنه کوله عسکروپه لاريون
کونکوډزي وکړي چي له کبله يې «څلور» تنه ولسي وګړي
شهيدان اوټپيان شوي دي. دغه رنګه پرهمدې نيته
دسمنګان ولايت په مرکزايبک کي هم دداخلي عسکروله
لوري «دوه» تنه مظاهره کونکي شهيدان شو ي دي.

مارچ :

دمارچ پرلومړۍ نيته امريکايي
عسکرودنيمروزولايت ددلارام ولسوالۍ مرکزته نژدې په
سيمه کي مشهورصراف (حاجي غني جان) په خپل
کورکي دنامعلومودلايلوله وجې شهيد کړی دی.دمارچ
پر۵مه نيته داروزګان ولايت دچوره ولسوالۍ دخواجه
خديرپه سيمه کي ددې ولسوالۍ پوليسوديو ملکي سړي
پرکورير غل کړی ،دتلاشۍ په بهانه کورته ننوتلي نغدي
پيسې اوقيمتي شيان يې غلا کړي دي. دکورڅښتن
دپوليسو سره مقاومت کړی چي په نتيجه کي يې
دپوليسوله خوانو موږی دخپلي ښځي په شمول
شهيدشوی اودوه ماشومان يې ژوبل شوي دي .دمارچ
پر ۹مه نيته رسينود کاپيساولايت دتګاب دولسوال
(عبدالحکيم اخنزاده) له قوله خبرورکړ چي ديادي شوي
ولسوالۍ په ابراهيم خيل کلي کي ناټوبمبارکړی چي له
امله يې «څلور»تنه ولسي وګړي د «درو»ماشومانو په شمول
شهيدان شوي او«دوه » کسه هم ټپيان شوي دي.دمارچ
پر۹مه نيته نيواکګرود ننګرهارولايت دچپرهارولسوالۍ
په تريلي سيمه کي بم بارکړی چي له امله يې دوه تنه ولسي
وګړي شهيدان شوي اويوبل تن ژوبل شوی دی.دمارچ
پر۱۱مه نيته رسينودولسي خلکواوعيني شاهدانوله قوله
خبرورکړچي:دکندهارولايت دپنجوايي ولسوالۍ
دزنګاوات دسيمي اړوند په دووکليوکي امريکايي

پوځیانو «اووه »لس تنه ولسي وګړي چې زیاتره یې ښځې
اوکوچنیان دي لومړی یې په ډیرې بې رحمی، شهیدان کړي
،بیابې په یوه کوټه کي رایوځای کړي اوپه اخرکي یې
سوځولي دي او «پنځه »تنه یې ټپیان کړي دي
.یرغلګروځواکونو یادشوی جنایت دیولیوني
عسکرکارو باله ،خوعیني شاهدانو دکندهاردولایتي
شورى اوکابل پارلمان غړوچې سیمې ته یې دپیښې
دپلټنې په موخه سفرکړی ؤ، پخپل راپورکې وویل چې
:«کره لاسوندونه اوشواهدښیي چې دغه جنایت
دیوعسکرله خوانه ،بلکې دیوې شل کسیزې ډلې له لورې
ترسره شوی دی ،په داسې حال کې چې پرسریې چورلکې
ګرځیدې ،حتی دعملیاتو دمؤثریت ! ! په موخه یې
روښنازونه هم غوځولې دي.اومهمه داچې په پیښه کې
دوول دول وسلې کارول شوي دي».دمارچ پر ۱۱مه نیټه
امریکایې پوځیانود هلمندولایت دنهرسراج ولسوالی
دقاضي محمداخندزاده په کلي کې دملکي
خلکوپرکورونوچاپه وهلې ،«یو»ملکي هیوادوال یې
شهید کړی او «یو»بل تن یې بیابندي کړی دی.دمارچ
پر۱۷مه نیټه امریکایانود اروزګان ولایت مرکزترینکوټ
ښارته نژدې دسرخوم په سیمه کي عملیات کړي دي ، «دوه
»تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان کړي او «یوولس» کسه
یې بیابندیان کړي اوله ځان سره کوم نامعلوم ځای ته وړي
دي.دمارچ پر ۲۲مه نیټه دمحلي پولیسوپه نوم(ایله
جاریانو)دکندزولایت دمرکزپه اړونده سیمه کي دملکي
خلکوپریوموټرډزې کړي چې له کبله یې «یوه»ښځه شهیده
شوې او «یو»سړی ژوبل شوی دی.دمارچ پر ۲۵مه نیټه
دهلمندولایت دګریشک ولسوالی دمیرمندوپه سیمه کي
دمجاهدینواو امریکایې ځواکونوترمنځ دیوې اوږدې
نښتې په جریان کي یرغلګروعسکروپه سیمه کي ولسي
وګړي په زورمجبورکړي چې ددوی ترمخ
پرهغولارو ولاړشي چې کیدای شي ماینونه پکې ښخ شوي
وي.دامریکایانو ددغه ډول بزدلی اوجنایت په ترڅ کي
دیادې شوې سیمې دمیرمندوغونډی، ته څېرمه څوتنه
ولسي وګړي دیوه ځکني ماین دچاودیدوله امله شهیدان
اوژوبل شوي دي.دهیوادله بیلابیلو سیموڅخه وخت
ناوخت رسینو دعیني شاهدانوله خولې ورته راپورونه
ورکړي دي.دمارچ پر ۲۷مه نیټه دننګرهارولایت په
پچیراګام ولسوالی کي داخلي عسکروورسته له هغه
چې یوټانګ یې دماین ښکارشو «درې»تنه ولسي وګړي
شهیدان کړي او «دوه» تنه یې ژوبل کړي دي.دمارچ پر۲۷مه
نیټه امریکایې عسکرود هلمندولایت دسنګین ولسوالی
دساروان کلادشهزادې په سیمه کي «یو»اویاکلن سپین
ږیری بې پلمې شهید کړی دی.

اپریل :

داپریل پر ۵مه نیټه دکاپیساولایت دتګاب
ولسوالی دادیزوپه ملایانوکلي کي
دیرغلګروځواکونوددرنووسلوپه ډزوکي چې یوه
مرمی یې دلطف الرحمن نومي هیوادوال په
کورولګیده اوله امله یې «درې»تنه ماشومان شهیدان
شو ي دي.داپریل پر ۵مه نیټه دهلمندولایت دناد علي
ولسوالی په نړي مانده سیمه کي اشغالګرودیوملکي
سړي پرکورچاپه وهلې ده ،یادشوی کوریې تلاشي کړی
،خوځه جنګي اسباب یې نه دي پکښې پیداکړي مګرپه
اخرکي یې ددغه کورمشرسپین ږیری شهید کړی
اودنوموړي شهید «درې» زامن یې اسیران کړي دي
.داپریل پر۷مه نیټه داخلي عسکرواوځایي اربکیانود
کندهارولایت دمیوندولسوالی دکلانبامیرپه سیمه کي
دیو کور«څلور»غړي :محمد رحیم(پلار) ،محمدنعیم
،سید محمداو حمدالله(زامن) بې پلمې شهیدان کړي
دي.داپریل پر ۷مه نیټه دغزني ولایت
دخوګیانوولسوالی په کنداوسیمه کي
دنیواکګروعسکروپه ډزوکي «درې»تنه سړي او «دوې
»تنې ښځې ژوبل شو ي دي.داپریل ۸مه نیټه
اشغالګرودمیدان وردګ ولایت د سیدابادولسوالی
داونخي درې په موسی خېل سیمه کي پریومسجدچاپه
وهلې ده اوپه جومات کي «دوه»تنه مسافرچې

دپکتیاولایت وواویادي شوي سیمي ته یې دخرخ لپاره دسون لرګي راوړي ووشهیدان کړي دي. دغه راز په همدې نیټه دک پیساولایت د تګاب ولسوالۍ په حمزه خېل کلي دیرغلګرودهاوان په ډزوکي چي یوه مرمۍ یې دظفرپه نامه دیوکلیوال پرکورولګیده اودنوموړي دکوریو ماشوم (نوید)شهیداویوبل تن یې ژوبل کړی دی.داپریل پر ۱۰مه نیټه دهلمندولایت دنادعلي ولسوالۍ دباري ګـل بازارپه سیمه کې د یرغلګرو ځواکونو ددرنووسلود ډزوله امله چي یوه ګولۍ یې پر یوه کورراپریوتله «ځلور»تنه ماشومان او«دوې» سپین سري ښځ ي په شهادت رسیدلي دي . داپریل پر ۱۰مه نیټه دکندهار ولایت دمیوندولسوالۍ.
دبندتیمورد آغامیرکاریزپه سیمه کي امریکایي ځواکونودملکي خلکویوسرایچه موټرد الوتکو په توسط ویشتلی اوپکښې سپاره «دوه» تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي دي.داپریل پر ۱۱مه شپه یرغلګرودپکتیاولایت دجاني خیلو ولسوالۍ په بلزای اوحسن زای کلیوچاپه وهلې ، کورونه یې تلاشي کړي اوبیایې سیمه بمبارکړې چي له امله یې «پنځه»تنه ولسي وګړي شهیدان شو ي دي. داپریل پر ۱۲مه نیټه اشغالګروعسکرودکندهارولایت ددامان ولسوالۍ. دمنډحصار په سیمه کي یو سپین ږیري هیوادوال چي کوچنۍ لورهم ورسره وه ،شهید کړی دی
.دکندهاردامنیت امیررحمت الله اطرافي یاده شوې پېښه مني اوزیاتوي چي دایساف ځواکونه پرسړک دتېریدوپه حال کي ووپردغه سړي یې دډزیدوږغ کړی ؤنوموړي پام نه وورته کړی چي بیاد ایساف قواووله خواله منځه یووړل شو. داپریل پر ۱۲مه نیټه دکندهارولایت دمیوندولسوالۍ دکلاښامیرد سپین مسجدپه سیمه کي دامریکایي ځواکونوپه بمبارۍ کي «یو»ماشومام شهیدشو ی دی.داپریل پر ۱۳مه نیټه نیواکګرودکندزولایت دمرکزپه تلوکي سیمه کي پریوکورچاپه وهلې ده« یو»تن ملکي هیوادوال یې شهیدکړی او«دوه»تنه یې اسیران کړي دي. داپریل پر ۱۴مه نیټه یرغلګروځواکونود تخارولایت د رستاق ولسوالۍ په تابه تاش کلي کې دیوتن تجار(امیرعزیز) په کورچاپه وهلي ده ،نوموړي تجارته یې دزیات مالي تاوان اړولوسربیره دکورنۍ «دوه» غړي (نورالله اوعتیق الله)ورشهیدان کړي او«څلور»تنه یې ځني بندیان کړي دي.داپریل پر۱۴مه نیټه د نورستان ولایت په کامدیش ولسوالۍ کي دیرغلګرو اومجاهدینوترمنځ دنښتي په ترځ کي دیرغلګروپه بمباریوکي چي په اګاسي اونوروسیم و کي یې دخلکوپرکورونوو کړه «یویشت »تنه ولسي وګړي چي زیاتره یې ښځي اوماشومان دي شهیدان شوي دي.په یادشوي بمبارکي یوشمېرنورکورونه ویجاړشوي هم دي.داپریل پر ۱۲مه نیټه امریکایانود هلمندولایت دکجکي ولسوالۍ دزمینداوردکاریز ونوپه سیمه کي د اولسي خلکوپه کورونو بمبار کړی چي له امله یې «شپږ»تنه ښځ ي اوماشومان شهیدان شو ي دي.په دغه بمبارکي دملکي خلکو«درې» کورونه هم ویجاړشو ي دي. داپریل پر۲۷مه نیټه رسنیوخبرورکړچي :دمیدان وردګ ولایت دچک ولسوالۍ ددوران خېلوپه کلي کي دمجاهدینواو امریکایي ځواکونوترمنځ دنښتي په پایله کي دولسوالۍ له مرکزڅخه امریکایانویادشوي کلي ته هاوانونه وتوغول چي په ترځ کي یې یوهاوان پریوکورولګیدچي له امله یې « درې» ښځي شه یداني او«څلور »تنې ژوبلې شوي دي ،تېپاني شوي میرمني دچک روغتون ته انتقال شوي دي ،خوروغتیایي حالت یې داندېښنې وړښوول شوی دی. همدغه پېښه اوپکي دملکیانومرګ ژوبله دچک ولسوال اسماعیل وفا هم تائیدوي.داپریل پر۲۷مه نیټه امریکایي عسکرود زابل ولایت دارغنداب ولسوالۍ دمرغاوۍ په کلي کې په سیم ه کي دیوه مسجدد ملاامام په شمول « څلور»تنه ولسي خلک شهیدان کړي دي.سیم ه ییزاوسیدونکي وایي چي :یاده شوي پیښه هغه مهال رامنځته شوه چي

دیرغلګروپرټانګ ماین وچاودیداوپه غبرګون کې یې
هغوی پرملکي خلکوډزې وکړې. داپریل پر ۲۸مه نیټه
نیواکګرودغزني ولایت دخوګیانوولسوالۍ په
صفرخیل کلي یرغل کړی ولسي خلګوته یې ددرنو مالي
زیانونو اړولوترڅنګ «یو»ملکي هیوادوال شهید کړی
او«شپږ»تنه یې دکلي دملاامام په شمول بندیان کړي
دي.داپریل د۳۰مې نیټې په ماښام نیواکګروخواکونود
لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ په بولان سیمه کې
دملکي خلګوپرکورونوچاپه وهلې ده ،کورونه یې
تلاشي کړي دي اوترتلاشۍ وروسته یې« دوه »تنه
هیوادوال چې دواړه سره وروڼه وو شهیدان کړي دي
اودشهیدانو پلار، وړور او«څلور» تنه نورکلیوال یې
بندیان کړي دي.داپریل پر ۳۰مه نیټه
یرغلګروخواکونود زابل ولایت دشاه جوي ولسوال ې
دشوبارپه سیمه کې «څلور»تنه ماشومان شهیدان کړل
.دیرغلګرودې کړغیړن عمل پرضدیوه ورځ وروسته
(مئ)پرلومړۍ نیټه دشاجوی په بازارکې ولسي
خلګوچې شمېر ۲۰۰۰تنوته رسیده پراخ لاریون ترسره
کړاود احتجاج په توګه یې دکابل–کندهارلویه
لارترساعتونو پورې دترافیکوپرمخ تړلې وه
اودخپلو قاتلینومحاکمه یې غوښته !!.

مئ :

دمئ پرلومړۍ نیټه بهرنیو خواکونودلغمان ولایت د
قرغیو ولسوالۍ دبولان په سیمه کې دملکي خلګوپر
کورونو یرغل کړی دی. «دوه» تنه ملکي هیوادوال یې چې
دواړه سره وروڼه وو شهیدان کړي دي ددغو شهیدانو
پلاراووروریې بیادڅلوروتنوکلیوالوپه شمول اسیران کړي
دي.یرغلګرود چپاوپه ترځ کې دخلګو کورونه تلاشي کړي
اوخلګو ته یې مالي تاوانونه هم اړولي دي.دقرغیوولسوال
هم په دغه پیښه کې ملکي تلفات تائیدوي خوزیاتوي چې
ددوی دخبرتیاپرته بهرنیوعسکروپه سیمه کې عملیات
کړي دي .دغه راز دمئ پرلومړۍ نیټه ارزګان کې هم
امریکایانود ولایت مرکزترینکوټ ښارته نژدې دبلوڅي په
سیمه کې دعملیاتوپه ترځ کې «یو»تن ملکي وګړی
شهید کړی او«دوه»تنه یې ژوبل کړي دي. وروسته یې
بیاددغه کلي دمسجد امام دیوشمېرمقتدیانو په شمول لاس
تړي خپلې قرارګاه ته وړي دي. د مئ پر۲مه نیټه یرغلګرو
دزابل ولایت دشاه جوي ولسوالۍ په مربوطاتوکې «څلور»
تنه ماشومان شهیدان کړي دي.دمئ پر ۳مه نیټه د هلمند
موسی کلاولسوالۍ دمزرآبادپه سیمه کې ددې ولسوالۍ
موظفو عسکرو « یو»سپین ږیری کلیوال (حاجي موسی)
چې دمسجد څخه دخپل کورپه لورروان ؤپه شهادت رسولی
دی اوبیاله سیمې څخه تښتیدلي دي. دغه رازدمئ پر۳مه
نیټه دکندزولایت دمرکزاروندپه کنموسه دوکانه سیمه کې
دمحلي دولتي ملېشودیوقوماندان (میرعالم) افرادو
«درې» تنه ولسي وګړي (ملاامام ددوومقتدیانوپه ګډون
)شهیدان کړي دي.دمئ پر ۴مه نیټه نیواکګروعسکرود
لغمان ولایت دمهترلام اروندباباصاحب ډاګ سیمه کې
«څلور»تنه ملکي هیوادوال چې په لاره روان وو شهیدان
کړي دي.دمئ پر۲مه نیټه اشغالګرو دکاپیسا د آله سای
ولسوالۍ په مربوطاتوکې بمبارکړی چې په ترځ کې یې
«څلور»تنه ولسي هیوادوال شهیدان شو ي دي.دمئ پر۲مه
نیټه رسنیو خبرورکړچې:امریکایي عسکرود بادغیس
ولایت دمرغاب ولسوالۍ دنوبرپه سیمه کې درنې بمبارۍ
کړې دي چې له امله یې «څوارلس» تنه ملکي خلګ شهیدان
شوي او «اتلس» تنه ژوبل شوي دي چې زیاتره یې ښځې
اوماشومان دي.عیني شاهدانورسنیوته ویلي چې ددغې
پیښې ټول قربانیان ملکیان دي.دمئ پر ۷مه نیټه
رسنۍ خبرورکوي چې :بهرنیو خواکونود هلمند ولایت
دسنګین ولسوالۍ په فتح محمد پیچ سیمه کې بمباري
کړې ده چې له امله یې « یوه »میرمن له خپلو «پنځو »
ماشومانو (درو لوڼو او دوو زامنو) په ګډون شهیدان شوي
دي.دمئ پر۱۲مه نیټه نیواکګرو دشپنیو عملیاتو په لړکې
دلوګرولایت د څرخ ولسوالۍ په مخزن سیمه کې دچاپې
پرمهال «یو»تن ملکي هیوداوال شهید کړی او«یو»بل تن یې
بیابندي کړی دی.همدارنګه دمئ پر ۱۲مه نیټه داخلي
عسکرودبلخ ولایت د البرز ولسوالۍ کې « څلور»تنه ولسي

وګړي هغه مهال شهیدان کړي دي چې دیوتن دجنازې په مراسموکي راټول شوي وو.ترپاديې شوي پیښې وروسته یرغلګرعسکرهم سیمې ته ورغلي او«اته»تنه ملکي هیوادوال یې اسیران کړي دي.دمئ پر ۱۳مه نیټه رسنیوخبرورکړچې بهرنیوځواکونو دکونړولایت د وټه پورولسوالۍ په دهوزکلي کې بمبارکړی دی ،دبمبارله امله «اته»تنه ولسي وګړي چې اکثره یې ښځې اوماشومان دي شهیدان شوي دي.عیني شاهدانو بي بي سي راډیوته ویلي چې وژل شوي ښځې اوماشومان نژدې غره ته دلرګیوراوړلوپه موخه روان وو چې دپیښې ښکارشوي دي ،دناټوویاندهم دغه پیښه تائیدوي مګروژل شوي وسله وال افرادبولي.همدارازپرهمدغه نیټه د هلمند ولایت دموسی کلا ولسوالۍ دمسلماني په سیمه کې هم داشغالګرو عسکرودډزوله امله «درې»تنه ماشومان شهیدان شوي دي .دمئ پر ۱۴مه نیټه اشغالګرودشپنیوعملیاتوپه لړکې دهلمندولایت دبغني ولسوالۍ دکونجن په سیمه کې چاپه وهلې ده ، دعیني شاهدانوپه ویناپه دغه چاپه کې یرغلګرو«پنځه»تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي او«درې »کسه یې ټپیان کړي دي.دمئ پر۱۵مه نیټه بهرنیوځواکونو دبمبارله امله د هلمندولایت دګریشک ولسوالۍ دآدم خان په سیمه کې « درې»تنه ولسي وګړي (یوه ښځه اودوه کوچنیان)شهیدان شوي دي.دمئ پر۱۵مه نیټه اشغالګرود ننګرهارولایت د خوګیانوولسوالۍ دوزیروسیمه کې دکلي دملاامام(مولوي صاحب لعل محمد)پرکورچاپه وهلې ده ،دنوموړي مولوي صاحب دکورپه ګډون یې نورکورونه هم تلاشي کړي دي ،خوهیڅ جنګي اسباب یې نه دي پکښې موندلي ،مګرپه اخرکي یې مولوي صاحب شهید کړی او«دوه» تنه ولسي وګړي یې بندیان کړي دي.دعیني شاهدانودوینا په اساس په پیښه کې یادشوي مولوي صاحب دطالبانوسره اړیکي نه درلودې.امامت یې کاوه اوماشومانوته یې دیني درس وایه.دمئ پر ۱۷مه نیټه بهرنیوپوځیانود کورنیوهغوپه ملتیاد خوست ولایت دمرکزپه اړونده سیمه کې پریوکوردچاپې پرمهال «یو»ولسي وګړی شهید کړی دی.دمئ پر ۱۸مه نیټه

دامریکایې اکمالاتي کاروان ساتونکودداخلي عسکرود زابل ولایت په شاجوی کې دولسي خلګوسره ترلفظي شخړې وروسته «شپږ»تنه ملکي هیوادوال شهیدان اوټپیان کړي دي.دمئ پر ۱۸مه نیټه یرغلګرودارزګان ولایت دخاص ارزګان دشنې ناوې په سیمه کې دچاپې پرمهال« درې»تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي دي.دمئ پر ۱۹مه نیټه د میدان وردګ ولایت په جغتو ولسوالۍ کې داشغالګرو دهاوان په ډزو کې «دوه»تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي. همدغه راز پرپیاده شوې نیټه امریکایانود هرات ولایت دشینډنډولسوالۍ دزیرکوپه سیمه کې وروسته له هغه چې دطالبانوسره یې نښته وکړه «یو»ملکي سړی شهید کړی دی.دمئ پر ۱۹مه نیټه یرغلګرودشپنیوعملیاتوپه لړکې د غزني ولایت د قرباغ ولسوالۍ په خان زمان خیل سیمه کې دملکي خلګوپرکورونو چاپه وهلې ده ،دتلاشۍ پرمهال یې خلګوته زیانات مالي تاوانونه اړولي دي اوپه اخرکې یې «دوه »تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي او«یو»تن یې بندي کړی دی.دمئ پر۲۷مه نیټه اسوشیتیډپریس اژانس خبرورکړچې تېره شپه نیواکګرو ځواکونودپکتیاولایت دګردي څېړۍ ولسوالۍ په صوري خېل سیمه کې دیوملکي هیوادوال (شفیع الله) پرکوربمبارکړی.په دغه بمبارکې دکوردیاد شوي مشرپه ګډون دنوموړي دکور«اته» تنه غړي چې تول ښځې اوماشومان دي شهیدان شوي دي اویوازې «یو»ماشوم یې ژوندی پاته شوی دی.یرغلګرځوانه هم یاده شوې پیښه مني ،خووایې چې خپل مخالفان یې په نښه کړي دي.دمئ پر ۲۷مه نیټه اشغالګرو داروزګان ولایت دترینکوټ ولسوالۍ دننګرپه سیمه کې دملکي خلګوپر کورونولومړی چاپه وهلې ده اوبیایې« دوه»تنه ولسي وګړي شهیدان کړي او«یو»تن یې هم بندي کړی دی.دغه راز«درې» شخصي موټران یې سوځولي دي.نوربیا

مأخذونه :[بي بي سي راډیو ،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،روهي ویبپاڼه ،لراوبر= ،نن تکی اسیا=اوبینوا=]

که یو عسکر هم پاتې و....

بشیر

په وروستیو کې د تورپوستي امریکائي ولسمشر (اوباما) په حکم واشنګټن ته د کابل لاسپوځي رژیم دمشر کرزي له سفر سره هم مهال دافغانستان اسلامي امارت مشر تابه په یوه اعلامیه کې ګوت څنډنه وکړه ، که د کرزي اداري له امریکا سره دیوه امریکائي عسکر د پاته کېدو پر سر هم کومه معامله اوهوکړه وکړه ، نوپر ضدبه یې جهاد دوام ولري... دغسې شرمیدلې هوکړه یاتړون به افغان ولس ته،دحقوقي او قانوني پلوه کوم اعتبار نلري ، یواځې د کرزي او دامریکایانو ترمنځ شخصي معامله به وي چې افغانان به هغه هیڅکله قبوله نکړي،دتیر په څیر به یې په مقابل کې سپیڅلی جها روان وي ، په اعلامیه کې راغلې : که دهر څومره لنډې یا اوږدې مودې لپاره دامریکایي ښکېلاک لخواد عسکرو دپاته کولو بده اراده وي، اسلامي امارت به د جهادي دریځ اومسیر پر شانشي ،هم به په راتلونکې کې د ټولود بوږنوونکوپیښو اوبدوعواقبو مسؤلیت د کرزي دامریکایي رژیم په غاړه وي.

داسلامي امارت لخوا ددغه ګواښني خبر درسنیوله لارې هغه مهال خپور شو، چې رسنیو ددې هوکړي په اړه بېلابېل نظرونه اوتحلیلونه خپرول ، یوشمېر پردي پالو افغانانو تمه درلوده چې کرزی به خامخابیر ته له ځان سره د ۲۰۱۴ز وروسته افغانستان کې دزرګونو امریکایي پوځیانو دپاته کیدوپه باب دخپل آقاد فرمان راوړ وسرپیره به داځل دهغه (اوباما) په نویو مهربانیو اولورینو ډکې مونګلې راستون شي .

د کتونکو په وینا : د کابل دامریکایي رژیم دغه پردي پال چارواکي د کرزي سفر دبریاوو اولاسته راوړونو هغه مهال ناهیلې شول چې کله داسلامي امارت لخوا د تیزي او له قهر ه ډکې ګوت څنډنې له ډاره افغانستان کې د میشت امریکایي پوځیانو پر روحیاتو لړزان اوټکان رانشي دششپیني ماښې ویاند اړشو چې ووایي : داوباما حکومت له افغانستانه دټولو پوځیانو به ویستو هم غور وکړي !! له دې څخه وړاندې به امریکایانو په ښه شد اومد ویلې چې

د ۲۰۱۴ز وروسته به خامخا ددوئ یوشمېر عسکر په افغانستان کې پاته وي ! هیڅکله به دوئ له افغانستانه ټول پوځیان ونه باسي ! څنګه چې تېر کال اوباما دغله پشان په یوه نا اعلان شوي سفر افغانستان ته ددې لپاره راغلی و، څو خپلو عسکرو ته د جنګي روحیې ببنلو ترڅنګ دا رګ دننه ددایمي هدو جوړولو په باب خپل یو کرغېړن فرمان لاسلیک کړي، څو نړۍ ته څرګنده اوبښي چې امریکا افغانستان کې دپاتې کېدو کلک هوډلري او ترې دژر وتو اراده نلري.

خو اوباما هغه مهال ناهیلی شوی و، چې کله په بګرام کې د خپلو پوځیانو پریوتې مورالونه او لړزیدلې روحیات له نیږدې ولېدل اودغېنو جنرالانو جنګ ضد نیو کې یې واوریدې ، هغه وچې بیر ته چوپه خوله لاړ او دخبرې وینا پر مهال یې دا اعتراف کړی و: چې افغانستان کې ددوئ عسکر ستومانه شوي دي او هغوئ دلته نور نه غواړي چې له ټاکلې نیټې وروسته یوه ورځ هم نور تم شي ... له دې څخه علاوه په افغانستان کې د ستومانه امریکائي پوځیانو دکو کارو په اړه نور ګڼ شواهد هم لېدل شوي دي

اوس تازه دجنوري په یوولسمه واشنګټن کې اوباما دکرزي سره یو ځای خبرې کانفرانس ته وینا کوله په لومړي ځل هغه دخپل ولس په وړاندې اعتراف وکړ چې غواړي له طالبانو سره مذاکرات وکړي !اود دې لپاره قطر کې طالبانو خپل دفتر هم پرانیستی.

قطر کې چې د اسلامي امارت دفتر په ابتدائي حالت کې قرار لري ، دکتونکو له نظره د څه مودې راهیسې امریکایان علاقه ښیي چې داسلامي امارت سره دمخامخ خبرولپاره په نه زړه څني واقعیتونه اومني.

او اسلامي امارت هم منلې چې دامریکا متحده ایالاتو اونورو سره تنها دافهام او تفهیم په غرض یې دقطر هیواد په پلازمېنه دوحه کې دفتر جوړولوسره توافق ښودلی ، خو په دې لړ کې نور پر مختګ هغه مهال په ټپه ودرید چې کله دکندهار پنجوایي ولسوالۍ په زنګ اوات سیمه کې امریکایې یرغلګرو په ډېر زیات وحشت ګڼ ولسي وګړي ووژل

بل امریکایان له خپلو یوشمېر ژمنو په شاشول .اسلامي امارت احتجاجا له امریکا سره مذاکرت دڅه څند لپاره متوقف اعلان کړل...

دجنوري په یوولسمه اوباما دا هم وویل: چې دوئ غواړي په روان کال کې په تیزۍ ټولې امنیتي چارې دکرزي لاسپوځي رژیم پوځي ارګانونو ته وسپاري اوهم د عملیاتو مشرتوب دګوډاګي رژیم اردو ته وسپاري

خو د ۲۰۱۴ز وروسته ددوئ یوشمېر پوځیان افغانستان کې په دې شرط پاتې کړي چې هغوئ به له ټولو افغاني قوانینو اوارزښتونو مستثنی اومصوئینت ولري . له دې پر ته دوئ تیار ندي چې خپل پوځیان افغانستان کې پاتې کړي! په دې هر سړی پوهیږي چې امریکایي عسکرو ته قانوني مصوئینت اواستثناور کولو معنی دا ده چې دافغانانو دوژلو ،شکنجه کولو او ور ته دسپکاوي اړولو له امله به امریکایي پوځیان نه پوښتل کېږي ... نه به محاکمه کېږي ... ولې امریکایان غواړي په نړۍ اوپه خاصه توګه افغانانوباندې د خپل شیطاني نسل په اړه دبرترۍ او تفوق امریکا ئي جعلي ایډیا اومني .امریکایان دنورې نړۍ ازاد خلک له خپلو وګړو سره مساوي نه بولي اود غلامانو په کچه برخورد ورسره کوي او نه ور ته دازادو اوناپیپلیو هیوادو قوانین ،اخلاقیات اودودونه اعتبار لري . دډېرو کارپوهانو په اند: که دامریکا دغه بد نیت او اراده ومنل شوه ، دناپیپلي افغانستان راتلونکې به ترپوښتنې لاندې راولي !! له دې وجې اړ تیا ده چې داسلامي امارت دا دریځ که یوامریکا ئي یوعسکر هم پاتې و ... په وړاندې به یې جهاد اومقاومت روان وي به ستایلو اوشاباسي وبلو بدرګه شي....

ګلورینې پاڼې

د عرش لاره

عزت الله "مخلص"

سپیڅلی روح دې دشهید زره له پرهاره وځي
دمستو حورو بدرګې دی عرش ته لاره وځي

په سپین جبین یې دمعصومو وینو خال ایښی دی
څکه سپوږمۍ ، ستوري دحسن له مداره وځي

بیا کوم بلال دتورو شپو په غیږه کې چیغه وکړه
د تکبیر غږ سره اوږده شپه تر سهاره وځي

بیا څمکه رېږدي د نمرود دسرو لمبو له زوره
څوک بت شکن ابراهیمي دی له انګاره وځي

په کوم منصور پسې یې وکړه اقتدا دمینې
د دار په سر یې پاکه مینه له خماره وځي

داچې له هسکه ابابیلو پرې دبرې وار کړې
څوک ابرهه دی بیا له زور او له ګوزاره وځي

ته واچې داخو به مخلص عزت الله شهیدوي
چې رانه ستوري یې دمینې له مزاره وځي

غزل

طلامحمد محمدي

د چړو په څوکو یون کوي پور اخلي
میړني په غاړه کله پیغور اخلي

دمظلوم آهونه څي چې دعرش لور ته
ټول جهان به خامخا څېنې اور اخلي

څو بشکاره داز ادي مسیحا نه شي
دغازي زخمونه کله ټکور اخلي

دا خیرات نه ده نه کار ده دزاریو
یاران تللي آزادي به په زور اخلی

راوتلي شملور غیور قومونه
انتقام به له غلیمه دورور اخلي

محمدي دبم خوږ لی مرګی خوند کړي
جنازه به دې په جار او جور اخلي

لیونی جانان

عرفاني

رقیب لیونی شوی هم جانان لیونی شوی
هر څوک په کاڼو ولي ټول جهان لیونی شوی

حیران یم چې داولې یو تربل سره وژنې
چې هرې خواته ګورم هر انسان لیونی شوی

له پاسه دباران په ځای اورونه را اورېږي
هم ځمکه لیونی شوه هم آسمان لیونی شوی

منزل ته یې رواني ستړې ستړي قافلې وې
کاروان یې لوټ تالان کړلو ځاروان لیونی شوی

بلبل اوبوراګان خو یې ټول وشړل ګلشن نه
سپرلی لیونی شوی هم خزان لیونی شوی

بادونه دي سیلۍ دي تورې لړې راخورې دي
هر څه یې په مخه کړي دي توپان لیونی شوی

هر څه یې چې لیکلي عرفاني نه ګیله مه کړئ
قلم او کتابچه هم یې داستان لیونی شوی

دشهید غږ

عزیزالرحمن حبیبي

هیڅ خپه نه یم په دین شو مه اعدام
خو تېر نه شو مه ترمرګ له خپل مرام

زما په مرګ خوږو یارانو خپه نه شئ
ماته راکړو رب عزت او لوړ مقام

ماخو مال او سر دخدای لپاره ځار کړل
شکر شکر چې مې دین نه کړو بدنام

زما وینه به رنګ راوړي دهر په زغرده
شي حاکم به درب دین ښکلی اسلام

دښمنان ددین وطن ښه درمعلوم دي
پرې یې نه ږدئ رڼا ورځ کړئ پرې ماښام

له عبرت نه ډک درسونه ورته ورکړئ
چې یې حال له بد بدتر شي له ویتنام

دجهاد ګرم سنګر درنه سوړ نه شي
دښمن سترې دی نور تښتي شو ناکام

شهادت مې دخدای لارکې لوی ارمان وو
شو نصیب مې ابدي ژوند په ارام

سپینې حورې به مې ښکل کړي قدمونه
دکوثر دحوض اوبه به څښم په جام

اخري پیغام زما غازیانو دادی
یو په زر له غلیم واخلئ انتقام

(حبیبي)کفار به یو ژوندی لاړ نه شي
که ملت وکړي یو ځل ملي قیام

ځغلــو

عرفان الله

لکه یوسف په زولنو ک ي ځغلو — ګل سره دومره ډیره مینه لرو
مونږ دخلیل په څ ېړ لمبو ک ې ځغلو — په پیلو پښو پسې اغزو کې ځغلو

مونږ دوطن دازادۍ په تکل — دیو سپیځلی سپین سحر په خاطر
سبا بېګاه په تورو غرو دک ې ځغلو — په ترګمیو تورو شپو کې ځغلو

د تورو غشو او نیزو په جنګ ک ي — مجاهدین یو انقلاب راولو
په خال ي لاس په میدانو ک ې ځغلو — تل دجهاد په سنګرو کې ځغلو

دشهادت مرګی مو دومره خوښ دی — عرفاني مونږه غرني خلک یو
چې دبارودو واسکټو ک ې ځغلو — ځکه په دښتو او میرو کې ځغلو

د ازادۍ زیری

عاکف مهاجر

دعصر سلیمان ته ابابیل زیری راوړی
په سرو ټکو رنګین دازادۍ توری لیکلی

په ښهښته ده خزان له کلي تښتي په وتو ده
په دښتو خړو پړو سپین لباس ده غوړې دلی

له تاج د استشهاده یې یو ګل ورته دالۍ کړ
لیلا دازادۍ ته یې په سر کې ده تومبل ی

وحشي تورې کیږد ی له تورو غرونو پناه کیږي
سپ ېډې په چاودې دو دي دسحر کاروان راغلی

په توره کلیسا کې به نور سپین طالب اذان کړي
دسپین جومات مشعل په کلیساکې ځلې دلی

رسۍ داریانا باندې صلیب ترلی بند ده
په هره خوا رپیږي سپین هلال ده رپې دلی

عاکفه ! داسلام دهیبتي توري ګ وزارته !
ددرستې نړۍ کفر په میدان مرام بایللی

دتخار جهادي بهير ته لنډه کتنه

عبدالرؤف "حکمت"

پیژندنه

تخار ولایت دافغانستان په شمال ختیځ کې پروت دی چې ختیځ ته یې بدخشان، شمال ته یې دتاجکستان هیواد، لویدیځ ته یی کندز او بغلان ولایتونه او جنوب ته یې دبدخشان او پنجشیر ولایتونو مربوطات پراته دي.

په یوځای کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دعماربن یاسر (رضي الله عنه) په اړه وفرمایل: پخیر دې راشي، دا راتلونکی پخپله هم پاک اوهم پاک کړل شوی ،رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دعمار (رضي الله عنه) په تعریف کې ویلي:دا شخص دخپل فطرت ، فضایلو، اخلاقو اوعمل له پلوه پاک دی ، هم دخپل طبعي ساخت له پلوه او هم په دیني اعتبار پاکېزه شخص دی ، دالله (جل جلاله) په نزد یې لوړه مرتبه ده ، سملاسي ورته دراتلو اجازه ورکړئ، هم یې وویلي: دعمار (رضي الله عنه) دبدن هیڅ حصه له ایمان خالي نده....

دیادوني وړده چې ځنې اسلامي تاریخ پوهانو لیکلي : عماربن یاسر (رضي الله عنهما) اصلاً قحطاني الاصل وه ،دنوموړي پلار (یاسر رضي الله عنه) دخپل یوه ورک شوي ورور لټون پسې مکې ته راغی ، ورسره دوه نور ورونه یې حارث اومالک هم ول، حارث اومالک بېرته یمن ته لاړل ، اویاسر په مکه کې تم شو، او دابو حذیفه سره یې حلیفانه اړیکي ټېنګ کړل ، ابوحذیفه دخپلې وینځې سمیه بنت خیاط سره دهغه نکاح وکړه ، له هغې نه عمار پیداشو اودابو حذیفه سره ترمرګه له هغه سره اوسیدل ،دهغه دمړینې ور وسته کله چې الله (جل جلاله) اسلام راولیږ ، یاسر ، سمیه ،عمار اود ورور عبد الله بن یاسر په ګډون ټولو اسلام قبول کړ ، دعماربن یاسر یو بل ورور هم و ، هغه په عمر کې دعمار نه مشر و اودجاهلیت په

زمانه کې دبنو الدیل په لاسووژل شوی و (طبقات ابن سعد دریم ټوک ۱۷۶مخ)

په مکه کې چې دعمار بن یاسر خپله قبیله او کورنۍ نه وه چې دهغه ملاتړ یې کړی و، له دې وجې قریشو ور ته سخت اذیتونه ورکړل، عین په غرمه کې به یې د ګرمو شګو له بره څملا وه، اودومره به یې وواهه چې نوربه بیهوښ شو، کله به یې ورته په اوبو کې غوپې ورکولې او کله به یې داور په انګار څملاوه، په دې حالت کې کله به چې رسول الله (ﷺ) ورباندې تېر شو په سربه یې ورته لاس تېر کړ وبه یې فرمایل:

یانار کوني برداً وسلاماً علی عمار کما کنت علی ابراهیم

اوره په عمارباندې هغسې یخ او سلامتیا شه څنګه چې په ابراهیم (علیه السلام) باندې شوی وې (ابن سعد دریم ټوک ۱۷۷مخ)

رسو ل الله (ﷺ) به چې عمار، دهغه پلار (یاسر) اومورېې (سمیه) په اذیتونو کې مبتلی ولېدل وبه یې فرمایل: دیاسر اولاده! صبر کوئ کله به یې فرمایلې: یاالله! دیاسر اولادته ببښنه وکړې، اویابه یې هغوئ ته وویل: خوشال شئ جنت تاسې غواړي! (ابن سعد ۳-۱۷۸)

له علي (رضی الله عنه) څخه روایت دی چې ما درسول الله (ﷺ) څخه اوریدلي:

عمار له سره نیولي ترپښو له ایمان څخه ډک دی (ترمذی، اصابه)

عمار (رضی الله عنه) یو ځل خپل مبارک ملا وایست، په شایې خلکو تور داغونه ولیدل، ترې وې وپوښتل دا په څه؟ نوموړي وویلې: دمکې قریشو به په ګرمو شګو څملولم! دا هغه داغونه دي(ابن سعد ۱۷۷مخ)

علامه ابن سعد په صحیح سند نقل کړي دي چې په اسلام کې ترټولو لومړی شهیده میرمن حضرت سمیه وه، څوک چې نهایتي کمزورې او بوډۍ وه، ابوجهل چې کله بدر کې ووژل شو، رسول الله (ﷺ) عمار ته مخاطب شو وې فرمایلې:

قتل الله قاتل أمک

الله (جل جلاله) ستا دمور قاتل هلاک کړ، اوحضرت یاسر په همدې سختیو کې دحضرت سمیه (رضی الله عنها) څخه وړاندې وفات شوی و (ژباړن)

مجاهد وائي: ترټولو وړاندې لاندې اوو تنو ایمان ښکاره کړ:

۱. رسول الله (ﷺ) ۲. ابوبکر صدیق (رضی الله عنه) ۳. بلال (رضی الله عنه) ۴. خباب (رضی الله عنه) ۵. صهیب (رضی الله عنه) ٦. عمار (رضی الله عنه) ۷. سمیه (رضی الله عنها)

بلال حبشي (رضی الله عنه)

یوه شاعر دبلال بن عبد الله په مدح کې ویلې و: "بلالُ بن عبدالله خیرُ بلال" یعني بلال بن عبد الله غوره بلال دی! کله چې عبدالله بن عمر (رضی الله عنهما) واورید: ژر یې وویلې: دا دروغ دی، یعني شاعره ته دروغ وا یی ولې حقیقت: "بَل بلالُ رسول الله خیرُ بلالِ" درسول الله خادم بلال ترټولو غوره بلال دی.

نوموړی په نسل حبشي و، دپلار نوم یې رباح، اومور یې حمامه نومیده، دامیه بن خلف غلام و، په تکنده غرمه کې به د ګرمو شګو له بره څملاوه اوخپلو نورودرې غلامانو ته به ئې حکم وکړ: چې له بره ورباندې درنه تیګه واړوئ، څو ونه ښوري. اوبیا یې ورته ویل:

هم داسې به مړ شې که نجات غواړې نو دمحمد (ﷺ) څخه انکار وکړه، اودلات اوعزی عبادت وکړه. خودغه مهال هم دبلال له ژبې داحد، أحد غږ پورته کېد، کله به یې دغوایي په پوستکي کې تاو کړ، اوکله به یې داوسپنې زغره ور واغوسته په تکنده غرمه به یې وغورځاوه، په دې حالت کې به هم دنوموړي (رضی الله عنه) له خولې داحد احد اواز خوت. (دابن سعد طبقات ۳ټوک ۲۷،۲٦مخ)

امیه لېدل چې دبلال په عزم او استقلال کې تزلزل نه راځي، په غاړه کې یې ورته رسۍ واچوله اوپه ټول ښار کې یې

رښکه ، بیا هم دبلال له ژبې داحد، احد پرته بل اواز نه وت (دابن سعد طبقات ۳ټوک ۲۷مخ)

په دې توګه بلال (ﷺ) دظلمونو اوستمونو ښکار و، ابوبکر صدیق (ﷺ) په لار روان و ددې منظر پر لیدو یې زړه ډک شو، امیه ته یې مخ واړو :الا تتقی الله فِي هَذ المَسکن حتی متی انتَ !

ته ددې مسکین په باره کې له خدای (ﷻ) څخه نه داریږې اخر ته دا ظلم ترڅو کوې ، امیه وویل : تا خراب کړی دی ، اوس یې هم ته وژغوره ، ابوبکر صدیق(ﷺ) وویل :

ښه ده له ما سره یو غلام دی ، هغه ډېر قوي هم دی ، هم ستا په دین کلک ولاړ دی ، هغه ته واخله ، په عوض کې یې بلال ماته راکړه !

امیه وویل : ماته قبول دی ، ابوبکر صدیق(ﷺ) له امیه څخه بلال واخیست اوازادیې کړ (دابن هشام سیرت ۱ټوک ۱۰۹مخ)ژباړن

دنوموړي (ﷺ) دومره لویه مرتبه ده چې ټونو اکابرو سلفو په سیدنا بلال بللی ، اوهم یې دالله (ﷻ) په نزد دومره لویه مرتبه وه چې رسول الله (ﷺ) یو ځل وفرمایل :بلاله ! زه چې کله دجنت کتلو ته لاړم هلته مې ستا دڅپلیو کښ ترغوږ شو، تا کوم داسې عمل کړی ، چې دومره لوړه مرتبه دې موندلې ؟ ، ؟ بلال (ﷺ) وویل :ما بل هیڅ عمل ندی کړی البته هر کله چې اودس وکړم نوستا دفرمان سره سم دوه رکعته "تحیة الوضو" هم کوم ، رسول الله (ﷺ)وفرمایل :بېشکه ته خپل دې عمل دغه مقام ته رسولی یې ، ښکاره ده چې نفلي عملونه تل کول ګران دي ، ولې کله سړی په سفر وي ، کله ناروغ وي ، کله په کاروکسب لګیا وي او کله نور مصروفیتونه وي ، ددې سربېره نفلي عملونه په کلکه سرته رسول ، ډېر لوی عمل دی ، چې له امله یې بلال (ﷺ) ته دامرتبه په برخه شوه ، په ژوندانه یې دڅپلیو کښ رسول الله (ﷺ) په جنت کې وارید ، ددې نه بله لویه مرتبه څه کېدای شي ؟ نوموړی ۲۰م کال دهجرت وفات شو

عبد الله بن عباس (ﷺ)

عبد الله بن عباس (ﷺ) درسول الله (ﷺ) دتره ځوی و ، ځوک چې په کشرانو صحابه وو(ﷺ) کې شماردی ، نوموړی خپله اوپلار یې دواړه دلوړي درجې صحابه دي ، په فضیلت کې یې ګڼ روایتونه راغلي ، کله چې رسول الله (ﷺ) له نړۍ رحلت کاو نوموړی لس کلن یا په یو روایت دېارلس کلن و.

امام احمد (ﷺ) دهغه نیږدې څوارلس سوه روایتونه نقل کړي ، چې په هغو کې ځنې بې وسطې اوځنې په واسطه دي ، یعني ځنې روایتونه نوموړي مخامخ د رسول الله (ﷺ) د مبارکې ژبې اوریدلي ، اوځنې یې بیا له نورو صحابه (ﷺ) څخه په اوریدو نقل کړي دي

کنیت یې ابو العباس دی ، له هجرت څخه درې کاله مخکې په مکه مکرمه کې زیږیدلی و اوپه ۶۸ کال دهجرت په طایف کې وفات شوی دی

ورته دا ستر شرف هم په برخه شوی چې حجة الوداع ته په داسې حال کې لاړ دی چې په سورلۍ درسول الله ﷺ ترشا ناست و ،.

عبدالله بن عباس ﷺ دعظیم الشان قرآن ستر مفسر اوعالم و ، ورته رسول الله (ﷺ) دا دعا کړي وه : اللهمّ علمه الکتاب اَللّمّ فَقه فی الدین یا الله دې ماشوم ته کتاب وښیې ورته په دین پوهه ورکړې .

الله (ﷻ) دادعا قبوله کړه تردې چې دعبد الله بن مسعود(ﷺ) په څېر ستر مفسر به یې په اړه ویلې : نعم ترجمان القرآن عبد الله بن العباس یعني عبد الله بن عباس دقرآن ښه ترجمان دی

نوموړی ته سید المفسرین ویل شوي ، څو چې ژوندی و خلکوته یې تفسیر ښود ، لویو لویو صحابه وو (ﷺ) به په تفسیر کې نوموړي ته رجوع کوله ، ولې په تفسیر کې ورته داسې ځانګړې ملکه په برخه وه چې په صحابه وو کې بل چاته نه وه په برخه ، په تابعینو کې مجاهد(ﷺ) پشان خلکو ترې نیږدې دېر ش ځله دعظیم الشان قرآن تفسیر ویلی.

نهايتي زيرک اوژر پوهيدونکي و، زياتره وخت به درسول الله (ﷺ) سره و ،ولې تروريې (ميمونه رضي الله عنها) په امهات المؤمنين کې وه ، درسول الله (ﷺ) په کور کې داستوګنې کولو له امله يې درسول الله (ﷺ) کره وره ښه پيژندلې وه ، دعلی (رضي الله عنه) په خلافت کې څه موده دکوفې والي و، خوله دې کار سره يې ډېره علاقمندي نه وه ، له دې وجې يې پريښود ، بيا ترپايه په طايف کې ميشت و ، او دقرآن اوسنت په تدريس بوخت و ، په دغه وخت کې په زرګونو خلکو ترې علمي استفاده کړي اوقبريې هم په طايف کې دی .

طايف کې په نوم يې يو پخوانی مسجد هم شته ،اوس دهغه مسجد په مخکې دسعودي عربستان حکومت يو لوی مسجد جوړ کړی دی ، خو پخوانې مسجد کې هم خلک لمونځونه کوي ، ولې چې هغه په پخوانې شکل پاتې دی ، اوقبريې هم دمسجد دديوال سره پيوست دی له بره ورباندې ګنبد جوړ شوی، چې دتر کانو له وخت يادګاردی ،البته اوس قلف دی ، څوک دننه ورتلوته نه پريښودل کيږي ، تردې چې دحکومت لخوا هلته دديوال ترڅنګ ناستې ته هم څوک نه پريږدي ، زه اومولوي اجمل خان هلته لاړيو، دديوال ترڅنګ کيناستو غوښتل مودعظيم الشان قرآن يوه سيپاره تلاوت وکړو خو شرطه راغله مونږ يې پرينښودو، که مونږ هرڅوهغوئ ته وويل چې مونږ کفر اوشرک کوونکې نه يو، خو هغوئ ونه منله له دې وجې به مسجد کې کيناستو.

په طايف کې مونږځنې نورزيارتونه هم وليدل خوداچې هلته راته کوم دباور وړ لارښود کتاب په لاس رانغی نوپه اړه يې ثقه معلومات نه و ،زمونږ موټر چلونکي وويل: چې داهغه ځای دی چيري چې دميږيانو کلي و، اوبيا دسليمان (عليه السلام) تخت ښکته شوی و ، يو کوچنی کور و يکې دانګور وتاک هم و، ترڅنګ يې يو ميدان و، موټر چلوونکي ويلې : دلته دسليمان (عليه السلام) تخت ښکته شوی ، خو خدای ښه پوهيږي!

مونږ دعلی (رضي الله عنه) مسجد ته هم لاړ و ، د"قرن ثعلب " هغه ځای موهم وکوت ،چيرې چې رسول الله (ﷺ) په وينو رنګ پريوتی و، حقيقت دادی چې دپاکستانيانو اونورو د مشرکانه حرکتونو په وجه دحکومت چارواکي دداسې ځايونو ليدوته څوک نيږدې نه وړپريږدي ، هغه څوک چې په ورتلو اصرار کوي هغه ته کنځل اوسپکې سپورې کوي رُح هندی ،باکستانی مشرک وغيره وغيره



ملاعلی قاری (رحمه الله) په جمع الوسائل کې ۲توک په ۲۳۳مخ ليکلي چې عبد الله بن عباس (رضي الله عنهما) درسول الله (ﷺ) درحلت وروسته يو وار ديوې أم المؤمنين کره لاړ ، له هغې سره درسول الله (ﷺ) دکتو يوه هنداره پاته وه ، کومه چې هغې دتبر ک په توګه ساتلې وه ، هغه يې عبد الله بن عباس (رضي الله عنهما) ته وښوده ، کله چې نوموړي په هغه کې وکتل دځپل شکل په ځای ورته درسول الله (ﷺ) شکل ښکاره شو چې دا يا درسول الله (ﷺ) معجزه اويا دعبد الله بن عباس کرامت کيدای شي

والله اعلم

.... رحیمي ....

د روانې پېړۍ لوی شکست !!

دپخواني شوروي اتحاد،یو پخواني ولسمشر میخایل
گورباچوف پر افغانستان دشوروي اتحاد لخوا یرغل دتېرې پیړۍ
ترټولویه تاریخي تېروتنه او اشتباه گڼي، ددې ترڅنګ هغه ویلې
:اوس دپخواني شوروي دغه تاریخي تېروتنه اواشتباه افغانستان کې
امریکا او ائتلافي هیوادونه تکراروي . دګورباچوپ په وینا: که
امریکا او ائتلافیون خپل مخ له افغانستان ونه ګرځوي انجام او حشر
به یې هغه وي کوم چې دشوروي اتحاد په نصیب شو!!

دګورباچوپ پورته دریځ ته ورته داسترلیا ددفاع
وزیر هم اعتراف کړی ، چې دویت نام د جنګ وروسته لومړی
ځل دی چې دامریکا په مشری نړیوال ځواکونه افغانستان کې
ددې پیړۍ دلوی شکست سره مخ دي !!

دهغه څرګندونو ته په پام ویلای شو چې دلته دصلیبي یرغلګرو
ورځي اوشپې په شماردي اونېږدې دو اووني وړاندې دامریکا پوځ هم
اومنله چې په تیر ۲۰۱۲ کال کې دامریکا دپوځ دننه دځان وژنې سلنه
ترلوړې کچې رسیدلې . دې دروان کې درې سوه نهه څلویښت پوځیانو
ځانونه وژلي، که څه هم خپلواک منابع دغه احصایه لوړه ښیې . دهغوئ
په څېړنه د تېر ۲۰۱۲ زکال په دوران کې یواځې افغانستان کې دامریکا له
شپږ سوه زیاتو پوځیانو ځان وژنې کړې دي ، خو په مجموع کې دامریکا
دپوځ لخوا ددغه پورته راپور خپریدل جوتوي چې دامریکا په پوځ دننه
دنه تم کېدونکې ډار او بزدلۍ خپسه ختلې، په زرګونو پوځیان یې ددې
په ځای چې هغوئ افغانستان ته راولیږل شي یا تر اوږدې مودې په
جنګ کې پاتې وي ځان وژل غوره ګڼي.

دروان ۲۰۱۳ زکال دفروری په ۲مه نیټه دامریکا پوځ په
یوبل راپور کې اومنله چې د ۱۹۹۹ زڅخه تر ۲۰۱۰ پورې دوران کې
دامریکا پوځ کې دځان وژنو په اړه شوي یوه څېړنه جوتوي چې
د ۲۰۰۷ زکال نه تر ۲۰۱۰ پورې منځ منځ کې دپوځیانو دځان وژنې
سلنه نهایتې لوړه شوې، چې پکې ٦۹ فیصده هغو پوځیانو ځانونه
وژلې چې دهغوئ عمرونه ترپنځوس کلنۍ اوښتې ...

دپوځي چارو کتونکي وایې : دومره لوړه سلنه او بیا
دپاخه عمر پوځیانو لخوا دځان وژنې فیصدي دامریکا دپوځ یو
ډارونکی تصویر وړاندې کوي !

امریکا هر څه لري خو ددې وژونکې وبا دمخنیوي درمل
نلرې ، دغه وجه ده چې دامریکا یې رژیم فکري حلقې یې له
مخنیوي څخه ناهیلې شوي ، او د داد جګړې هغه منفي اغیز او
وای روس دی ،چې په تیزۍ سره د امریکا په پوځ کې نو رهم
سرایت کوي .

دخبرې رسنیو له قوله : افغانستان کې د میشت
امریکایې عسکرو سلو کې اتیا دډار او بزدلۍ ښکاردي او په ډول
ذهني او رواني ناروغیو اخته دي ، دجګړې له نوم څخه نفرت
او کرکه لري

دتېرو یوولس کلو راهیسې چې امریکایانو کومه ناروا
جګړه پیل کړې ، دهغې پایله داده چې پخپله امریکایان ترې
نجات غواړي لوید پخوال شناندي مني :امریکا طالبان مات

نکړای شول !! ایتلافي هیوادونه هم دروان کال ترپایه خامخا خپل پوځونه ویستل غواړي ، په وروستیو کې تازه مثال یې دختیځې اروپا دبلغاریه دی چې له افغانستانه دخپلو زرو عسکرو په ویستل یې پیل کړ ی دکومولوی شمېر چې په هرات ولایت میشت دي .

نویه یواځې سر دامریکا لپاره ګرانه ده چې وجنګیګې ،ولې امریکایې عسکر ترنورو زیات له جنګه ستړي دي ، دهغوئ لوی شمېر دښمن سره دمخ کېدوپه ځای غوره بولي چې پخپله ځانونه ووژني .دامریکا دولت دتبلیغاتي پروپاګند له لارې هڅه کوي چې هغوئ ته ډاډ اومورال وبښي خوښکاره ده چې داسې به ترڅو کوي ؟ ، دي لړ کې دپوځونو دویستلو او د هغوئ دسرونو دآمان لپاره ځنې فرمایشي غونډې اوجریانونه یې هم پیل کړي دي، څو په دې د خپلو مورال بایللوعسکرو روحیات قوي کړي چې دادی دېر ژر روان جنګ پای ته رسیدونکی دی ، اود ۲۰۱۴ز وروسته به هغوئ په هیڅ یوه جنګ کې ښکېل نه وي.

په کابل کې دعلماوو په نامه دیوي فرمایشي غونډې جوړولو موخه هم داوه، څو له علماوو مرسته وغواړي، د هغوئ نه خپل یرغل ته دمشروعیت سند ترلاسه کړي ، چې په مقابل کې یې اسلامي امارت داسلامي نړۍ له علماوو په خاصه توګه دنړۍ ددوه لویو جامعو "دارالعلوم دیوبند "او "جامعة الازهر "له علماوو وغوښتل چې هغوئ باید دامریکایي اشغال ترسیوري لاندې جوړیدونکې کانفرانس کې له ګډون ډډه وکړي ... چې په دې سره دعلماوو دکانفرانس بللو دسیسه هم شنډه شوه او داسلامي نړۍ غیور دیني علماء تیارنشول چې دامریکایي بیرغ لاندې په جوړیدونکې غونډه کې د ګډون سره توافق وښیې

امریکایان ددې لپاره چې دخپلې ماتې غږ له عام افغان مسلمان ولس واخلي غواړي دسمیزو پولیسو په نامه غواړي بې موره اوبې پلاره لوچکان اکمال کړي ، څو د دوستمي ګیلم جم ملیشې تیرې ترخې ناخوالې بیا تکرار کړي

دکتونکوپه اند :ددې ټولو هڅواوسر ګردانیو باوجود امریکا روان جنګ بایللی ، یواځې دومره پاته ده چې رسماً خپل شکست تسلیم کړي داوباما دملي امنیت په چارو کې سلا کار هم اوباماته له افغان جنګ دلاس اخستو سلا ورکړي. ولې هغه ته جوته ده چې امریکا هرڅومره جنګ ته طول ورکوي په ستونزو اومشکلاتو کې زیاتوالی راځي اوهم په وړاندې یې دافغانانو نفرت اوکرکه اضافه کیږي .

اسلامي هيوادوكې

پنځمه برخه.................

داسلاميت او مغربيت ترمنځ کشمکش!

دګوښه توب اوبېلتون خوښونې پايلې!

لیکوال: داسلامي نړۍ مفکرعالم مولانا سيد ابوالحسن علی "ندوي"رح - ژباړه: ابوظهير

په اسلامي هيوادو کې دپاڅون او انقلاب اصلي لامل:

سهې دينې شعور چې داسلامي زده کړې اوروزنې زېږند ه دی، په دغسې حالاتوکې د اصلاح او دپه زړپوري اوښتون رواستو لپاره بشپړ او ضامن و؛ خو له بده مرغه چې هغه (هلته) دا ځواک له لاسه ورکړ، بل لورته دلويديځ ماده پرست تهذيب په مبالغه او لوړ آهنګ سره دازادۍ اومساوات ناره وهله، دپخواني ژونددود او چاپېريال په بشپړ بدلون پسې وه (که هغه هرڅول و) ددې په نتيجه کې پر ټولنه يو ه عمومي ناکراري اوبدرنګي خوره شوه او پر خلاف يې دزړو دننه دنفرت، کراهت، اوبغاوت توردا غ پيدا شو، له انجام او پايلو څخه قطع نظر دا اور دومره خور او تيت شو چې په اسلامي هيوادو کې هره ورځ څومره پوځي انقلابونه او پاڅونونه کېږي دهغو ټولو اصل راز اوسبب هم دغه ناکرارۍ او بد رنګي ده..

په اسلامي هيوادو کې شايد د انقلابونو صلاحيت د نورو هيوادو په مقايسه څکه ډېروي، چې هلته (اسلامي هيوادو کې) دزرګونو کمزورتياوو باوجود ددينې شعور جذبه هر وخت شتون لري، وخت په وخت د حالاتو د ا صلاح زيارته وګړي هڅوي اوولسونه هم له شته حالت په سمه او نه سمه توګه خامخا ځانونه ويستل غواړي.

په هرصورت څو چې داسلامي نړۍ په هره برخه او هرهيواد کې بېرته پاتيوالی او کمزوري شتون ولري، څو چې داسلامي نړۍ په ځنو طبقوکې دغربت او افلاس دکچې دا حال وي چې لکونه خلک يو وخت ډوډۍ اودتن پټولو ټوټه نه مومي، څو چې يوه طبقه دجنون ترکچې دبې حسابه مال اودولت لاسته راوړو لپاره په مجرمانه احتکار، بې حياتوب اودخلکود شتمنيو په لوټ اوتالان لګيا وي، څو چې د چارواکيو اوشتمنو د تعيش، فسق وفجور اودافسوس وړ کېسو رنګين داستانونه هرځاى اوهرچېري دبحثونو راښکونکې موضوع وي، څو چې دناپوهۍ او بې سيوادۍ کچه دومره وي چې دوګړو لوی شمېر تري محروم وي، په ټوله سلامي نړۍ (چې زيات شمېر وګړي يې په ختيځ کې ميشت دي) يا په څه برخه کې هغسې حالت پاتې وي دکوم حالت ښه راښکونکې

انځورګېري چې دشلمې پېړۍ پيل کې دترکي يوه مشهوراود اسلامي فکرڅښتن شاعر، مفکراو اديب "محمد عاکف"کړي، بيا نود دغسې دردونکې حالت پر ضد جنګ ته دحساسو طبيعتونو تياريدل له قياس څخه لرې ندی، محمد عاکف پخپل نظم کې ويلې:

خلک له ما پوښتي چې تا تراوږدي مودې مشرق کې سياحت اوسفروکړ، هلته دې څه وليدل؟ نه پوهيږم چې هغوئ ته څه ووايم؟ ما هلته يو سرنه تر بل سروران ويجاړ کلې ليدلې، بې دفاع ولسونه، مات نړيدلې پلونه، بند کنالونه او کنډوکپر سرکونه لېدلې، ما په دوړو خړپړ، مخونه، کوپې ملاوي، خالي مغزونه، بې حسه زړونه او سرچپه عقلونه لېدلې، ما ظلم، غلامې، بدحالې، رياکاري، ډول ډول نفرت لېږدونکې ناروغی، لوپه شوي ځنګلونه، ساړه شوي انغرې، شاړې زمکې، زيړاوښتې رنګونه، شل لاسونه او ګوډې پښې لېدلې، ما بې جوماته امام لېدلی، وروړمې دورور دښمن لېدلی، داسې ورځې مې لېدلې چې هدف يې نه و، داسې شپې مې لېدلې چې سبا يې نه و....(په ترکيه کې دمشرق اومغرب کشمکش ۱۹۳مخ)

څو چې په دغو هيوادو کې ديني عالمان، او دملت مشران د خپلو ديني فرايضو له سرته رسولو څخه عاجز وي، دچارواکو اوشتمنو په وړاندې دحق کلمې ويلو جرئت نشي کولی، هغوئ دمنصبونو او دندوموندلو په کشمکش کې ښکېل وي، غير ضروري اختلافي مسايلو په سر جنګ ،جدال اوسيالې کوي، څو چې ددينې روژنې، زهدو تقوا، عزت و ابرو ،دديني اواخلاقي جرئت نمونې نه وي ځلاند، څو چې دمخالفو لوريو پرو پاګندونه ،مخالف خوځښتونه او نظرونه اسلامي ټولنې ته لکه غل ه په دروازه (اوکله علنې اوښکاره) ننوزي او داسلامي نړۍ دکور دننه دلاسوهنې موقع او چانس مومي، هلته له هغوئ سره اقتصادي، اخلاقي اوټولنيزحالت هيڅ مرسته نشي کولی، څو چې دا غير فطري او نا اسلامي حالت په اسلامي هيوادو کې پاته وي، ترهغه به د اخلاقي او سياسي انتشار ښکار وي ،دسياسي اوپوځي پاڅونوډګر ونه به وي ،دغه هيوادونه به لکه اتش فشان دغره په څو کو ولاړ اوهردم به يې د چاودون انديښنه وي.

ددې حالت درملنه!

ددغسې يوه حالت مخنيوی په پوځي ځواک ،تعزير ،سزا، احتساب او څار ناشونی دی اونه دورځپاڼو او راډيوګانو په پرو پاګند، نه په مال ودولت دزړونو اوضميرونو په پير، نه دشاندارو سفارتې غونډو او ددېندارو خلکو په خوشالولو، نه په هغو پلانونو، نړيوالو کانفرانسونو اوسيمينارونو چې وخت پر وخت دمخنيوي اعلانونه کوي، نه په محدودو اداروي اوديني نمايشونو د انقلاب اوبغاوت لارې تړل کېدای شي.

دمخنیوي یواځینۍ لار داده، چې حقایق او واقعیتونه په ښه زړورتیا ،ژورلرلېد ، اوپه سهې دیني روح او بصیرت باندې تحلیل کړای شي ،په هیواد کې د دیني ذده کړو سره یوځای دپراخ اوسالم او ښتون لپاره له زړو نه مخلصانه کوښښونه پیلول، دهغو څېزونو چې ازاله او بندول دهغو اړین وي ، مخنیوی کول ، د اصلاحاتو په راوستو او دضروري پلانونو په پیلولو کې نه ځنډ کول ، داسلام ، قرآن اودرسول الله (ﷺ) دسنت په رڼا کې د اسلامي اقدارو او حدودو سره سم په ټولنه کې مساوات او انصاف پلې کول ،دهیواد خلکو دخوشالۍ ،سوکالۍ او هوساینې لپاره ګړندي ګمونه اخستل ، لږترلږه دټولنې هروګړي ته دامکان تربریده دژوندارینې اړتیاوي ورکول، هغه بې ځایه اسراف اوله حده بیرون فضول خرچونه پای ته رسول ،کوم چې دټولنې اوهیواد والو دلومړیو اړتیاوو په وړاندې دځنډ لامل ګرځي ، په شتمنواو وس لرونکو کې ایثار ، له اړتیاوو څخه داضافه مال لګولو جذبه او په "یسئلونک ماذا ینفقون قل العفوّ " د بشپړعمل شوق او بې وزلو ته داستغناء ، خود دارۍ اودخپلو خولو تویولو ،زحمت ، محنت اوپه قابلیت سره دخپل ژوندانه اړتیاوو پوره کولو روحیه ورکول ، نوی تعلیمي نظام له سره داسې جوړول چې داسلامي عقایدو ، اصولو ، اودنوي عصر دتغیراتو ، علومو او وسائلو سره هم آهنګ وي ، او ددواړو غوښتنو دپوره کولوصلاحیت ولري، څویبو پلو نوي نسل ته دایمان ،یقین ، اخلاقي ځواک ، استقامت ، پر ځان باورلرلو ، خو د دارۍ اوپخپل دین د "غیر متزلزل" یقین اودهغه لپاره دقربانۍ اوسربښندنې جذبه وبښې اوبلخوا دایجاد ځواک ، فکري استقلال ، لوړ همتۍ او اولو العزمۍ په څېر عالي صفات هم ورکړي،څو په زړورتیا او ذهانت له مغرب سره دسیالۍ کولو وړ استعدادونه پیداشي.

له دې انتشار او بغاوت نه دخلاصون لپاره په عامو وګړو کې دیني روح ، ایماني او اخلاقي حس او اسلامي شعور بیدارولو ته اړتیا ده ، ددې ذهني انتشار ،بې زړتوب او بغاوت جراثیمو له منځه وړلو لپاره دهغود لاملونو او محرکاتو بشپړه ازاله اړینه ده ، دحالاتو دعمومي اصلاح اوپه سیرت اوکردار دواړو کې بدلون ته اړتیا ده، له لویدیځ څخه هغه څه اخستل، کوم چې داسلامي هیوادو اوټولنې لپاره ارزښتمن اود عقیدې سره یې سمون ولري ، له دې څخه علاوه هغه باید یو عملي او ایجابي افادیت هم ولرې، چې په ترلاسه کول یې هیواد اوقوم پیاوړی کېږي اود ژوندانه د جهودو ،سرپلورلو او الهي دعوت لپاره مرستندویه وي.

یوه لار:

په اسلامي ختیځ کې دامنیت راوستو لپاره دمسلمانو ولسونود عقیدې او د تلپاتې اسلامي ژوند لپاره له دې پرته بله لار نشته یا له دې څخه هم په زیات ښه علمي تعبیر: داسلامي دنیا لپاره اصلاً دیوه داسې ترقي خوښوونکې عادلانه اسلامي ټولنې جوړول ضروري دي، په کومه کې چې داسلامي ژونددود اصولو ته له عملي او کلتوري پلوه داظهار او ښودو بشپړ چانس په لاس ورشي....

(داتعبیر دمحمد اسد صاحب له کتاب اخستل شوی دی) ...... نوربیا

سفر کرزی برای پیمان استراتژیک یاتجدید پیمان بردگی؟؟!

بدخشانی

اینکه بار دیگر رئیس جمهور سمبولیک (کرزی)به دعوت باداران خود لبیک گفت، وبی صبرانه عازم کشور طاغوتی آمریکا گردید،تاکه رضایت وخشنودی فرعون زمان وآقای خود(بارک اوباما)را حاصل نموده وپیمان بردگی هرچه بیشتر خود ومتصدیان اداره مزدور را تجدید نماید.

همین است که هوا داران ودرباریون او بسیار به شوق تام در انتظار پزیرش بردگی به مقامات کاخ سفید، وامضای پیمان استراتژیک امنیتی میان این دو وعدم خروج ودوری لوث سربازان وحشی اشغالگر از کشور به سرمیبرند،وهمواره بطرق وراه های مختلف از آقایان خود مطالبه واستدعا دارند که با خروج نیروها وقوّت های نظامی خود مارا تنها نگذارید.

زیراکه قدرت وحکومت ما بدون موجودیت وحضور نظامی شما بقا نخواهد داشت.

بدون شک وتردید غلامان حلقه بگوش (غرب واتحادیون)آن دانسته اند که اگر عساکر متجاوز خارجی ها به سرکردگی آمریکا از این کشور بیرون شوند،هیچ گاه اردوی دست نشانده آنان توان مقابله با سر سپردگان راه حریّت وآزادی ،ومجاهدین غیور وبا شهامت امارت اسلامی را نخواهند داشت ونه هم دارند.

من بکمال اطمینان وباور میگوم این یک حقیقت انکار نا پزیر است که غلامان شکست خورده ومورال باخته هیچ گاه طاقت پیکار وروبا روی با غازیان دلیر اسلام را نه داشته ونه دارند،زیراکه این دست نشاندگان غرب با وجود معیت وهمرای اشغالگران سفاک وجنگ ابزارهای مدرن وپیش رفته آنان جرأت را از دست داده اند حتی که از هراس وبیم مجاهدان راه حق از پناه گاه ها وجاهای امن خود بیرون شده نمیتوانند پس شما خود قضاوت کنید که در صورت فرار اشغالگران چه خواهند کرد.

صدها افسوس بر حال بردگان خود فروخته !،که باداران شان در حال سرعت بخشیدن خورج نیروهای خود، وآنان در وادی تحیر وخود باختگی بسر می برند، ومدهوشانه فکر می کنند که چرا آقایان مارا تنها رها کردند ؟وچرا دیگر به فریاد ما گوش فرا نمیدهند؟

حقیقت امر اینست که آن دشمنان کینه توز اسلام ومسلمین به کدام اندیشه وفکری که به این دیار آمده بودند به هدف شوم شان نرسیدند بر عکس مورد ضربات کوبنده قهرمانان وفدایان پاکباز اسلام قرار گرفتند ،لذا مجبوراً فرار را به قرار ترجیح دادند واینک شرمسار ورسوا بیرون می شوند.

شهادت وگواهی روزنامه های غرب بر عدم مؤثریّت سفر کرزی به آمریکا.

باوجودیکه اجیران ورئیس سمبولیک آنان(کرزی)سفر اخیر او به ایالات متحده امریکا

را مثمر وامیدوار کننده ارزیابی می کنند.

اما بر عکس روزنامه های چاپ غرب این سفر کرزی به آمریکا را مؤثر نمیدانند.

نیویارک تایمز در این راستا چنین می نویسد :بارک اوباما رئیس جمهور ایالات متحده روز جمعه گفت، ایالات متحده امریکا به سوی ختم جنگ در افغانستان در حرکت است.

همچنان اوباما گفت: اولین گام اینست که نیروهای امریکای بسرعت هرچه بیشتر از افغانستان خارج شوند،تا که سپردن مسوولیت های امنیتی به نیروهای افغان از آنچه که قبل پیش بینی شده بود زود تر صورت بیگرد.

همینگونه روزنامه گاردین چاپ انگلستان در رابطه به مذاکرات بارک اوباما وکرزی می نویسد که سفر کرزی به واشنگتن خوش آیند نبوده واوباما هم بعد از مذاکرات طولانی در کنفرانس خبری روز جمعه حواس باخته معلوم می شد.

به باور من این همه نمایانگر عدم توافق،شکست وافتضاح شیطان جهانی و یاوران آن هست،وامریکا در وادی سرگردانی وتحیر قرار گرفته است،وبشکل یک انسان غرق شده در گرداب به هر چیز دست می اندازد که یک راه بینی خمیری جور کرده از این گرداب خود را بیرون کند.

به همین وجه اشغالگران با استفاده از آخرین حربه،به اداره دست نشانده خود فرمان داده است تا یک کنفرانس نام نهاد علماء را تشکیل داده راه برون رفت سیاسی ونظامی خود را از بحران وشکست مفتضحانه فعلی قانونیت ببخشند، انشاء الله به این هدف هم نخواهند رسید زیرا شکست ورسوای آنان به همه جهانیان ظاهر گردیده واین را پوشانیده نمیتوانند.

عملیات اخیر کابل هوشدار نوین

ومژده پیروزی مجاهدین !

..................عبدالرحمن درانی

جنگ و دیپلوماسي خواهر و برادر اند، یکی بدون دیگر ناقص میباشد ضرب المثل عربی است میگوید : (اذا اردت الصلح فاستعد للحرب) ترجمه : وقتیکه میخواستي صلح کني باید به جنگ آمده باشي، همین ضرب المثل در قضیه افغانستان صدق میکند و در همین مورد ضرب المثل عربی دیگری یک اصل دیگری را هم یاد آور میکند و میگوید (اذا اردت الحرب فاترک موضعاً للصلح)

ترجمه : وقتیکه میخواستی جنگ بکني موضع را براي صلح بگذار ، ازین دوضرب المثل معلوم میگردد که باید در وقت جنگ وصلح وهم دیپلوماسي متوجه بود که نه صلح بدون جنگ بمیان مي آید ونه هم جنگ بدون صلح و دیپلوماسي به نتیجه میرسد، مثلیکه یاد اور شدیم صلح و جنگ و دیپلوماسی با هم برادر و خواهر اند .

عملیات اخیر شهر کابل و بالخصوص چهار راهي صدارت و دهمزنگ هوشداري بود برای کسانیکه میخواستند مجاهدین را به بعضي مسایل مصروف نمایند ولی الحمد لله مجاهدین از همان روز اول گردهمایي صلح ودیالوگ متوجه بودند که شاید زیر کاسه نیم کاسه وجود داشته باشد، وخدانخواسته نشود که به اهداف علیاي جهاد و مقاومت مقدس خدشه وارد گردد ، فلهذا از وحله اول برادران مجاهد و همسنگر ما این خلائي بزرگ پر کرده بودند و نگذاشتند که دشمن صلیبی ازین راه قادر به نفاق انداختن در بین مجاهدین سربکف ما گردد، هم دیپلوماسی وهم عملیات استشهادی توام با هم به پیش میرفت و میرود ونتایج خوبی را در بر داشت در عملیات اخیر کابل که در شاهراه صدارت توسط چند تن استشهادي با ایمان ومجاهد صورت گرفت هدفش سرکوب نمودن یک مجموعه بزرگ مشاورین و افسران عالی رتبه صلیبی ها بوده که به فضل خداوند کریم بسیاری ایشان رهسپار جهنم گردیدند.

این عملیات آن افواهات و پروپاگند ها را زیر تاثیر آورد که لوی درستیز قوای ناتودر یک کنفرانس خبری گفته بود: دیگر مجاهدین مسلمان افغان توان عملیاتهای کوبنده را نخواهند داشت ودیگر اینکه آنها (مجاهدین) نسبت به جنگ وجهاد مایل به دیپلوماسي و اخذ امتیازات مادی اند.

ولی مجاهدین دین پرست و میهن دوست ما همواره همچو تبلیغات را رد نموده وآن را دسیسه دشمن صلیبی قرار داده اند، و تعهد سپرده اند که تا خروج اخرین عسکر قواي ناتو و صلیب مردانه وار

خواهند جنگید، الحمدالله صلیبیها دیگر توان ماندن را در کشور عزیز ومجاهد پرور افغانستان را ندارند و احتمال پیشتر آن میرود که قواي صلیبی پیش از حلول سال 2014 از افغانستان اخراج گردد ومجاهدین ما پیروزی بر صلیب را برای بار دووم و بعد از شکست امپراطوری سرخ شوروی در سرتاسر کشور ما افغانستان و به سطح جهان اسلام جشن گیرند ومصداق این قول الله جل جلاله شوند (ویومئذیفرح المؤمنون بنصر الله) .

ترجمه : در همین روز مؤمنان به نصرت الله جل جلاله خوشنود میشوند.

آری! مجاهدین سنگرنشین وطالبان راه الله جل جلاله پیروز شده اند وقت آن فرا رسیده که صفوف و قلوب خویش را هر چه زود تر متحد ساخته ونگذاریم شیطان ودشمن شیطان صفت بتواند در میان ره روان راه اسلام خدشه را وارد کنند وقوت وحدت ویکپارچگی ما را ضربه بزنند وبه اهداف شوم استعماری ایشان برسند، نخیر باید از امروز تدارک نمائیم که مسؤلیت ما در قبال ملت مسلمان افغان وامت اسلامی چی میباشد وچطور خواهیم توانست که احداث خونین وتاسف آور ماضی تکرار نگردد واحد من الناس نتواند وحدت عقیده ، فکر ، جهاد وحرکت ما را ضربه بزنند.

آری ! باتقدیم وتکریم و فداکاری میتوانیم این مشکل را هر چه زود تر حل نمائیم و در فکر آن باشیم که برادران و خواهران دیگر اسیر نظامهاي طاغوتی را چطور آزاد نمائیم آن روز دور نیست که ما و شما صاحب یک دولت کاملاً اسلامی ، متعهد، در کشور خود باشیم و برای مستضعفین جهان و بالخصوص جهان اسلام مصدر الهامی آزاد شویم .

حبیبي وردګ

ژوند دغیرت خوښو

مونږ دسبا په تمه نن دحریت خــــــوښــوو
ژوند دغیرت خوښوو مرګ دشهادت خـــوښوو

نه یو ده ړول اوسینګار اواتهونــــــــوزلمي
دتن په سروینو ځانونوته زینت خوښـــــوو

هره شیبه په یاالله اوالله هـــــــــوتیرو و
په رب دسترګو کې دیدار دمحبت خوښـــوو

ددنیاګۍ له هرمنصبه بې پروا یو مــــونږه
پاکه سپیڅلې زندګي تل دجنت خوښـــــوو

ببر سرونه لوڅې پښې ګردووهلې ځنــــــې
کانو اغزیو غرورغوکې خپل عزت خوښـــوو

دغلامۍ له تخت اوتاج اوبادشاهۍ ځینې مـونږ
په دارسرونه مرګ هردم اوهرساعت خوښوو

حبیبي واړه دسنګر اوده مورچــــل زلمي یو
تورې په لاس ټوپک په غاړه ننګ غیرت خوښوو

سلطان صلاح الدین ایوبی

مؤلف: سید ابوالحسن ندوی

ترجمه: عبدالقدوس دهقان

جنگ های صلیبی خطری جدید برای اسلام

پیوسته به گذشته ....

در گذشت سلطان

پس از این که سلطان مسئولیت مقدس خود را به نحو احسن به انجام رسانید و عالم اسلام را از خطر صلیبیان مصون ساخت. خداوند این فرزند رشید اسلام را در 27 صفر سال 589 هـ در حالی که 57 سال عمر داشت به سوی خود فرا خواند[1].

قاضی ابن شداد در باره در گذشت سلطان میگوید:

«شب چهارشنبه 27 صفر که دوازده روز از بیماری سلطان میگذشت. بیماری او شدت گرفت و بسیار ضعیف شد و از ابتدای شب علایم موت پدیدار بود، زنها تجمع کردند، من و قاضی فاضل و ابن الزکی فراخوانده شدیم. ملک افضل نیز آمد و به ما دستور داد تا نزد سلطان بمانیم، اما قاضی فاضل رأی او را نپذیرفت، زیرا مردم هر شب در دوازه قلعه منتظر ما میماندند. قاضی فاضل از آن بیم داشت که اگر در قلعه بمانیم در شهر شایعه میگردد که سلطان در گذشته است و چه بسا هرج و مرج و ناامنی به وجود آید. قاضی فاضل مصلحت را بر این دید که ما از قلعه فرود آییم و شیخ ابوجعفر امام «کلاسه» را که مردی صالح بود فرا خوانند تا شب در قلعه بماند. تا در لحظات اخیر نزد سلطان باشد و از تجمع زنان جلوگیری کند و سلطان را به شهادتین و یاد الله تلقین دهد، شیخ ابوجعفر را فراخواندند و ما نیز در حالی که هریک از ما آرزو داشت که به جای سلطان باشد از قلعه فرود آمدیم. سلطان/ در آن شب در حال احتضار و در آستانه سفر آخرت قرار داشت و شیخ ابوجعفر نزد او قرآن می خواند و او را به یاد خداوند تلقین مینمود. سلطان از شب نهم در حالت بیهوشی به سر میبرد و تنها لحظاتی اندک به هوش میآمد ...

«شیخ ابوجعفر برایم حکایت نمود که هنگامی که او به آیهٔ ﴿لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ﴾ رسید، سلطان تبسم نمود و چهره اش شاداب گشت و جان به جان آفرین تسلیم نمود». «سلطان/ صبح روز چهارشنبه 27 صفر سال 589 هـ از این دنیا رحلت نمود».

«روز بسیار سختی بود که عالم اسلام پس از آن که خلفای راشدین را از دست داده بود. تا آن هنگام چنان مصیبتی به خود ندیده بود، در آن روز قلعه و شهر بلکه دنیا را چنان وحشتی فرا گرفته بود که فقط خدا میداند. به خدا سوگند! من از بسیاری مردم شنیدم که آرزو میکردند که کاش به جای سلطان آنها می مردند. تا آن هنگام فکر میکردم که این سخن از نوعی اغراق و ادعا بیش نیست. اما در آن روز به یقین دانستم که اگر به جای او

(1)- علامه ابن کثیر تاریخ ولادت سلطان را سال 532 هـ ذکر کرده است.

فدیهای میپذیرفتند بسیاری از مردم وحتی شخص من آماده بودیم که به جای سلطان خود را فدا کنیم»(2).

قاضی ابن شداد میافزاید: «سلطان پس از خود اضافه بر 47 درهم ناصری و یک گرم طلا چیزی دیگر از قبیل ملک، خانه، زمین، باغ و مرزعه و یا چیزی دیگر به جا نگذاشت»(3). «تمام هزینه تجهیز و تکفین سلطان حتی پول کاهی که از آن کاهگل درست کردند و کفنی وی به قرض گرفته شده بود که قاضی فاضل آن را از جای حلالی تهیه کرده بود»(4).

سلطان پارسا

قاضی ابن شداد از سیره، اخلاق، عادات و ویژگیهای سلطان اینگونه سخن میگوید: «سلطان / دارای اعتقاد صحیح و همیشه در یاد الله بود، او عقیده اش را با دلیل و تحقیق و مباحثه از مشایخ اهل علم و فقهای بزرگ اخذ کرده بود».

«سلطان / بر نماز با جماعت بسیار مواضبت و پایبندی مینمود. حتی روزی اظهار داشت که چندین سال است که بدون جماعت نماز نخوانده است، حتی در ایام بیماری که توانرفتن به مسجد را نداشت، امام را فرا میخواند وبا زحمت فراوان پشت امام به نماز میایستاد ونمازش را با جماعت میخواند. وهرگز سنن رواتب را ترک نمیکرد، شبها بیدار میشد ونماز شب (تهجد) میگزارد، واگر شب موفق به نماز تهجد نمیشد بنابر مذهب امام شافعی قبل از نماز فجر به جای تهجد چندین رکعت نماز میخواند. حتی در بیماری آخر که به مرگ وی انجامید ایشان را دیدم که ایستاده نماز میگزارد وعلاوه از سه روزی که بیهوش بود، هرگز نماز را ترک نکرد».

سلطان / در طول عمر خویش سرمایهای که زکات برآن واجب گردد، ذخیره ننمود وهر مالی که به اومیرسید در راه خدا صدقه میکرد» (وحتی آنگونه که از ابن شداد نقل کردیم ایشان پس از خود هیچ ملک و سرمایهای به جا نگذاشتند).

«بر اثر بیماریهای متعدد سلطان درماه رمضان روزهٔ چندین روز از ایشان فوت شده بود و قاضی فاضل مسئولیت یادداشت این روزها را به عهده داشت وبا وجود این که روزه با طبیعت وی سازگار نبود، اما خداوند متعال به او چنان توفیق ونیرویی عنایت فرمود که روزههای فوتشده را قضا آورد، وچون که قاضی فاضل حضور نداشت من به جای او روزهایی را که سلطان روزه میگرفتند یادداشت مینمودم. طبیب او را در این مورد سرزنش میکرد، اما سلطان به توصیههای او گوش نمیداد و میگفت: من نمیدانم که در آینده چه خواهد شد (زنده میمانم یا خیر) گویا به او الهام شده بود که باید به سرای جاویدان و لقاء پروردگار بشتابد».

«سلطان / از دیر باز قصد حج را داشت و در سال آخر که به لقاءالله پیوست برای حج تصمیم قطعی گرفته بود ودستور داد که برای حج آماده باشند وچیزی دیگر برای حرکت نمانده بود، اما به دلایلی چون ضیق وقت وتهیدستی حج را برای سال آینده موکول نمود، اما تقدیر و خواست الهی چیزی دیگر بود».

«سلطان / به استماع قرانکریم علاقهٔ وافری داشت، وبه نگاهبانانی که شب نگاهبانی برج را بر عهده داشتند دستور میداد که چندین جزء از قرآن تلاوت کنند وایشان گوش میکرد. سلطان / فروتن ونرمدل بود وهنگام شنیدن آیات قرآن بیاختیار اشک از چشمانش سرازیر میشد ودربیشتر اوقات قلبش خاشع و چشمهایش اشکبار بود».

«سلطان / به شنیدن حدیث شوق ورغبت شدیدی داشت، وهرگاه از شیخی که حدیث روایت میکرد سراغی می یافت، اگر آن شیخ از کسانی بود که از حضور نزد سلطان ابایی نداشت او را به حضور میطلبید واز او حدیث میشنید وحدیث را به سمع اولاد ومممالیک خویش میرسانید، وهنگام سماع وحدیث به خاطر احترام حدیث به مردم دستور میداد که بنشینند. واگر آن شیخ از حضور به دربار سلاطین وامرا پرهیز میکرد سلطان / شخصا نزد وی میرفت واز او حدیث میشنید. سلطان / دوست

---

(2)- النوادر السلطانیه، ص249-250.

(3)- مرجع سابق، ص6.

(4)- مرجع سابق، ص251.

داشت که خود حدیث بخواند، در اوقات خلوت و فراغت مرا می طلبید و کتاب حدیثی نیز میآورد و میخواند، و هر گاه به حدیثی میرسید که عبرتی دربر داشت قلبش نرم میگشت واشک از چشمانش جاری میشد ».

«سلطان / به شعایر و مقدسات دینی بسیار تعظیم می نمود، به ملک ظاهر حاکم حلب دستور داد که جوانی را که سهروردی نام داشت و ملحد و معاند شریعت بود، اعدام کند».

«سلطان / به خداوند حسن ظن و امیدواری و بسیار اعتماد داشت و همیشه به دربار خداوند انابت و رجوع میکرد، در این مورد حکایتی از او بیاد دارم که اکنون آن را باز میگویم : «فرنگیان در «بیت نوبه» با فاصله چند مرحله از قدس شریف خیمه زده بودند، سلطان / در قدس بود وپیش قراولانی را فرستاده بود که تحرکات فرنگیان را زیر نظر بگیرند و به وی گزارش دهند، آنان خبر دادند که صلیبیان قصد محاصره و تصرف قدس رادارند، بیم وهراس همه جا رافرا گرفته بود، سلطان / امرا و فرماندهان را به حضور طلبید وآنان را از خطری که مسلمانان را تهدید میکرد آگاه نمود و در باره ماندن در قدس از آنان مشورت خواست، همه با اصرار گرفتند که مصلحت نیست که سلطان در شهر بماند، زیرا این نوعی به مخاطر هانداختن اسلام است، و همه اعلام آمادگی نمودند که حاضرند در شهر بمانند، و مشورت دادند که سلطان با جمعی از لشکر همانند موردی که در «عکه» پیش آمده بود، لشکر دشمن را تحت نظر داشته باشند و شهر راحفاظت نموده واز آن دفاع کنند، مجلس مشورت با موافقت بر این امر خاتمه یافت، اما سلطان بسیار اصرار داشت که خود آنجا بماند، زیرا میدانست که با عدم حضور او کسی برای ماندن آماده نخواهد شد، وچون فرماندهان به خانههایشان برگشتند، شخصی از آنان خبر آورد که آنان فقط در صورتی خواهند ماند که برادر سلطان ملک عادل ویا یکی از فرزندان سلطان با آنان باشد و فرماندهی آنان را به عهده گیرد، سلطان از این سخن متوجه شد که آنان قصد ماندن ندارند وبدین جهت بسیار اندوهگین شد و سخت به فکر فرو رفت».

«آن شب تا نزدیکی صبح من در کنار سلطان / ماندم، شب جمعه بود، در آن شب زمستانی و سرد من و سلطان / تنها به ترتیب امور مشغول بودیم، ایشان به نوعی یبوست مبتلا بود، دلم برایش به رحم آمد و میترسیدم که بیماری او بر او غلبه کند، از این رو به ایشان پیشنهاد کردم که اندکی استراحت کند، سلطان / به من گفت شاید که خودت را خواب گرفته و سپس برخاست من هم به طرف خانهام راه افتادم، همین که به منزل رسیدم و خواستم اندکی بخوابم مؤذن أذان گفت وسپیده دمید، من غالبا نماز صبح را با سلطان / می خواندم، نزداو برگشتم دیدم که وضو میگیرد، چون مرا دید گفت: لحظهای هم خواب نرفتم گفتم: این را میدانستم، گفت: از کجا فهمیدی؟! گفتم: چون خودم هم نخوابیدم، برای خواب که وقتی باقی نماند، نماز خواندیم و سپس مشغول شدیم، من گفتم: راه حلی به ذهنم خطور کرد و گمان میکنم که إن شاءالله مفید واقع شود، گفت: چه راه حلی؟ گفتم: رجوع و توجه به طرف خداوند در حل این مشکل باید به خداوند امیدوار بود، گفت: چکار بکنیم؟ گفتم: امروز جمعه است سرورم صبح غسل کند وهمانند عادت خویش در مسجدالاقصی جایی که حضرت پیامبر ص از آنجا به معراج برده شد نماز بخواند و مخفیانه مقداری مال صدقه کند و در میان اذان و اقامه دو رکعت نماز بخواند و در سجده برای حل این معضل دعا کند، در این باره حدیثی صحیح وجود دارد که دعا در این وقت پذیرفته می شود، و در دل اینگونه دعا پروردگار را اسباب مادی من از نصرت دین تو عاجز مانده است، جز توجه وچنگزدن به ریسمان تو و امیدواربودن به فضل ورحمتت راهی دیگر باقی نمانده است . پروردگارا تو برای من کافی هستی و تو بهترین وکیل و کارساز من هستی، خداوند باعظمتتر از این است که تو را ناامید بگرداند.

سلطان / بر مشورت من عمل نمود، حسب عادت هنگام نماز من کنار ایشان ایستاده بودم، ایشان میان اذان و اقامه دو رکعت نماز خواند و در سجده دیدم که اشکهایش بر سجاده می چکید، البته نمیدانستم که چه میگوید، هنوز آفتاب غروب نکرده بود که پیامی از «عزالدین جردیک» که فرماندهٔ شده اند و لشکریانشان امروز به صحرا رفتند و تا ظهر آنجا ماندند و سپس به خیمههایشان باز گشتند، و صبح شنبه پیامی دیگر با مضمونی

مشابه رسید و هنوز ظهر نشده بود که جاسوسی خبر آورد که آنها دچار اختلاف و تفرقه شده‌اند. وچون سپیدهٔ روز دوشنبه طلوع کرد مژده رسید که فرنگیان کوچ کرده و به رمله باز گشته‌اند».

فی الحال په سپینې ماڼۍ کې یو کتاب تر تالیف او جوړښت لاندې دی چې په هغه کې دبې پیلوټه الوتکو په وسیله دعملیاتو او قتل عام ونو دفاع شوې اوبې پیلوټه

دالقاعدې په نامه جګړه !

خبیر "مجاهد"

دامریکا تیر جګړه مار ولسمشر (جورج بوش) په عراق او افغانستان کې دالقاعده په نوم اورمز جنګ او پرغلونه پیل کړل، باراک اوباما په داسې حال کې چې ګمان وو په عراق او افغانستان کې دبوش جګړو ته به دپای ټکی کیږدي، که څه هم نمایشي اقدامات یې وکړل له عراق نه ډیرپوځونه وویستل او له افغانستان څخه یې د ۲۰۱۴کال په پیل کې دپوځیانو دویستلو اعلان کړی؛ خو په اصل کې اوباما ډیر تود جنګ ته متې بدوهلې او په مخفي شکل دالقاعدې په نوم اورمز دوام ورکوي، هغه په ګڼو هیوادونو کې اوورونه بل کړل، دافریقا له شمال څخه نیولې داسیا ترجنوب ختیځ پورې یوه منظمه جګړه پرمخ بیایي!

(5) النوادر السلطانیه ص6−10

الوتکې دالقاعدې په وړاندې دپیل شوې جنګ دترټولو کارنده او عصري جنګي وسیلې په نوم یادې شوې، په کتاب کې هوډښکاره شوی چې لدغې قاتلې ټکنالوجۍ نه به په هیڅ بیه نه پرشا کیږي او دنړۍ په هر کونج او کنار کې چې امریکا وغواړي ترڅو خپل دښمن نښه وګرځوي، نوډرون به ورتوغوي

همدا اوس دالقاعده دټکونې په نامه او پلمه په افریقا کې نوې جګړه پیل شوې لکه چې دبرتانیا رومبي وزیر څوورځې وړاندې وویل چې ممکن دغه جګړه لسیزې دربرونیسي!

دوه اونۍ وړاندې فرانسې دافریقا په یوه ګمنامه خو مهم هیواد کې (مالي) باندې پوځي عملیات پیل کړل، فرانسویانو ددې

لپاره چې وښيي پيل شوي عمليات
دافريقايانو دنجات لپاره دي اوهدف ترې
دافريقاخلکو ته مرستې رسول دي نودخپلې
جګړې نوم يې هم افريقايي انتخاب کړ، دغه
نوم دمالي هيوادپيونوعه وحشي ګيدړه چې د
(Serval) په نامه مشهوره ده

دمالي هيوادچې دافريقا په شمال کې
پروت دی له اقتصادي پلوه دنياته هيڅ اهميت
نلري ؛ له تيل لري اونه سرشاره طبعي
زيرمې لري ، خوځمکنی موقعيت يې
ډيرمهم اوپراخ دی چې دفرانسي دوه برابره
ځمکنۍ پراخي لري اوله ګنو نوروافريقايي
هيوادونوسره ګډې پولې لري ؛ په شمال کې
له الجزاير نيولې دعاج ترساحل پورې ، په
جنوب کې مورتاني سره په غرب کې
نايجيريااوپه شرق کې سره

له مالي سره په پوله پراته دغه هيوادونه
پراخې زيرمې اواقتصادي سرچينې
اوامکانات لري اوغرب ته نيږدې اواسانه
لارداده چې مالي ترخپل ګورت لاندې ولري
اوبياله طبعي زيرمو يادمالامال‌ه هيوادونه
مهاراوترخپل چغ لاندې يې وساتي !

مالي په کال ۱۹۶۰ کې له فرانسې څخه
مستقل هيوادوګرځيد، خوبيا کورنيو جګړو
،خودخواه رژيمونو، قحطيواواقتصادي ستونزو
سخت وځاپه اوله ډيروکلونوراهيسي هلته
دفرانسې په شمول غرب ته دلاسوهنې شرايط
برابرشول ، تيرکال په دغه هيوادکې
ديوشميروسلوالوډلوله لوري دکودتاناکامه هڅه
هم وشوه چې له هغه راورسته مالي
عملادجګړواوداخلي شخړوپه يولوی
مرکزواوريد

په تيرومياشتوکې وسلوالوډلوڅه
اړودوړپيل کړاودمالي يوشميرتاريخي
وداني يې ونړولې اوپه څوښاروڼويې سلطه
ټينګه کړه ، دغه ډلې که څه هم سريله وي اوهيڅ
مذهبي اواسلامي شعاريې نه درلود ؛خوغرب
دالقاعده ټاپه پرې ووهله اوتصميم يې ونيوه
ترڅو ددغوډلودله منځه وړلو لپاره بايدپه مالي
کې مداخله وشي اوپوځي عمليات پيل شي

حقيقت داده چې په مالي کې چې
اوس فرانسې اوغرب دچاپه مقابل کې جګړه پيل
کړې اودالقاعده په نامه يې نوموليي دهغوی
هيڅ تړاوله القاعده سره نشته ، بلکې هغه دوه
محلي وسلوالي اوجګړمارې ډلې دي چې
له ډيره وخته دقدرت دنيولوپه موخه دمالي له
واکمنورژيمونوسره په اخ ډوب لګياديي چې
يويې (انصارالدين اوبل يې موجائو)
نوميږي

هو! فرانسه اوغرب ديته اړتيااوضرورت
نلري چې دمالي هيوادوسلوالوډلو اصلي
څيره معلومه کړي چې په رښيتاهم له القاعده
سره تړاووااوهمغږي لري کنه ، بلکې دوی
ته صرف اوتشي پلمې کفايت کوي چې
مالي کې القاعده موجوده ده اوغرب ته ترې
خطره ده اوهسې هم القاعده اوس هغه نوم
اودجګړې پيلولورمزدی چې امريکااوغرب
يې دناولې جګړې لپاره متې تياري
رانغښتي دي اودهيوادونوداشغالولواو

شهامت دارالافتاء

مفتي ابو ياسر ....

آيا دامام اعظم صاحب رحمة الله تعالى عليه په باره كې كوم حديث يادفضيلة اثرشته اوكنه ؟

الاستفتاء- آيا دامام اعظم صاحب رحمة الله تعالى عليه په باره كې كوم حديث يادفضيلة اثرشته اوكنه ؟ حقمل كوټه

الجواب حامدا ومصليا وبعد : هودامام اعظم ابوحنيفة رحمه الله تعالى فضيلة ته په صحيح احاديثو اواثارو كې اشاري شوي ،همداراز دامام اعظم رحمه الله په هكله دامت دسترو ائمة ؤ ځخه ډير اقوال نقل شوي دي.

چې دالاندي يې ځو بيلګې دي:

قال ابن الحجر المكي رح الشافعي رح في خيرات الحسان في ترجمة ابي حنيفة النعمان ... ومما يصلح للاستدلال به على عظيم شأن أبي حنيفة ما روي عنه الصلاة والسلام أنه قال: (ترفع زينة الدنيا سنة خمسين ومائة [رواه البيهقي في كتاب الفتن ورواه ابويعلى في مسنده]) ومن ثم قال شمس الائمة الكردي: إن هذا الحديث محمول على أبي حنيفة، لانه مات تلك السنة اه.

ثم قال ؛وقال أيضا ؛وقد وردت أحاديث صحيحة تشير إلى فضله: منها قوله (ص) فيما رواه الشيخان عن أبي هريرة والطبراني عن ابن مسعود أن النبي(ص) قال: (لو كان الايمان عند الثريا لتناوله رجال من أبناء فارس

ورواه أبو نعيم عن أبي هريرة والشيرازي والطبراني عن قيس بمن سعد بن عبادة بلفظ أن النبي (ص) قال (لو كان العلم مطلقا عند الثريا لتناوله رجال من أبناء فارس

ولفظ الطبراني عن قيس (لا تناله العرب لنا له رجال من ابناء فارس

وفي رواية مسلم عن أبي هريرة (لو كان الايمان عند الثريا لذهب به رجل من أبناء فارس حتى يتناوله.

وفي رواية للشيخين عن أبي هريرة (والذي نفسي بيده لو كان الدين معلقا بالثريا لتناوله رجل من فارس) وليس المراد بفارس البلاد المعروفة: بل جنس من العجم وهم الفرس، لخبر الديلمي (خير

العجم فارس) وقد كان جد أبي حنيفة من فارس، على ما عليه الاكثرون.

قال الحافظ السيوطي: هذا الحديث الذي رواه الشيخان أصل صحيح يعتمد عليه في الاشارة لابي حنيفة، وهو متفق على صحته، وبه يستغني عما ذكره أصحاب المناقب ممن ليس له دراية في علم الحديث:... وفي حاشية الشبراملسي على المواهب عن العلامة الشامي تلميذ الحافظ السيوطي قال: ما جزم به شيخنا من أن أبا حنيفة هو المراد من هذا الحديث ظاهر لا شك فيه، لانه لم يبلغ من أبناء فارس في العلم مبلغه أحد اه.

وفيه ايضا ص\٢٠ وقدثبت ان ثابتا والد الامام ادرک الامام على ابن ابي طالب فدعاله ولذريته بالبركة ،

وقال ابن المبارک رح

لقدزان البلاد ومن عليها = امام المسلمين ابوحنيفة.

باحکام وآثاروفقه =کآيات الزبور على الصحيفة

وعن الربيع قال: سمعت الشافعي يقول: الناس عيال على أبي حنيفة في الفقه

وفيه ايضا ..فقال أحمد بن جنبل في حقه: إنه كان من العلم والورع والزهد وإيثار الاخرة بمحل لا يدركه أحد، ..

وقال عبد الله بن المبارک: ليس أحد أحق من أن يقتدى به من أبي حنيفة، لانه كان إماما تقيا نقيا ورعا عالما فقيها، كشف العلم كشفا لم يكشفه أحد ببصر وفهم وفطنة وتقي.

وقال الثوري لمن قال له جئت عند أبي حنيفة: لقد جئت من عند أعبد أهل الارض.

که امام په هیره بې اودسه دجماعت لمونځ ورکړ ؟

الاستفتاء : عمرو مقتديانو ته بې اودسه لمونځ ورکړ، يعني اودس بې هيرشوی ؤ اوس بايد څه وکړي ، هيله ده چې پوره ځواب راکړئ . المستفتي ندامحمد مخبط

الجواب حامدا ومصليا وبعد: عمرو به دغه لمونځ راګرزوي اوترڅوچې ممکن وي هغه خلګوته چې په ده پسې بې دغه لمونځ اداکړی وي دلمانځه دبيا راګرزولو خبر به ورکوي.

لمافي الهداية ١\٣٨۴ ومن اقتدى بامام ثم علم ان امامه محدث اعاد لقوله عليه السلام من ام قوما ثم ظهر انه كان محدثا اوجنبا اعادصلوته واعادوا الخ

وفي التبيين الحقائق١\١۴۴ ان ظهر ان امامه محدث اعاد لقوله عليه السلام اذا افسد صلوة الامام فسدت صلوة من خلفه وعن على رضى الله تعالى عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم انه صلى بهم ثم جاء ورأسه يقطر فاعادبهم ، ولان صلوتهم مبنية على صلوة الامام والبناء على الفاسد فاسد الخ

وفي البحر ١\٢۴١ وفي المجتبى، ولو أم قوما محدث أو جنب، ثم علم بعد التفرق يجب الإخبار بقدر الممكن بلسانه أو كتاب أو رسول على الأصح ، وفي خزانة الأكمل؛ لأنه سكت عن خطإ معفو عنه ، وعن الوبري يخبرهم ، وإن كان مختلفا فيه ونظيره إذا رأى غيره يتوضأ من ماء نجس أو على ثوبه نجاسة. اهـ

ومثله في مجمع الانهر ١\١٧٠ وردالمحتار ٢\٤١٠ وفتح القدير ١\٣٨٤

زمور دکلي خلګو دمسجدامام ته وويل چې ته ورژر ...

الاستفتاء - يوتن وايې :چې زمور دکلي خلګو امام ته وويل: چې ته ډيرژر سلام ګرزوې مور لادرود شريف نه وي ويلی ته سلام ګرزوي ملاصاحب ورته وويل:چې زه خودرود نه وايم ، تاسو يې هم مه واياست ،اودرود ويل خوضروري نه دي ، نواوس زمور امام صاحب داسې وايې تاسوڅه واياست ؟
المستفتي مولوي عبدالرحمن

الجواب حامدا ومصليا وبعد :په لمری اودوهمه قعده کې درود شريف ويل سنة دي ، که ملاصاحب دغه درود سنة ګڼي اودسستي له امله يې پريږدي نوګنهکار ګڼل کيږي ،خوله دي وروسته دي دغه سنت نه ايله کوي ،اوکه چېرې يې بياهم لمونځ صحيح نه کړي نوخلک دي ددغه امام په ځای بل يوداسې امام ودروي چې په لمانځه کې ټول سنت اداکوي

اوکه چيرې دغه امام بې ځي درود سنة اوحق نه ګڼل نوبيايې دکفر ويره ده اولمونځ پسې صحت نه لري.

في ردالمحتار ١\٥٠٤ من أنه لو ترك السنن فإن رآها حقا أثم، وإلا كفر، لانهم عللوه بأنه ترك استخفافا، كما عزاه في البحر إلى التجنيس والنوازل والمحيط،

وايضا فيه ٣٨٣ والصلوة على النبي صلى الله عليه وسلم سنة في الصلوة اى في قعود اخير مطلقا وكذافي قعود اول في النوافل غيرالرواتب الخ .ومثله في حلبي كبير ص\٣٧٢

په درس ترمذي ٢\٢٢٣ کې راغلي دي: دامام شافعي رح په نزد درود په قعده کې ويل فرض دي همداراز دامام اسحاق مذهب داده چې که قصدا درود ايله کړي لمونځ يې نه صحيح کيږي اوامام احمد رح هم دردودفرضيت قائل دی اونور جمهور علماء يې سنت ګڼي الخ

په پلاستيکي ناوکيانو دنجونو لوبي څرنګه دي ؟

الاسفتاء :دماشومو نجونو لپاره په پلاستيکي ناوکيانولوبي کول څرنګه دي ؟همداراز دهغوئ لپاره داډول ناوکياني اخستل څرنګه دي ؟

الجواب حامدا ومصليا وبعد:

دنجونو لپاره دځېرو اوتارونو څخه ناوکياني جوړول ځينو علماؤ جائز ګڼلي ،اودليل يې دام المؤمنين هغه حديث وړاندي کړی چې دهمدغه ناوکيانو يادونه په کې شوي ،

همداراز دوئ ويلي دي: چې په دي سره دنجونوپام دراتلونکي لپاره دکور امورو ، داولاد اونورو چال چلند ته وراړوي ، نوصحيح دي.

مګرځه علماء لکه علامه جوز ي اونور وايې چې دصديقي رض واقعه ترحرمت وړاندي وه اودغه ډول ناوکياني اوس روا نه دي.

لکن زمور زياتروعلماؤ لمړی قول ذکر کړی دی.

وپاته شو هغه ناوکياني چې په اوس وخت کې يې له پلاستيکي اونورو موادو څخه بلکل دانسان اودميرمنو په ډول جوړيږي نودا نږدي دټولو فقهاؤ

اوعلماؤ په نزد بُت گڼل کيږي ، لهذا ددغه ډول ناوکيانو په کوروکي نبودل ، دنجونو لپاره اخستل اونجونو ته دلوبو لپاره ورکول صحيح نه دي.

عن عائشة رضى الله تعالى عنها قالت : كنت ألعب بالبنات عند النبي صلى الله عليه وسلم وكان لي صواحب يلعبن معي ، فكان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا دخل يتقمعن منه فيسربهن إلي فيلعبن معي . رواه البخاري ،

وأخرج أبو داود والنسائي من وجه آخر عن عائشة رضي الله عنها قالت: قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم من غزوة تبوک أو خيبر فذكر الحديث في هتكه الستر الذي نصبته على بابها ، قالت : فكشف ناحية الستر على بنات لعائشة (لعب (فقال :(ما هذا يا عائشة ؟قالت : بناتي ، قالت : ورأى فيها فرسا مربوطا له جناحان فقال: ما هذا؟ قلت فرس ، قال : فرس له جناحان؟ قلت : ألم تسمع أنه كان لسليمان خيل لها أجنحة؟ فضحک.

وفي الموسوعة فقه العباداة الجزء ١٢٢\ ص ٢١فيُسْتَثْنَى مِمَّا يَحْرُمُ مِنْ الصُّوَرِ صُوَرُ لُعَبِ الْبَنَات فَإِنَّهَا لَا تَحْرُمُ, وَيَجُوزُ اسْتِصْنَاعُهَا وَصُنْعُهَا وَبَيْعُهَا وَشِرَاؤُهَا لَهُنَّ ; لِأَنَّهُنَّ يَتَدَرَّبْنَ بِذَلِکَ عَلَى رِعَايَةِ الْأَطْفَالِ , وَقَدْ {كَانَ لِعَائِشَةَ رضي الله تعالى عنها جَوَارٍ يُلَاعِبْنَهَا بِصُوَرِ الْبَنَاتِ الْمَصْنُوعَةِ مِنْ نَحْوِ خَشَبٍ , فَإِذَا رَأَيْنَ الرَّسُولَ صلى الله عليه وسلم يَسْتَحِينَ مِنْهُ وَيَتَقَمَّعْنَ ,الخ

وفي عمدة القاري ١٧٠\٢٢ قبيل باب مدارات مع الناس . وَاسْتدلّ بِهَذَا الحَدِيث على جَوَاز اتِّخَاذ صور اللّعب من أجل لعب الْبَنَات بِهن، وَخص ذَلِک من عُمُوم النَّهْي عَن اتِّخَاذ الصُّور، وَبِه جزم عِيَاض وَنَقله عَن الْجُمْهُور، وَأَنَّهُمْ أَجَازُوا بيع اللّعب للبنات لتدريبهن من صغرهن على أمر بُيُوتهنّ وأولادهن، قَالَ: ذهب بَعضهم إِلَى أنه مَنْسُوخ وَإِلَيْهِ مَال ابْن بطال، وَقد ترْجم لَهُ ابْن حبَان: الْإِبَاحَة لصغار النِّسَاء اللّعب باللعب، وترْجم لَهُ النَّسَائِيّ: إِبَاحَة الرجل لزوجته اللّعب بالبنات، وَلم يُقيد بالصغر وَفِيه نظر، وَجزم ابْن الْجَوْزِيّ بِأَن الرُّخْصَة لعَائِشَة فِي ذَلِک كَانَ قبل التَّحْرِيم، وَقَالَ الْمُنْذِرِيّ: إِن كَانَت اللّعب كالصورة فَهُوَ قبل التَّحْرِيم وَإِلَّا فقد يُسمى مَا لَيْسَ بِصُورَة لعبة، وَقَالَ الخطابيّ، فِي هَذَا الحَدِيث إِن اللّعب بالبنات لَيْسَ كالتلهي بِسَائِر الصُّور الَّتِي جَاءَ فِيهَا الْوَعيد، وَإِنَّمَا أرخص لعَائِشَة رَضِي الله عَنْهَا، فِيهَا لِأَنَّهَا إِذْ ذَاک كَانَت غير بَالغ.

وايضا فيه ٤٠\١٢

وفي تحفة الاحوذي ٤٤٥\١٤ باب وَبِهَذَا جَزَمَ الْحَلِيمِيُّ فَقَالَ : إِنْ كَانَتْ صُورَةٌ كَالْوَثَنِ لَمْ يَجُزْ وَإِلَّا جَازَ انْتَهَى.

قلت : قَوْلُ الْحَلِيمِيِّ هُوَ الْمُخْتَارُ عِنْدِي وَاَللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ. ومثله في فتح الباري ١١٧\